کابل پوهنتون

د ژبو او ادبیاتو پوهنځی

پښتو څانګه

# وږمه

علمي ـ څېړنیز ژورنال

درې میاشتنۍ خپرونه

د لوړو زده‌کړو په وزارت کې د ثبت ګڼه: RCTD-GNJR-0037-23





شپږشپېتم کال، پرله‌پسې ۱۲۸ ګڼه، دویمه دوره، ۱۴۰۲المریز اوړی، شپږمه ګڼه

وږمه شپږشپېتم کال، پرله‌پسې ۱۲۸ ګڼه، ۱۴۰۲المریز اوړی، شپږمه ګڼه

Wazhma Journal Vol. 128, No. 6, Summer 2023


# Wazhma Journal of Literature and Linguistics Researches


**A Print Published Research Journal of**

**Pashto Department of Faculty of Languages and Literature of**

**Kabul University**

Register No. in MOHE: (RCTD - GNJR -0037-23)



Futurism

Equivalence of Words in Source and Target Languages in Translation

Mythological Epic Arshak and Aoshas

Language Policy

Derwish and Candle

A Review of Dayɑb Dectionary

Orbəlakəi a Science-Fiction Novel

What Is Linguistics

Linguistic Researches in Ancient Greek

The Relation of Situational Context and Semantics

Poetry of Surgul Khazan



**Published by Kabul University Press** **web:** ku.edu.af

Email: wazhmajournal.ku@gmail.com

**Vol. 128, No. 6, Summer 2023**

# ورمه

علمي ـ څېړنيز ژورنال

## د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې درې میاشتنی علمي-څېړنیز ژورنال

(د لوړو زده‌کړو په وزارت کې ثبت ګڼه: RCTD - GNJR - ۰۰۳۷-۲۳)

(دویمه دوره)

شپږشپېتم کال، پرله‌پسې ۱۲۸ ګڼه، ۱۴۰۲ لمریز، اوړی، شپږمه ګڼه

**د امتیاز څښتن:** د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي پښتو څانګه

**مسوول مدیر:** پوهنمل عبدالسمیع وحدت، کابل پوهنتون

**مشر ایډیټر:** پوهنوال ډاکتر اجمل ښکلی، کابل پوهنتون

**لیکوال پلاوی:** پوهاند ډاکتر محمدرفیق رفیق، کابل پوهنتون

پوهاند ډاکتر یارمحمد یزال، کابل پوهنتون

پوهاند ډاکتر محمداسمعیل یون، کابل پوهنتون

پوهنوال ډاکتر محمدقسیم چمتو، کابل پوهنتون

پوهندوی ډاکټر رحیم‌الله ځیرک، کابل پوهنتون

پوهندوی احسان‌الله پامیر، پکتیا پوهنتون

پوهنمل محب الله ترابي، کابل پوهنتون

**کتنپلاوی:** پوهندوی اسدالله وحیدي

د پاڼو او پوښتې طراح: عبدالحق سلامزوی

ورمه ژورنال د ژبپوهنې او ادبیاتو مسایل او موضوعات خپروي. موخه یې د داسې علمي څېړنیزو لیکنو خپرول دي چې د ژبې، ژبپوهنې، ادبیاتو، لیکوالی، ژباړې او له دې څانګو سره د ګډڅانګیز او څوڅانګیز مېتود پر بنسټ تړاو ولري. د پښتو ژبې او ادبیاتو په اړه څېړنې پکې شوې وي، د پښتو ژبې او ادبیاتو د تاریخ اړخونه، ګرډودونه او نورې اړوندې برخې یې څېړلې وي. د دې ژبې د اوسنیو مسایلو، او په ژبپوهنه او ادبیاتو کې د نویو نظریو، لاسته‌راوړنو، موندنو او پرمختګونو په اړه څېړنې پکې رانغښتې وي. د ورمې مجلې لیکنې تر ډېره څېړنیزې دي.
له لیکوالو او څېړونکیو غواړو چې «د لیکنې لارښود» مواردو ته، چې د مجلې پر دویم مخ راغلي، پام وکړي، چې لیکنه یې د منلو په صورت کې ژر خپره شي.

چاپځی: د کابل پوهنتون مطبعه

ادرس: کابل پوهنتون، جمال مېنه، ۳ ناحیه، کابل – افغانستان، پوست‌کود: ۱۰۰۶

د ورمې مجلې د دفتر شمېره: ۰۰۸+۹۳۷۶۶۰۰۰۰

برېښنالیک: wazhmajournal.ku@gmail.com

وېبپاڼه: www.ku.edu.af

د دې ګڼې بیه: ۱۵۰ افغانۍ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## د ليکنو لړ


| | |
|---|---|
| فوتوريزم / اجمل ښکلی | ۱ |
| په ژباړه کې د مبدا او موخنې ژبې د کلمو تعادل/ اسدالله وحيدي او عبدالسميع وحدت | ۷ |
| د ارشاک او اوشاس اساطيري حماسه / محب‌الله ترابي او اسدالله وحيدي | ۲۱ |
| ژبنی سياست / شفيق‌الله اميرزی | ۳۹ |
| درويش او څراغ / گل‌رحمن رحماني | ۴۹ |
| درياب قاموس ته کتنه /عزت‌الله نورزی | ۶۵ |
| اوربلکۍ د ساينسفيکشن په تله کې /عبدالحق سلامزوی | ۷۳ |
| ژبپوهنه څه ده / محمدمصطفی سمون | ۸۳ |
| په لرغوني يونان کې ژبنۍ څېړنې /شاه‌محمود کهوال | ۹۱ |
| له موقعيتي قرينې سره د مانا تړاو /جانباز جرار | ۱۰۱ |
| ولسي شاعر سورگل خزان او د هغه شعر او شاعري /نصرت‌الله نصرت | ۱۱۳ |

# د ليکنې لارښود

- د اسلام له مبارک دين او افغاني فرهنګ سره په ټکر کې نه وي. د لوړو زده کړو وزارت د قوانينو، لايحو او مقررو له معيارونو سره برابرې وي. د رسنيو له قوانينو سره په ټکر کې نه وي. په بل ځای کې چاپ او خپره شوې نه وي. د ځانګې له غونډې پاس شوې وي او پروتوکول وي د پوهنځي او پوهنتون له خوا تاييد وي. (د لوړو زده‌کړو وزارت له لايحې سره سم) د ساحوي څېړنې څېړونکی يو، دوه او يا درې تنه او د کتابتوني علمي ليکنې څېړونکی يوازې يو تن وي. د ليکنې د مخونو شمېر بايد له ۵ تر۱۵ وي.
- عام فهمه وي، له اضافي خبرو پاکه وي او لوړه علمي منځپانګه ولري.
- ليکنه په مخکنيو څېړنو مستنده وي، ماخذونه يې ذکر شي، د امکان تر حده پکې له نويو ماخذونو څخه کار اخيستل شوی وي. ماخذونه بايد تر ٦ کم نه وي.
- څېړنيزې ليکنې بايد دا موارد ولري: په پښتو او انګليسي ژبو «د ليکنې عنوان، لنډيز، آر وييونه (۳ – ۵)، د څېړونکي نوم، تخلص، تحصيلي درجه او علمي رتبه، اړونده موسسه/پوهنتون»، بريښناليک، د تليفون شمېره. سريزه (د څېړنې مېتود، موخې)، اصل متن، مناقشه، پايله او اخځليکونه (APA).
- له نويو او نامأنوسو اصطلاح‌ګانو سره بهرني معادلونه يوازې يو ځل په غبرګو ليندیو کې راوړئ، له نااړينو بهرنيو معادلونو ډډه وکړئ.
- ژورنال هغه ليکنې په خلاص لاس سمولای شي، چې د سمونې اړتيا يې وي. نامنلې ليکنې بېرته نه ستنېږي.

**لنډيز**: په انګليسي ژبه لنډيز تر يوه مخ وانه‌وړي.

**ارجاع**: لومړی په ليکنه کې د ټولو ماخذونو که کتابونه، مقالې، د يوې ټولګې کوم فصل وي، د ليکوال د تخلص پر بنسټ په الفبايي سيستم وليکئ چې منابع (bibliography) تياري شي، د سرچينو برخې د لاندې نمونې سره سمې وليکئ:

Chomsky,N., ۱۹۵۷. *Syntactic Structures*. The hague, Mouton. (کتاب)

Gazdar, G., ۱۹۸۲. "on Notion of Relevance", in N.V. Smith(ed.)*Mutual Knowledge,* ۸۸-۱۰۰. New York, Academic Press.(د مقالو ټولګه)

Kendon. A., ۱۹۸۱a. Georgraphy of Gesture.... (د يوه ليکوال دوه کتابه)

_________, ۱۹۸۱ b. *Current Issues in Nonverbal Communication*. ...( د يوه ليکوال دوه کتابه)

Tollefson, J.,۱۹۸۳. "Language Policy and Meaning of Diglossia". *Word,* ۲۰: ۱۰-۱۵. (مجله)

کتاب:

دبير مقدم، محمد. (۱۳۹۵). زبانشناسی نظری، (ويراست سوم)، تهران: سمت.

هېمېنګوې، آرنېسټ. (۱۳۹۹)، *زوړ سړی او سيند*، (ژباړن: سعدالدين شپون)، (زيار او سمونه: اسحاق مومند)، (دويم چاپ)، کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي.

د يوه ليکوال څو آثار په يوه کال چاپ شوي:

لايق، سليمان. (۱۳۹۸الف)، *کېږدۍ*، (سمونه: سهيلا اصغري)، کابل: عازم خپرندويه ټولنه.

———. (۱۳۹۸ب)، *چونغر*، (سمونه: سهيلا اصغري)، کابل: عازم خپرندويه ټولنه.

د مقالو ټولګه:

حبيبي، عبدالحی. ۱۳٦۴. اشرف‌خان هجري د پښتو مقتدر قصيده سرا. د زلمي هېوادمل په زيار: *د هجري ياد*. ۱ -۷. د افغانستان د علومو اکاډيمي.

مجله:

شېراني، ضياءالاسلام. (۱۴۰۱)، «د سوېلي پښتونخوا ادب د تحقيقي مباحثو په رڼا کې»، *وږمه*، ۵ ګڼه: ۳۵ – ٦۲.

د مقالې په متن، په لمنليکونو کې، چې چېرته ارجاع لازمه وي، د لينديۍ دننه (د ليکوال تخلص، د چاپ کال او د مخ ګڼه) يې وليکئ: (Chomsky, ۱۹۵۷: ۳۸-۳٦)، (هېمېنګوې، ۲۰۱٦: ۲۸)، (Gazdar, ۱۹۸۲: ۲٦)، (حبيبي، ۱۳٦۴: ۳)، (Kendon, ۲۹۸۱ a: ۷٦)، (لايق ب، ۱۳۹۸: ۴۰)، (Tollefson, ۱۹۸۳)، (شېراني، ۱۴۰۱)، مقالې ته ارجاع کېږي، نو معمولاً د مخ ګڼه نه راوړل کېږي، بلکې د ليکوال تخلص او د چاپ کال (لکه Tollefson يا شېراني) راځي. که له داسې منابعو کار اخلو چې يوه ليکوال ټولې په يوه کال ليکلې دي نو (د Kendon يا لايق غونډې) له a، b يا الف، ب... توريو کار واخلئ. د مقالو نومونه او د خپرکيو مجموعه په ايټاليک نه ليکل کېږي، يوازې د کتاب او د مقالو د ټولې ټولګې نوم ايټاليک کېږي. په هر سرليک پسې نښتی لومړی پراګراف په خپل حال پاتېږي، د ورپسې پراګرافونو پيل يوه سانتي د متن د ننه خوا ته پيل کړئ.

د ليکنې د پای اخځليکونه بايد د لاندې کټګوريو په ترتيب راشي: کتاب، تيزېسونه (د ماستری او دوکتورا او يا تر هغې د لوړ)، پخپله د څېړونکي نور آثار، مجلې.

ماخذونه دوه ډوله دي، لاندې دواړه په يوه يوه بېلګه کې ښيو:

په متن کې دننه(حواله): په متن کې دننه ماخذ په دې ډول ښودل کېږي: (د ليکوال تخلص، د چاپ کال: د کتاب مخ). (هېمېنګوې، ۲۰۱٦: ۲۸). که نقل قول په لينديو کې ونيسو: «.......» (هېمېنګوې، ۲۰۱٦: ۲۸).

کوم ماخذونه چې دوه ځله يا درې‌ځله بياکتل او سم شوي دي، او په متن کې يې بدلون نه وي راغلی، لومړی چاپ يې د نورو ماخذونو غوندې نيسو خو ترڅنګ يې نوی اېډېشن په لويو لينديو کې نيسو، موږ د محمددبير مقدم د کتاب له دويم اېډېشن څخه کار اخلو، خو په لومړي اېډېشن کې هم دا جمله ورسره يوشان ده، لکه: (مقدم، ۱۳۸۳[۱۳۹۵]:۳۱۱).

## فوتوریزم

اجمل ښکلی[۱]

**لنډیز**

فوتوریزم  په انگلیسي کې futurism دی، چې د راتلونکې وییزه(لغوي) مانا لري. دا مکتب په ایټالیا کې رامنځته شو؛ خو په په فرانسه کې د په ۱۹۰۹ز کال په فیگاروی ورځپاڼه کې د بیانیې په خپراوي وپېژندل شو. بنسټگر یې امیلو فیلیپو توماس مارینتي نومېږي، چې پیروان یې د بشر راتلونکی هنر و ادب د همدې مکتب پر اصولو ولاړ بولي(کومکي، ۱۳۹۶: ۱۲۱).

فوتوریزم په شعر کې د احساساتو او تخیل پر ځای نوي او عصري ژوند ته لومړیتوب ورکړ، چې د ساینس له برکته یې وستایي.

دا مکتب تر ځو لسیزو ډېر ژوند و نه کړ؛ خو د ادبي مکتبونو په تاریخ کې ثبت شو، چې ځینو شاعرانو یې لار نیولې وه.

**آر وییونه**: فوتوریزم، فوتوریست، ادبیات

**سریزه**

تر منځنیو پېړیو وروسته د ساینس انکشاف د علم پر هره حوزه خپلې وزرې وغوړولې. دا اغیز په وروستیو څو پېړیو کې دومره ژور شو، چې ادبیات ترې هم پاتې نشول. په نولسمه پېړۍ کې ساینسي کیسې(ساینسفکشن) پیل شوې، چې په یویشتمه پېړۍ کې دا بهیر لا پیاوړی شو. فوتوریزم یا فیوچریزم د شلمې پېړۍ په پیل کې دا اغېز شاعرانه ته هم راننه

۱- د کابل پوهنتون د پښتو څانگې پوهنوال ډاکتر استاد
برېښنالیک: khkalay.ajmal2@gmail.com
شمېره:۰۹۳۷۰۰۳۸۳۴۳۸+

ایست او د ماډرن ساینسي وسایلو او ژوند په اړه شعرونه پیل شول. دا پر ادبیاتو د ماډرنیتې ښکاره اغېز و. x

## فوتوریزم څه غوښتل؟

فوتوریستانو غوښتل چې له ماضي سره له یوې مخې اړیکه پرې کړي او په مانا، مضمون او بیان کې نوې لار ونیسي. بنسټګر یې مارینتي په سکندریه کې زوکړی و. نوموړي د (د سترو شاعرانو لپاره اور بل دی) په سرلیک یوه مجله خپره کړه او همدا نوم وروسته په "فوتوریست" واوښت(خانلري، ۱۳۷۰: ۷۳-۷۴).

په مانیفست کې فوتوریزم د ماشین، سرعت، په ټوله کې د نوي عصر د ماشیني ژوند د وسایلو ستاینه ده.

مارینتي چې د نولسمې پېړۍ د ادبي مکتبونو په ډله کې د رومانتسیزم او سېمبولیزم پر خلاف راپاڅېد، په شعر کې یې تغزل او احساسات رد کړل او داسې یو مکتب یې رامنځته کړ، چې د نوموړي په وینا، له معاصر ژوند او د الوتکې، فابریکې او په نوي ماشیني عصر د انسانانو له ورځني ژوند او له هلو ځلو برابر و. فوتوریستان د شاعر د هر ډول دروني احساساتو د څرګنداوي مخالف وو(ده بزرگي، ۱۳۸۷: ۵۱۴) او په فیزیکي ژوند کې یې د ساینس په برکت په راغلیو نویو پرمختګونو او اوزارو کې ښایست لیده. په دې ډول یې په خپلو شعرونو کې یې د ماشینونو داسې کلمې وکارولې، چې د شعري دود پر بنسټ یې شعري ارزښت نه لاره.

فوتوریزم د معاصر مدنیت او مشهور الماني فیلسوف نېچه(۱۸۴۴-۱۹۰۰) د ملي او توکمیزو ښوونو پر بنسټ رامنځته شو. فوتوریستانو ته د نړۍ د ژغور یوازنۍ لار جګړه برېښېده او د خپلو ارمانونو تحقق یې په فاشیزم کې لیده. همدا لامل و، چې د ایټالیا فاشیستي رژیم له خپلو موخو سره متناسب ولید او تبلیغ یې ورته وکړ. خو دا لامل یې د شړېدو سبب هم شو، داسې چې په ۱۹۲۴ کې له مارینتي نه ټولو پلویان نورو مکتبونو ته تللي وو(ده بزرگي، ۱۳۸۷: ۵۱۵).

فوتوریزم له ایټالیا ووت او په اروپا کې خپور شو، چې په تقلید یې په بېلابېلو نومونو بېلابېلو خوځښتونه رامنځته شول؛ لکه د لهستان فورمیزم یا زونیزم، د اسپانیا ویبراسیونیزم، د انګلستان وریتسیزم، د مکزیک ستریدنتیزم؛ خو تر ټولو ډېر اغېز یې پر روسي شعر وښانده. د اکتوبر تر انقلاب مخکې لا روسي شعر د فوتوریزم تر سیوري لاندې

و؛ خو د ۱۹۱۷ د اکتوبر انقلاب ورته ښه زمینه برابره کړه. د شرایط اختلاف د روسیې فوتوریزم د ایټالیا له فوتوریزم بېل کړ. روسي فوتوریزم په دوو څانګو ووېشل شو، یو اګوفوتوریزم او بل کوبوفوتوریزم و.

اګوفوتوریزم ایګور سویانین(۱۸۸۲- ۱۹۴۲) رامنځته کړ، چې ځانګړنې یې ښه اهنګ، نویو اختراع شویو کلمو او هېښنده جملو کارونه وه، چې له ګرامري آرونو او مانا خالي وې؛ خو څرنګه چې یې دا تجربې شخصي وي او عامه پوهای یې نه درلود، دا مکتب ډېر و نه پایېد.

کوبوفوتوریزم چې د ادبي قواعدو پر نفي ولاړ و او له ۱۰۱۲- ۱۰۱۴ یې مانیفست خپور شو، خلبنیکوف(۱۸۸۵- ۱۹۹۲(او ولادیمیر مایاکوفسکي(۱۸۹۳- ۱۹۳۰) وپاله. دوی په اند، شعر باید له احساساتي او عشقي منځپانګې پاک و. دوی د ژبې ګرامري آرونه بېخي نه پلي کول. په لومړیو کې یې د ایټالیا د فوتوریزم د بنسټګر مارینتي پر دودماتونې باور درلود او د روسیې پخواني او اوسني ادبیات یې ردول. تر خلبنیکوف وروسته مایاکوفسکي د شعر ژبه ولسي ژبې ته ورنېژدې کړه او د نویو استعارو په رامنځته کولو یې خپله شاعري د اکتوبر د انقلاب له غوښتنو سره همغږې کړه.

د فوتوریزم د اغېز مهال ډېر لنډ و، په ایټالیا کې د لومړۍ نړېوال جګړې تر پای مخکې او په روسیې کې تر ۱۹۲۱ز پورې له منځه لاړ؛ خو د اروپا د کوبیزم، دادایزم او سورریالیزم غوندې راروان مکتبونه یې اغېزمن کړل.

څرنګه چې فوتوریزم د خپل وخت ټول ادبي جریانونه او ادبي دودونه رد کړل، د ده پرخلاف هم ځینې خلکو څرګندونې وکړې. په ۱۹۱۴ کې پروفیسر کونتین بل په خپل اثر "په بشري ټولنو کې ناورین" کې پرې نیوکه وکړه، چې " بې له دې چې د هنر کره کتونکي له غوسې لېوني کړي او یا یې هیښ کړي، بل څه پکې نه وو." ارنست هانس ګومبریچ په خپل اثر"د هنر کیسه" کې د دې نیوکه پر وړاندې وایي: "د معاصر هنر نه منل، بېځایه او نامعقول کار دی."(حسیني، ۱۳۹۳: ٦٦٥) د فوتوریستانو هنر یو خوځند څیز ګڼي، چې وخت په وخت د مدني ژوند له بدلونونو سره بدلون کوي.

## فوتوریزم په تیاتر کې

په ۱۹۱۱ز کې مارینتي د "فوتوریست ننداره لیکوال" په نامه وینا وکړه او تیاتر یې هم په فوتوریزم کې ونغاړه او په دې ډول یې فورتیستي تیار راوسپړه. په ۱۹۱۳ز یې په بله وینا کې

یې موزیکهال د راتلونکې په ښودو وستایه او و یې ویل، چې په موزیکهال کې تر ټولو نورو نندارو د دینامیزم مفهوم(ملتیا او سرعت) ښه لیدای شو او له دې سره په تیاتر کې فوتوریزم ته لار هواره شو(حسینی، ۱۳۹۳: ٦٦٥-٦٦٦).

**د فوتوریزم آرونه:**

۱. د شاعر د دروني احساساتو د ځرگندولو مخالفت او په نويو ساينسي پرمختگونو او صنعتي ماشيني وسايلو، لکه فابريکه، الوتکه، موټر او داسې نور کې د ښايست لټه او ستاينه.
۲. دماضي پر فرهنگي او ادبي هڅو بيخي پښه راښکل او ټوله پاملرنه راتلونکې ته کول د فوتوريزم مهمه ځانگړنه ده.
۳. هم د محتوا او هم د ژبې له پلوه د پخوانۍ شاعرۍ رد او د د اسې کلمو کارونه چې په دود ادب کې ناشاعرانه گڼل کېږي.
٤. د شعر له مرکزه د عشقي او احساساتي موضوعات ايستل او ځای يې عصري ژوند ته ورکول.
۵. د مصدر نه کارول. په دې اړه په ۱۹۰۹ز کې په خپله بيانيه کې وايي، چې مصدري ښه د فعل ځکه کارول پکار دي، چې د ژوند استمرار ښيي.
٦. د ستاینوم لرې کول: په دې لړ کې وايي، چې بې صفته نوم په خپل اصيل رنگ کې راښکاره کېږي.
۷. د قيد حذف، ځکه چې د دوی په اند، قيد ځوروونکې يو اړخيزتوب پيدا کوي.
۸. د ليکنښو او ترویيکو نه کارونه.
۹. له گرامري او ادبي قيدونو ازادي او د قافيه وال شعر پر ځای ازاد شعر ته مخه کول.

**د فوتوريزم بېلگه**

بهار
ترماميټر: ۱۸ سانتيگراد
لنده بل: ۲۵٪
او د کليسا انگازه ناقوس
د پيشو دېوال
چڼ چڼ نااشنا مرغۍ
ټک ټک، ټک ټک، ټک ټک

د اورگاډي اژدها، پرله پسې، سرې گرځون (کانگې کول)
بوډا، ځوان، ښځه، سړی، زوی، لور
وی وی
یو کوچنی د مور په غېږ کې زېل
۳۷ درجې تودوخه ځان مې په پټو کې
د پنجرې له مړژواندي لمر سره (خانلري، ۱۳۷۰: ۷۵)

فوتوریزم پر ساینسي پرمختگونو نازېده او ساینسي پرمختگ د نویتوب (ماډرنیته) په مرکز کې و، چې د انسان پر ارتقا یې باور درلود؛ خو تر لومړنۍ نړیوالې جگړې وروسته چې د ساینس په برکت رامنځته شوې عصري وسلې وکارېد، خلک پر ساینسي پرمختگ شکمن شول او له جگړې یې- چې فوتوریزم د نړۍ د ژغور یوازنۍ لار بلله - کرکه وشوه، دې ټولنیزو لاملونو د فوتوریزم مړینې ته شرایط برابر کړل.

**پایله**

فوتوریزم د شلمې پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې رامنځته شوی ادبي مکتب دی، چې د رومانتسیزم او سېمبولېزم پر خلاف یې په ادبیاتو کې احساسات او تخیل نه غوښتل او ځای یې د ساینسي مډرنیتۍ وچې ستاینې ته ورکړ، چې آن کله پکې انسجام هم نه لیدل کېده.

څرنگه چې عاطفه او تخیل د شاعرۍ اړین اړخونه دي، نو دا مکت هم تر څو لسیزو وانه وښت او ژر د نورو مرو ادبي مکتبونو په برخلیک اخته شو.

**ماخذونه**


۱. حسیني، رضا سید. ۱۹۹۳. مکتب های ادبی. جلد دوم. چاپ هفدهم. تهران: موسسه انتشارات نگاه
۲. خانلري، پرویز ناتل. ۱۳۷۷. هفتاد سخن. جلد چهارم. شیوه های نو در ادبیات (ادبیات جهان). تهران: انتشارات توس
۳. ده بزرگي، غلامحسین. ۱۳۸۷. تاریخ ادبیات جهان (از آغاز تا پایان سده ی بیستم). تهران: دایره سفید
٤. کومکي، هېواد بریال. ۱۳۹۶. نړیوال ادبي مکتبونه. کابل: نوی مستقبل خپرندویه ټولنه

## په ژباړه کې د مبدا او موخنې ژبې د کلمو تعادل

اسدالله وحیدي[۱]

عبدالسمیع وحدت[۲]

**لنډیز**

په ژباړه کې د تعادل اصل لا هم کارنده دی او دا اصل بیا په جزیاتو وېشل کېږي چې یو یې د کلمو تعادل دی. ژبني عناصر او بیا کلمې ساده او مجرد نه مطالعه کېږي، بلکې د یوې ژبې له فرهنګ، ارزښتونو، تجربو او چاپېریال سره تړلي وي، همدا لامل دی چې په ژباړه کې د کلمو د تعادل بحث پېچلی کېږي. کلمې بېلابېلې ماناوې لري، کلمې کله لومړنۍ مانا لېږدوي، کله یې مانا ضمني وي او همداسې له نورو کلمو سره په څنګ کې خپله مانا بدلوي. داسې هم پېښېږي چې یوه کلمه دې په دوو ځایونو کې آن متضادې ماناوې ولري، له همدې کبله د ژباړن لپاره ددغو ماناوو درک مهم دی، چې بیا یې په موخنه ژبه کې بدیل پیدا کړي. د کلمو د تعادل په بحث کې دا حتمي نه ده چې موږ دې د مبدا ژبې د یوې کلمې لپاره حتمي په موخنه ژبه کې یوه کلمه پیدا کړو، بلکې مهمه دا ده چې د یوې یا څو کلمو پر مټ همغه مانایي رول او ارزښت چې د مبدا ژبې کلمه یې لري، په موخنه کې هم خوندي شي. له همدې کبله د مبدا ژبې یوه کلمه کله په موخنه کې په څو کلمو اوړي، کله په جمله او آن په جملو او اوږده تشریح اوړي. کله ژباړن اړ شي چې د مبدا ژبې کلمه پور کړي او کله خو بیا د همدې پور کړې کلمې تشریح ته هم مجبورېږي. داسې هم کېږي چې د مبدا ژبې کلمه د موخنې ژبې له یوې کلمې سره معادله

---

[۱]- د کابل پوهنتون د پښتو څانګې پوهندوی استاد
برېښنالیک: asad.waheedi۲۰۰۸@gmail.com
شمېره: ۹۳۷۷۷۲۰۰۳۰۱+

[۲]- د کابل پوهنتون د پښتو څانګې پوهنمل استاد
برېښنالیک: wahdat۲۰۱۰@gmail.com
شمېره: ۹۳۷۶۶۰۰۰۰۰۸+

وي، خو د یو قید یا یوې بلې کلمې ور زیاتولو ته یې اړتیا وي. له همدې کبله ژباړن باید دا ټولې باریکۍ درک کړي او د غوره ژباړې لپاره ترې کار واخلي.

**آر وییونه:** تعادل، طبیعي تعادل، یو اړخیز تعادل، مبدا ژبه، موخنه ژبه، د کلمو مانا

## سریزه

د ژباړې یو مشهور پېژند دا دی چې په موخنه ژبه کې په تر ټولو «نږدې معادل» د مبدا ژبې د متن بیا لیکل ژباړه ده. له دې سره دا بحث را پورته کېږي چې «نږدې معادل» یعنې څه؟ ځینې پوهان وایي چې خبره د ارزښت ده، یعنې دا چې د موخنې ژبې متن هم باید همغه ارزښت ولري چې د مبدا ژبې متن یې لري. یا ژباړل شوی متن باید هغه رول ولوبوي چې د مبدا ژبې متن یې لوبوي. له دې کبله چې یو متن یوازې نه مطالعه کېږي، بلکې بهرنۍ ترېښت لري، لکه فرهنګي ترېښت، نو دا شونې ده چې د یوه متن ټول ارزښتونه او ترېښتونه دې بلې ژبې ته ولېږدول شي؟ پر تعادل بیا په بېلابېلو برخو کې بحث کېږي. یوه برخه پکې د کلمو تعادل دی، یعنې دا چې د مبدا ژبې د کلمو لپاره په موخنه ژبه کې معادلې کلمې پیدا شي. موږ په دې لیکنه کې د تعادل پر همدغه ډول تمرکز کوو. لومړی دا تیوري سمه ده چې د مبدا ژبې د کلمو لپاره باید په موخنه ژبه کې معادلې کلمې پیدا شي او که نه؟ ددې تر څنګ د کلمو په بېلابېلو مانیز اړخونو باندې بحث کوو او د کلمو بېلابېلې ماناوې را اخلو. ورسره پر دې هم بحث کوو چې د مبدا ژبې کلمې په موخنه ژبه کې له څه ډول معادلونو سره مخ کېدای شي او ټولې هغه لارې چارې بیانوو چې د کلمو د تعادل په برخه کې له یوه ژباړن سره مرسته کوي.

## په ژباړه کې تعادل

د شلمې پېړۍ په نیمایي کې د (تعادل) اصطلاح په ژباړه کې مروجه شوه. په ۱۹٦۰ او ۱۹۷۰ کلونو کې یې اوج و. د تعادل لومړنۍ مانا دا وه چې کېدای شي د مبدا متن او ژباړه یې یو ډول وي. یا د مبدا ژبې متن په موخنه ژبه کې باید په تر ټولو نږدې معادل وژباړل شي. ځینو پوهانو د طبیعي تعادل خبره یاده کړه او ویې ویل چې تعادل باید طبیعي وي، خو وروسته ورسره له دې کبله مخالفتونه وشول چې د طبیعي تعادل بحث ښایي په هغو ژبو کې څه ناڅه وي چې ګډ فرهنګ یا نږدې فرهنګ لري، خو په هغو ژبو کې به دا پیکه وي چې سره لرې دي. د بېلګې په ډول اروپايي ژبې یو بل ته نږدې فرهنګ لري، خو که ژباړه د انګلیسي او عربي ترمنځ کېږي، نو پکې د طبیعي تعادل بحث ممکن نه دی. د

طبیعي تعادل مانا دا وه چې کله له (الف) ژبې (ب) ته یوه کلمه ژباړل کېږي، نو له (ب) ژبې باید (الف) ته د همدې کلمې ژباړه کټمټ هغسې وي، لکه په پیل کې چې وه. له دې وروسته د یو اړخیز تعادل بحث را پورته شو، په یو اړخیز تعادل کې خبره دا وه چې له (الف) ژبې (ب) ته باید ژباړه په نږدې معادل وشي، خو حتمي نه ده چې بیا دې د (ب) ژبې همدا معادل په (الف) ژبه کې کټمټ د لومړۍ کلمې یا متن په شان وي.

د تعادل اصل په ۱۹۸۰ کلونو کې تر پوښتنې لاندې راغی، بې دقته او د محدودې لمنې لرونکی وګڼل شو. په دې اړه نیوکې ماري اسنل – هورن بې پیل کړې. نوموړې وویل ((د دې اصل کارول د ژبو ترمنځ تېروتنه ده، ځکه چې د ژبو ترمنځ ورتهوالی محدود دی.)) (پیم، ۲۰۱۸: ۳۰).

هغوی چې د ژباړې ددې اصل مخالفت یې کاوه، خپل دلایل یې راوړل او استدلال یې کاوه چې د ژبو ترمنځ توپیرونه ددې سبب کېږي چې د تعادل ادعا ناسمه ثابته شي. بسنېټ (bassnett) پر دې باور دی چې ممکنه نه ده چې د مبدا او موخنې ژبې متن دې یو شان وي. نوموړې وایي: ((آن د یوه متن دوې ژباړې یو ډول نه وي، بیا چې خبره د مبدا او موخنې ژبې شي، دا ممکنه نه ده چې یو شان دې وي)) (بسنېټ، ۱۹۸۸: ۳۶).

ژبې یوازې د ځېزونو د نومونو ټولګه نه ده، بلکې په ژبه کې پېچلي مفاهیم شته چې له نورو ژبو او فرهنګونو سره توپیر کوي. ځینې خو آن پر دې باور دي چې هره ژبه جلا نړۍ لید لري. نو له همدې کبله په ژباړه کې د تعادل هڅه ژباړن له سختو ستونزو سره مخ کوي. په ژبنیو توپیرونو کې ښايي بحث د جوړښتونو وي، چې دا لویه ستونزه نه ده، خو فرهنګي توپیر د تعادل بحث لا پېچلی کوي. مشهور ژباړن او تیورسن یوجین نایډا وایي: ((فرهنګي تفاوت د ژبو د جوړښتونو له تفاوت زیات ژباړن له پېچلو او سختو ستونزو سره مخ کوي.)) (نایډا، ۱۹۸۲: ۱۶۱).

په ژباړه کې د تعادل بحث له ټولو مخالفتونو سره سره بیا هم یو مهم اصل ګڼل کېږي او هڅه کېږي چې د سمې ژباړې لپاره دا اصل مراعات شي. له پراخو مخالفتونو وروسته وویل شول چې په تعادل کې خبره دا نه ده چې دواړه دې یو شان وي، بلکې د موخنې ژبې متن دې همغه ارزښت او رول ولري چې د مبدا ژبې متن یې لري. له دې سره تعادل په ځینو برخو کې ممکن ښکاري، خو په ځینو برخو کې ښايي ناممکن وي او د متن ډول او د ژبو ځرنګوالی له دې سره تړلی وي چې تعادل ممکن یا ناممکن کړي. خو اصلي تمرکز پر دې دی د موخنې ژبې متن باید هغه ارزښت ولري چې د مبدا ژبې متن یې

لري. په دې اړه لطيفي پور ساعدي وايي: ((د ژباړن دنده دا ده چې هغه شرايط او زمينې برابرې کړي چې په هغو کې د اصلي متن ليکوال وکولی شي د موخنې ژبې د متن له لوستونکي سره اړيکه ټينګه کړي او اغېز پرې وکړي. دا شرايط او زمينه هغه وخت برابرېږي چې د موخنې ژبې متن د ارتباطي ارزښت له اړخه د مبدا ژبې له متن سره «معادل» او «يو شان» وي.)) (لطيفي پورساعدي، ۱۳۷۱: ۷۹).

جوليان هاوس هم همدې ته ورته نظر لري او وايي چې د تعادل مانا يوشانوالی نه دی، بلکې د ارزښت او رول يووالی دی. نوموړی وايي: ((کله چې وايو دواړه څېزونه معادل دي، زموږ موخه دا نه ده چې دا دواړه يوشان دي، بلکې موخه مو دا ده چې چې دواړه ګډ ټکي لري او رول يې يوشان دی.)) (هاوس، ۱۳۸۸: ۳٦).

دا بايد هېره نه کړو چې د مبدا او موخنې ژبې ترمنځ هر اړخيز تعادل چې پکې هېڅ کم او زيات نه شي، ناممکن دی، نو ځکه دا تعريفونه هم ناسم دي چې کره ژباړه هغه ده چې د مبدا ژبې مفهوم پوره موخنې ژبې ته انتقال شي. يا لکه د کورش صفوي تعريف چې وايي: ((سمه او بريالۍ ژباړه هغه ده چې د مبدا متن معادله، برابره او ورسره يو شان وي. له دې اړخه ابډيال ژباړه هغه ده چې د مبدا ژبې متن له کوچني کموالي او زياتوالي پرته موخنې ژبې ته وژباړل شي.)) (صفوي،۱۳۷۱ :۹) البته دا ډول تعريفونه يوازې نظريې پاتې کېدای شي، خو کله هم عملي بڼه نه خپلوي او يا هم په استثنايي حالتونو کې ښايي عملي شي.

تعادل په مختلفو برخو کې مطرح کېدای شي، يو وېش د لطيفي پور سعادي دی. نوموړی وايي چې لاندې برخې د ژبو ترمنځ په تعادل کې مطرح کېدای شي: ((۱- وييونه vocabulary ۲- جوړښت structure ۳- سکښت، بافتار texture ۴- د جملې مانا – د کلام مانا sentence meaning vs Utterance meaning ۵- د ژبې تنوع – language varieties ٦- مخکني تصورات preposition ۷- ادراکي اغېزې cognitive effect ۸- د ښکلا پېژندنې اغېز Aesthetic Effect)) (لطيفي‌پور ساعدي،۱۳۷۱: ۷۹).

دا هره برخه جلا بحث غواړي، خو موږ دلته يوازې د کلمو ترمنځ پر تعادل بحث کوو.

### د کلمو/ وييونو تعادل

د تعادل په اصل کې لومړنی بحث د کلمو د تعادل دی. دا بحث تر ډېره د ژباړې هغه

پوهان مطرح کوي چې په ژباړه کې پر امانت ساتنه ټینګار کوي. ددې بحث لومړنۍ عملي بڼه ټکی پر ټکي ژباړه ده، چې له نیوکو سره هم مخ ده. ځینې پوهان بیا پر دې باور دي چې موږ د کلمو تعادل په پام کې نیسو، خو حتمي نه ده چې ټکی پر ټکي ژباړه دې وکړو، بلکې په دې برخه کې شته لاربښوونې له موږ سره مرسته کوي چې هغه ستونزې چې په ټکی پر ټکي ژباړه کې دي، حل کړو. د کلمو د تعادل بحث ستونزمن دی، ځکه له یوه اړخه کلمې په یوه ژبه کې متفاوتې ضمنې ماناوې لري چې کله آن په مترادفو او هم‌مانا کلمو کې انتخاب ستونزمن شي. له بله اړخه کلمې ځانګړی فرهنګي ارزښت لري چې په دې ډول یې بلې ژبې ته لېږدول ستونزمن دي. کله کلمې دیني، محیطي او جغرافیوي تړښت پیدا کوي چې بیا ستونزه لا پېچلې شي او آن ځینې کلمې ددې وړ کوي چې ونه ژباړل شي. ددې تر څنګ دا بحث هم دی چې کلمې واقعیتونه منعکسوي؟ په دې اړه بېکر د پالمر یو نقل قول راوړي: ((کلمې په هغه اندازه د بهرنۍ نړۍ واقعیت نه منعکسوي، څومره چې خلک ورسره تړښت لري.)) (بیکر، ۱۹۹۲: ۱۸).

د کلمو په تعادل کې بل بحث د کلمو بېلابېل مانایي اړخونه دي. کلمې کله یوه او لومړنۍ مانا ولري، خو کله ضمني مانا هم لېږدوي. ددې تر څنګ کلمې د نورو کلمو په څنګ کې او یا په بېلابېلو نحوي ترکیبونو کې خپله مانا بدلوي، یا کله په یوه فرهنګ او جغرافیه کې ځانګړې مانا پیدا کوي. ددې تر څنګ تجربې، ایډیولوژۍ او فرهنګونه هم کلمو ته مانیز لوري ورکوي، چې دا ټول د بحث وړ دي. خو له دې سره سره دا باید هېره نه کړو چې ژباړه په هر ډول چې وي د مبدا متن یوه برخه مانا له لاسه ورکوي، لکه نیومارک چې د ژباړې له تعریف سره یو ځای دا خبره یادوي، نوموړي وایي: ((ژباړه هغه فن دی چې هڅه کوي یو لیکلی یا شفاهي پیغام په بله ژبه کې د همغه پیغام ځایناستی کړي. په دې کار کې یوه برخه مانا د بېلابېلو لاملونو له مخې لوېږي.)))نیومارك، ۱۹۸۸: ۷).

له دې سره تعادل له موږ سره مرسته کوي چې تر ډېره مانا وساتو او په دې کې یوه مهمه لاره د کلمو تعادل دی. ددې لپاره چې دا بحث لا روښانه شي، موږ دلته د کلمو بېلابېل مانیز اړخونه تشریح کوو.

**۱- ارجاعي مانا (Referential meaning)**

ارجاعي مانا د یوې کلمې لغوي او لومړنۍ مانا ده، هغه چې که کلمه له متن څخه و ایستل شي، همدا مانا ورکړي. دې ته د کلمې اصلي، مرکزي یا جوهري مانا هم وایي. دا په اصل کې د کلمې لغوي مانا ده چې یوازې او د خبرو له سیاق پرته په نظر کې نیول کیږي. د

بېلګې په ډول «ډېره» یوه ځانګړې مانا لري، چې بهرنۍ نړۍ کې یې مونږ وینو، ښايي ډېره کله په نحوي ترکیبونو کې خپله مانا بدله کړي، لکه؛ « د ډېرې زمانه»، خو لومړنۍ او اصلي مانا یې ارجاعي مانا ګڼل کېږي. اوس که له متن او سیاق پرته مونږ «ډېره» يادوو، ذهن مو همدې لومړنۍ مانا ته ځي.

پکار ده چې ژباړن د ژباړې پر مهال لومړی د کلمې ارجاعي مانا ته پام واړوي، که په متن کې د لیکوال موخه ارجاعي مانا نه وه، بیا دې د متن سیاق، د متن سکښت یا له متن د باندې د متن تړښت او قرینې ته چې د کلمې مانا بل لوري ته وړي، پام وکړي.

**۲- مفهومي/تجربي مانا (connotative meaning)**

کله ځینې کلمې داسې وي چې د ارجاعي یا لومړۍ مانا تر څنګ د تجربې په پای کې یا په یوه ځانګړې دوره یا فرهنګ کې یې کارول ددې لامل کېږي چې یوه بله ځانګړې مانا هم پیدا کړي. ددې ډول کلمو د معادل پیدا کولو لپاره لومړی ګام دا دی چې په مبدا ژبه کې د کلمې دا ډول مانا درک شي. دا کار هغه څوک کولی شي چې د مبدا ژبې په فرهنګ او هلته د کلمو په دغه ډول تړښت پوه شي. له هغه وروسته بیا دا ډول کلمې ژباړل کېدای شي. د بېلګې په ډول په افغانستان کې د کمونستي رژیم د واکمنۍ پر مهال د دري ژبې «رفیق» کلمې یوه ځانګړې مانا پیدا کړې وه. که څه هم هغه وخت په پښتو کې ددې کلمې پر ځای «ملګری» کلمه کارېدله او د دري همغه مانا یې ورکوله، خو که اوس څوک د کمونیستي دورې ادبیات ژباړي، نو هغه وخت په خاص سیاق کې کارول شوی «رفیق» کلمه باید داسې وژباړي چې خپله همغه مانا ولېږدوي. که همدا د پښتو «ملګری» د دري «رفیق» په همدې ځانګړې مانا څوک عربي ته ژباړي، نو باید یوازې د کلمې ارجاعي مانا ته ونه ګوري، بلکې دې ته وګوري چې دا کلمه په خاص سیاق کې په څه مانا کارول کېده. یا د پښتو «نر» کلمه چې یوازې د انګلیسي «male» ته نه کارول کېږي، بلکې له فرهنګ سره به تړاو کې یوه ځانګړې مانا هم لري چې انګلیسي ته د ژباړې پر مهال باید ورته پام وشي. همداسې په پښتو کې «سرکوزی/ خوګ» د یوه حیوان د نامه تر څنګ بله مانا هم لري، چې بلې ژبې ته د ژباړې پرمهال باید هېره نه شي. دلته ژباړن یوازې ارجاعي اړخ نه، بلکې تجربي اړخ یې هم باید ولېږدوي. ددې لپاره کله اړتیا وي چې د مبدا ژبې یوه کلمه په موخنه ژبه کې پر یوه یا څو کلمو واوړي او یا هم په یوه جمله یا څو جملو کې تشریح شي.

**۳- نحوي/خواناستې مانا (Syntagmatic relations)**

دا هغه مانا ده چې کلمه یې هغه وخت پیدا کوي چې له نورو کلمو سره راشي. یعنې ځینې کلمې داسې دي چې کله له نورو کلمو سره راشي، یا په متفاوتو نحوي ترکیبونو کې راشي، نوې مانا پیدا کوي. یعنې کلمې په متفاوتو نحوي ترکیبو کې او یا هم له نورو کلمو سره په راتلو نوې ماناوې پیدا کوي. له همدې کبله ژباړن باید دې باریکۍ ته پام وکړي او معادل یې داسې پیدا کړي چې همدا مانا ورسوي. مثلا په فارسي کې د «فاسد» کلمه له بېلابېلو کلمو سره راځي او بېلابېلې ماناوې لري. لکه: (میوه فاسد، تخم فاسد، شخص فاسد، دندان فاسد...)

سره له دې چې موږ په پښتو کې د «فاسد» کله کاروو، خو د فارسي په پورتنیو ټولو ترکیبونو کې د «فاسد» کلمه نه راوړو: موږ وایو: (خوسا شوې مېوه/خرابه شوې مېوه، خوسا شوې هګۍ، فاسد شخص، چینجي وهلی غاښ/ خراب شوی غاښ، یا تور شوی غاښ...)

دغسې ژباړن باید پوه وي چې کلمې په متفاوتو نحوي ترکیبونو کې متفاوتې ماناوې لري او هغه په هره ژبه کې هغسې نه وي.

**۴- ضمني مانا (implied meaning)**

په مبدا ژبه کې ځینې کلمې ضمني مانا او پیغام لېږدوي. دا ډول کلمې لیکوالان په شعوري ډول کاروي، چې د اصلي مانا تر څنګ ضمني مانا انتقال کړي. ژباړن باید د ژباړې پر مهال دې چارې ته پام وکړي، هسې نه چې د کلمې لپاره داسې بدیل پیدا کړي چې ضمني مانا ونه لېږدوي. دلته پکار ده چې له اصلي معنا سره یو ځای په معادل کې تمرکز پر ضمني مانا هم وشي، ځکه ضمني مانا د لیکوال اصلي موخه ده. لکه موږ وایو چې «ځوانیمرګ شو.» دلته دوې خبرې کوو، یو دا چې مړ شو، بل دا چې په ځوانۍ کې مړ شو. په ځوانۍ کې مړه کېدل ضمني مانا ده چې باید هېره نه شي. په ضمني مانا کې د لیکوال احساسات یا نظر هم په یو ډول لیدلی شو. د بېلګې په ډول کله چې لیکوال وایي چې «احمد شهید شو» دلته د «شهید» کلمه یوازې ددې لپاره نه ده کارول شوې چې احمد وژل شوی او نور ژوندی نه دی، بلکې دلته لیکوال د احمد مرګ ته د «شهادت» په سترګه ګوري او په دې ډول لیکوال ضمني مانا او خپل احساسات هم لېږدوي.

**۵- سبکي مانا (Stylistic meaning)**

په یوه ژبه کې کله څو مترادفې یا هم‌مانا کلمې وي، خو د سبک لپاره یوه ټاکل شوې وي.

د ژباړې پر مهال هم ښايي د يوې کلمې څو بديلونه وي، خو هغه کلمه بايد وټاکل شي چې د مبدا ژبې د متن د سبک په ساتلو کې مرسته وکړي. په بله وينا سبکي مانا د ټولنيزو شرايطو او د کاروني د موقعيت څرگندونکې ده، د بېلگې په ډول د وياوال او مخاطب اجتماعي حالت د هغوی ترمنځ د اړيکې ډول څرگندوي چې صميمي، که رسمي ده، يا ترينگلې او که بل ډول. د بېلگې په ډول موږ له يو نارينه په لاره د يو آدرس پوښتنه کوو، ښايي دا څو ډوله وي:

- کاکا/ تره! ابن سينا روغتون چېرته دی؟
- ځوانه! ابن سينا روغتون چېرته دی؟
- زويه! ابن سينا روغتون چېرته دی؟
- وروره! ابن سينا روغتون چېرته دی؟
- حاجی صاحب! ابن سينا روغتون چېرته دی؟
- ماما! ابن سينا روغتون چېرته دی؟

دلته لومړی شخص مخاطب نه پېژني،خو هغه ته گوري او بيا ورته هغسې کلمه کاروي. که دا کلمې بلې ژبې ته ژباړل کېږي، ايا هلته هم مشر سړي ته څوک تره/کاکا يا ماما وايي او همدا ورته کاروي؟ يا ځوان ته همداسې خطاب کوي چې «ځوانه!»؟ همداسې مشر سړی کشر ته «زوی» کلمه کارولی شي؟ له بله اړخه په يوه غير اسلامي ټولنه کې «حاجي صاحب» يو ناآشنا مفهوم دی، دا به څنگه ژباړل کېږي؟ همدا د کلمې سبکي يا سټايلي اړخ دی چې پکې د لومړي شخص او مخاطب د اړيکې ډول څرگندېږي. له همدې امله په ژباړه کې د داسې بديل راوړل مهم دي چې دا اړيکه وساتلی شي.

**٦ - سمبوليکه مانا(Figurative meaning)**

کله کلمې په يوه ټولنه يا فرهنگ کې د يو څه لپاره پر سمبول اوړي او هلته بيا د ارجاعي مانا پر ځای سمبوليکه مانا ورکوي. دا ډول مانا تر ډېره په ادبياتو کې کارول کېږي، خو په ولسي ژبه کې يې هم کارول عام وي. ژباړن بايد د ژباړې پر مهال دې ته پام وکړي چې د کلمې سمبوليکه مانا شته او که نه او که وي، بايد په موخنه ژبه کې يې مناسب معادل پيدا کړي. دا يو څه ستونزمن کار دی، ځکه چې په بېلابېلو ټولنو او فرهنگونو کې ارزښتونه توپير کوي، نو ورسره سمبولونه هم توپير کوي. په يوه ټولنه کې يو څه مثبت مانا لري، خو په بله ټولنه کې منفي. د بېلگې په ډول په افغانستان کې «حيا» د نجلۍ لپاره مثبت صفت دی، خو په لوېديځ کې به دا نه وي. يا په افغانستان کې به «اوږده وېښتان» د ښايست

سمبول وي، خو په اروپايي هېوادونو کې نه دی.

**۷- صرفي مانا**

د کلمې صرفي يا مورفولوژيکي جوړښت مهم دی. کله يوه کلمه په نوميز حالت کې يوه مانا لري، خو کله چې له همغې کلمې فعل او صفت جوړ شي، ممکن په مانا يې کې يې ډېر بدلون راشي. صرفي مانا موږ په تصريفي ژبو کې ډېره وينو، خو په پښتو کې يې هم مثالونه شته. مثلا موږ « گرځېدل» لرو، چې ترې ډېرې کلمې جوړې شوې دي. (گرځنی، گرځندوی، گرځنده...) دا يې نوميز حالتونه دي او متفاوتې ماناوې لري. په دې ډول موږ بايد د ژباړې پر مهال د کلمو دغه اړخ ته پام وکړو او وگورو چې په صرفي بدلون سره په مانا کې هم بدون راغلی دی او که نه.

**د کلمو د تعادل ډولونه**

د کلمو د تعادل په اصل کې حتمي نه ده چې موږ دې يوې کلمې ته حتمي يوه کلمه بديل پيدا کړو، بلکې مهمه دا ده چې بديل پيدا کړو او هغه رول او ارزښت چې د مبدا ژبې کلمه يې په يوه متن کې لوبوي، موخنې ژبې ته يې په يو ډول ولېږدوو. ددې لپاره له لاندې حالتونو سره مخ کېږو:

**۱- يوه کلمه پر يوې**

کله د مبدا ژبې يوه کلمه په موخنه ژبه کې په يوه کلمه ژباړل کېدای شي. دا ډول برابري تر ډېره د کلمو په ارجاعي يا اصلي مانا کې وي. يعنې د مبدا ژبې په متن کې کارول شوې کلمه ارجاعي مانا لري او په موخنه ژبه کې ژباړن همداسې يوه بديله کلمه ورته کاروي چې ارجاعي مانا ولري. دا اسانه چاره ده، خو کله داسې وي چې ژباړن په مبدا ژبه کې د کلمې ارجاعي مانا سمه نه وي درک کړې، نو ځکه په موخنه ژبه کې ورته معادله کلمه نه شي پيدا کولی. کله داسې وي د مبدا ژبې په متن کې د استفاده شوې کلمې د ارجاعي مانا لپاره، په موخنه ژبه کې څو مترادفې کلمې وي. د بېلگې په ډول د فارسي ژبې د «سنگ» کلمې لپاره موږ په پښتو کې «ډبره»، «کاڼی» او «تېږه» کلمې لرو، په داسې حال کې به ژباړن د مانا سبکي اړخ ته پام کوي او مناسبه کلمه به ورته ټاکي. ددې تر څنگ په سمبولونو کې هم ښايي يوه کلمه پر يوې واوړي. ددې تر څنگ خاص نومونه، شمېرې او د ځينو عيني څېزونو نومونه هم په دې کټه‌گورۍ کې راتللی شي چې په ټولو فرهنگونو کې شته.

### ۲- یوه کلمه پر څو

کله داسې وي چې د مبدا ژبې یوه کلمه په موخنه ژبه کې څو ماناوې ولري. په دې وخت کې باید ژباړن کلمه په متن کې وګوري، سیاق او قراینو ته یې وګوري او بیا پیدا کړي چې دلته د لیکوال موخه څه ده. د اصلي موخې له درک وروسته به بیا په موخنه ژبه کې اصلي مانا ورته ټاکي. موږ ډېر وخت له داسې واقعیت سره مخ کېږو چې یوه کلمه په یوه جمله کې داسې مانا ورکوي چې همغه کلمه یې په بله جمله کې نه ورکوي، ورسره متفاوته او حتی کله متضاده وي. په داسې وخت کې موږ د سیاق او قرینو په مرسته د کلمو اصلي مانا درک کولی شو او بیا یې په موخنه ژبه کې بدیل پیدا کولی شو.

### ۳- څو کلمې پر یوې

داسې هم کېږي چې د مبدا ژبې څو کلمې په موخنه ژبه کې یو بدیل ولري. یعنې د مبدا ژبې څو کلمې په موخنه کې په یوه کلمه وژباړل شي. په دې وخت کې ژباړن باید د موخنې ژبې د کلمې مخ ته داسې صفتونه، قیدونه یا نور څه زیات کړي چې د هغو په مرسته د موخنې ژبې د کلمې سمه مانا ولېږدول شي. د بېلګې په ډول په عربي ژبه کې په مخاطب کې هم مونث او مذکر توپیر کوي، په عربې وایي: «هذا کتابکَ»، «هذا کتابکِ» توپیر یوازې د «ک» د زور او زېر دی. اوس که موږ دا پوښتو ته ژباړو، د مانا د کره لېږد لپاره باید داسې ولیکو: «دا ستا (مذکر) کتاب دی.»، «دا ستا (مونث) کتاب دی.» او حتی په تفصیل کې دا ورسره لیکلی شو چې په «لومړۍ جمله کې د وېناوال مخاطب نارینه دی او په دویمه کې ښځینه.» په دې ډول موږ د عربي جملې پوره مانا لېږدولی شو.

همداسې که له پښتو دري ژبې ته ژباړه کوو، موږ په پښتو کې نارینه او ښځینه لرو او بیا یې په جمع کې هم لرو. د بېلګې په ډول موږ په پښتو کې وایو: (هغه راغی)، (هغه راغله) اوس په دري ژبه کې موږ د کره ژباړې لپاره یوه کلمه ور زیاتوو: « او (مذکر) آمد»، « او (مونث) آمد». دلته د یوې کلمې په زیاتولو سره ستونزه حل شوې ده.

### ۴- یوه کلمه پر هېڅ

کله داسې وي چې د مبدا ژبې یوه کلمه په موخنه ژبه کې هېڅ بدیل نه لري. دا چې ولې داسې ده، لاملونه یې ډېر دي، دلته پرې بحث نه کوو، خو ژباړن کولی شي چې دلته دري لارې وکاروي:

۱- د مبدا ژبې کلمه پور کولی شي او ګټ مټ یې کارولی شي.

۲- د یوې کلمې لپاره څو کلمې، ترکیب یا جمله کارولی شي (یعنې د مبدا اژبې له راوړلو پرته یې مانا په څو کلمو، ترکیب یا جمله کې لیکلی شي.)

۳- د مبدا ژبې د کلمې پور کول، خو ورسره د تفسیر او تشریح راوړل.

لومړی لاره هغه وخت کارول کېدای شي چې کله د موخنې ژبې لوستونکي د مبدا ژبې د کلمې پر مانا او دلالت پوه وي، خو په خپله ژبه کې ورته بدیل نه وي. موږ ډېرې داسې کلمې لرو، لکه: کمپیوټر، قلم، کتاب، بانک...

خو کله داسې وي چې د موخنې ژبې لوستونکي د پردی ژبې د کلمې لپاره نه یوازې بدیل نه لري، بلکې پر مانا، مفهوم او دلالت یې هم نه پوهېږي. که دا کلمه موږ پور کوو، نو پکار ده چې تعریف او تشریح یې هم ورسره راوړو. د بېلګې په ډول موږ دیني متون ژباړو، د «قذف» کلمې سره مخ کېږو، موږ قذف ته بدیل کلمه نه لرو، نو د «قذف» کلمه پور کوو، په موخنه ژبه کې یې لیکو او تشریح ورسره راوړو. که دا تشریح او توضیح لنډه وه، د متن منځ کې یې په قوسونو کې لیکو، خو که اوږده وه، بیا په لمنلیک کې تشریح او توضیح راوړو. دا هم باید هېره نه کړو چې که د ژبې الفبا توپیر وکړي، د بېلګې په ډول د انګلیسي کومه کلمه پور کوو، تشریح یې راوړو، نو ښه ده چې انګلیسي بڼه یې هم په قوسونو یا لمنلیک کې راوړو. دا چاره له لوستونکي سره مرسته کوي چې اصلي کلمه په همغه مبدا ژبه کې پیدا کړي.

### ۵- یوه کلمه پر جز

کله داسې وي چې د مبدا ژبې یوه کلمه پراخه مانا لري، یا یې مانا څو اړخونه لري، په موخنه ژبه کې پوره بدیل ورته نه پیدا کېږي، بلکې شته بدیل یې د مانا یو جز یا یو اړخ بیانوي. یعنې دلته د موخنې ژبې بدیل د مبدا ژبې د کلمې د مانا ټول اړخونه نه را نغاړي، بلکې یوازې یو برخه یې رانغاړي او د مانا د نیمګړتیا لامل ګرځي. که ژباړن له داسې ستونزې سره مخ کېږي، نو کولی شي چې د صفتونو، قیدونو او نورو کلمو په مرسته د مبدا ژبې د کلمې مانا تکمیل کړي. د بېلګې په ډول موږ په دیني ژباړه کې د (رحمان او رحیم) کلمې ژباړو، نو دواړه مهربانه او رحم کوونکی مانا لري، خو کله چې رحمان ژباړو، وایو چې «په عام ډول» رحم کوونکی او کله چې رحیم ژباړو، نو وایو چې «په خاص ډول» رحم کوونکی. اوس دلته «په عام ډول او په خاص ډول» قیدونو له موږ سره مرسته وکړه چې مانا تر ډېره ورسوو.

**پایله**

په ژباړه کې د مبدا او موخنې ترمنځ تعادل له ټولو مخالفتونو او لوړو ژورو سره سره بیا هم یو مطرح اصل دی. دا تعادل پر دې را څرخي چې د موخنې ژبې متن باید همغه ارزښت او رول ولري چې په مبدا ژبه کې یې لري. دا تعادل په بېلابېلو برخو کې وي چې یوه مهمه برخې یې کلمې یا وییونه دي. د کلمو په برخه کې تعادل ځکه مهم دی چې کلمه د مانیز واحد په توگه چلند کوي. د کلمو د مانا بحث خورا پېچلی دی او بیا ددغه پېچلتیا بېلابېلو اړخونو ته هغه وخت متوجه کېږو چې کله وغواړو، بلې ژبې ته یې وژباړو. کلمې کله داسې مانا لري چې له سیاق پرته د درک وړ وي، خو دا باید هېره نه کړو چې کلمې په بېلابېلو ځایونو او له نورو کلمو او جوړښتونو سره په تړاو کې بېلابېلې ماناوې لېږدوي. له بله اړخه کلمې له فرهنگ، جغرافیې، ایډیولوژۍ، تاریخي دورې او نورو شرایطو سره تړلې دي. اوس چې کله یو څوک غواړي، کلمو ته معادل پیدا کړي، دغه ډول حالتونه باید درک کړي. باید پر دې پوه شي چې کلمې له فرهنگ سره څه ډول تړښت لري، یا یو دین او ژبې کلمو ته څه ډول ځانگړې ماناوې ورکړې دي. ژباړن چې کله وغواړي دغو کلمو ته بدیل پیدا کړي، نو دا تړښت باید هېر نه کړي او معادل یې داسې راوړي چې همغه ارزښت او رول وساتي چې په مبدا ژبه کې یې لاره. له بله اړخه ژباړن دا هم باید هېره نه کړي چې حتمي نه ده چې د مبدا ژبې یوه کلمه دې په موخنه ژبه کې په یوه کلمه واوړي، بلکې دا چاره همیشه نه وي. کله داسې وي چې د مبدا ژبې یوه کلمه په موخنه کې په څو کلمو اوړي، کله داسې وي چې هېڅ نه اوړي او ژباړن اړ کېږي چې همغه کلمه پور کړي، کله یوازې پور کفایت کوي او کله ژباړن اړ کېږي چې تشریح او توضیح یې هم وکړي. ددې تر څنگ کله داسې وي چې د مبدا ژبې د څو کلمو لپاره په موخنه ژبه کې یوه کلمه وي، په دې حالت کې ژباړن اړ کېږي چې یا د یوه قید په زیاتولو سره دا ستونزه حل کړي. داسې هم کېږي چې د مبدا ژبې د کلمې معادل وي، خو د مانا یو جز یا یوه برخه یې رسوي او ټول اړخونه یې نه رسوي، دلته هم د قید او یا ورسره د نورو کلمو د زیاتولو اړتیا وي. پر دې اساس یو ژباړن باید ټولو دغو اړخونو ته پام وکړي، چې ژباړه یې د مبدا ژبې د متن مانا، ارزښت او رول په ښه او ممکن ډول ورسوي.

**ماخذونه**

۱- پیم، انتوني (۱۳۹۹) د ژباړې د تیورۍ شننه (د اسدالله وحیدي ژباړه). کابل پوهنتون، د ژبو او ادبیاتو پوهنځی، پښتو څانگه

۲- صفوی، کوروش (۱۳۷۱) هفت گفتار در باره ترجمه. تهران: نشر مرکز

۳- لطفی پورساعدی،کاظم. (۱۳۷۱) درآمدی به اصول و روش ترجمه. تهران: مرکز نشر دانشگاهی

۴- هاوس، جولیان (۱۳۸۸) مقدمه‌ای بر مطالعات زبان و ترجمه (ترجمه علی بهرامی). تهران: انتشارات زبانکده

۵. Baker, M., In Other Words: A Coursebook on Translation, London and New York: Routledge, ۱۹۹۲

٦. Bassnett, S., Translation Studies, ۳rd edition, London and New York: Routledge, ۱۹۸۸.

۷. Newmark, P., Approaches to Translation, London: Prentice Hall International, ۱۹۸۸a.

۸. Nida, E. A. and Charles R. Taber, The Theory and Practice of Translation, Leiden: E.J. Brill, ۱۹۸۲

## د ارشاک او اوشاس اساطیري حماسه

محب الله ترابي[۱]

اسدالله وحیدي[۲]

**لنډیز**

د وطن په هدیرو کې وي دروېشه
هره شپه نرۍ ژړا او څراغونه

د ارشاک او اوشاس منظومه د ملي یووالي، بهادرۍ، خپلواکۍ ګټلو او نورو موضوعاتو د زده کړې ښکلی هنري بیان دی. دا اثر په ۱۳۹۰ل.ل کال د دانش خپرندویي ټولنې له خوا چاپ شوی دی. موږ په دې څېړنه کې د دې منظومې پر حماسي ځانګړنو او سبکي خصوصیاتو بحث کړی دی او پر دې سربېره مو د اساطیري توکو سپړنه هم کړې ده. اساطیري حماسې کومې حماسې دي؟ ایا ارشاک او اوشاس منظومه هم یو حماسي اثر دی؟ دا هغه پوښتنې دي، چې په دې څېړنه کې ځواب شوي دي. دې پوښتنو ته مو د کتابتوني ډول او تشریحي مېتود پر مټ ځواب موندلی دی.

**ار وییونه**: اساطیري حماسه، ځانګړنې، سبکي خصوصیات، اساطیري توکي.

**سریزه**

په حماسي اثارو کې عموما د یو ملت، قوم یا یو شخص د سرښندنو او قربانیو کیسې

---

[۱]- د کابل پوهنتون د پښتو ځانګې پوهنمل استاد
برېښنالیک: torabimuhib@yahoo.com
شمېره: ۰۷۹۹۳۴۶۰۶۱ ۹۳+

[۲]- د کابل پوهنتون د پښتو ځانګې پوهندوی استاد
برېښنالیک: asad.waheedi۲۰۰۸@gmail.com
شمېره: ۹۳۷۷۷۲۰۰۳۰۱+

کېږي. ارشاک او اوشاس منظومه هم یوه له هغو حماسو څخه ده، چې د اریانا او که په خاص ډول ووایو د افغانانو د بهاردیو او مېړانې، د خپلواکۍ د ترلاسه کولو په لاره کې د اریانا د بچو بې احسانه مبازرې او بریاوې تمثیلوي. په پښتو څېړنو کې د دې منظومې یادونه استاد سرمحقق زلمي هېواد مل صاحب کړې ده؛ خو ټولې ځانګړنې یې نه دي شنلي. همدارنګه د حماسي سبک غوښتنې بېلې دي، چې د استاد په کار کې یې یادونې بیخي نشته. په دې څېړنه کې مو پر دغو دواړو برخو سربېره د اساطیري توکو سپړنه هم کړې ده او دا ثابته شوې ده، چې دا منظومه دپښتو ادب یوه په تول پوره اساطیري حماسه ده. د استاد له کار ورها خوا خپله د لېوال صاحب «په پښتو ادبیاتو کې د اسطورو څېړنه» اثر کې هم د دې منظومې یادونه شوې او په ځینو ځایونو کې د استاد هېوادمل صاحب پر نظریاتو اتکا شوې او بیا ډېر فوکس د دې منظومې په اساطیري اړخ شوی دی، نه په حماسي. نور نو په دې اړوند تر اوسه څه نه دي شوي.

**مواد او مېتود**

په دې څېړنه کې له کتابتوني ډول او تشریحي مېتوده استفاده شوې ده.

**موندنې**

ازادي د سرښندنو په قیمت شي

ننګیالیه لاس وا نخلې له غورځنګه

شاکر

ارشاک او اوشاس د کوشاني پېر د همداسې غورځنګونو منظومه ده. د ارشاک او اوشاس منظومه د اریایانو د غرور او اریانا د عزت او د خپلواکۍ د ترلاسۍ په پار پنځېدلې منظومه حماسه ده. شاعر یې د پښتو ژبې انسان دوسته او عاطفي انسان عبدالغفور لېوال دی. زه دا منظومه د ((ته زما ټوله شاعري یې)) کتاب څخه، چې په ۱۳۹۰ل.ل کال د دانش خپرندویې ټولنې له خوا چاپ شوی درپېژنم. په دې اثر (ته زما ټوله شاعري یې) کې د استاد لېوال له نورې خورې شاعرۍ سربېره درې منظومې ((ارشاک او اوشاس، هوسۍ او لام و ایلینو)) هم راغلي دي، چې زموږ موضوع یې لومړنۍ هغه ده.

استاد زلمي هېوادمل دا منظومه یوه اساطیري حماسه بللې او د دې منظومې د سپړنې په برخه کې یې دا خبرې هم کړې دي، چې ارشاک او اوشاس یوه زړه آریایي اسطوره او

یا هم اسطوره یي روایت دی. په هغه زمان پورې اړه لري، چې دا سیمه ټوله آریانا بلل کېده او کنیشکا یې پاچا وو؛ خلکو د بودا او بودایي دین پالنه او پیروي کوله.(لېوال، ۱۳۹٦ل،۲۹٦م)

موږ یې دلته پر حماسیت سربېره د اسطورې تومنې هم پلټو او دا ثابتوو، چې دا د پښتو ژبې اساطیري حماسه ده که نه؟ پیل یې له محتوا کوو.

### د منظومې محتوا

منظومه په کاپیسا کې د بري د جشن له نمانځلو پیلېږي. مساپر راځي. د دې جشن او خوښیو د نمانځلو علت پوښتي. کاپیساوال ورته د هغه بري کیسه کوي، چې تورلینگیانو او مشر یې ((راجا)) له کنیشکا بغاوت او پر کابل یې برید کړی وو او د کنیشکا لښکرو او سالار د راجا لښکر مات او تر اټکه وځغلوه؛ خو د دې خوښیو او بري باوجود د دې سالار سره د هوسۍ د همایوني تاج، چې د اریایانو د عزت او خپلواکۍ نښه ده، غم هم وو، چې لا هم د پنچالیانو د مشر راجا پر سر وو. همدا مساپر ملنگ جشن ته داخلېږي او بندوي یې او د لښکرو بوډا سالار ته د خپل خوب بیان کوي، چې بودا یې په خوب کې لیدلی او ورته ویلي یې دي، چې باید د ښکلا نذر ورکړي؛ تر څو د بدرنگ او شیطاني طلسم چې راجا له ابلیسیانو زده کړی وو پرې مات شي، ځکه چې دا طلسم د ښکلا په نذر ماتېدای شي. له دې ویلو وروسته ملنگ وځي او تری تمېږي. جشن بیا پیلېږي پکتانا زلمي اتڼ کوي، چې په دې کې یوه ښکلې ((اوشاس)) پر ښکلي ((ارشاک)) مینېږي. نور نو د کاپیسا د سیند غاړه کې د دوی د مینې راز و نیاز پیلېږي. وروسته بیا ارشاک د هوسۍ د همایوني تاج د بېرته راوړلو او د اریانا د عزت ژغورلو لپاره جنگ ته ځي. د کنیشکا د لښکرو مشري هم کوي او اوشاس د بودا معبد ته نذرانه کېږي. تر اټک ها خوا د پکتانا زلمي له خپل ځوان او زړور مشر ارشاک سره یو ځای د تورلینگیانو سره جگړه پیلوي. ارشاک سختې وژنې کوي، بالاخره له خپل اصلي رقیب او د همایوني تاج غاصب سره مخېږي، هغه هم وژني او سر یې په نیزه پورته کوي، همایوني تاج یې له سره رااخلي او خپله غېږه کې یې ږدي. نور پنچالیان ماته خوري. پکتانه زلمي بېرته د باگرام او کابل پر لور د بري له توغ سره یو ځای روانېږي، خو تقدیر بل څه غواړي، هغه نه غواړي چې ارشاک دي د کابل دیدن وکړي. خپله اوشاس له نیلابه د اټک دې غاړه کې مومي او د یو وصیت له ویلو وروسته د اوشاس پر جسد ساه ورکوي. په پای کې کیسه تراژیدیکه کېږي.

دا منظومه د سرښندنو، بهاردیو او عزت ژغورنې د لوست ترڅنگ د مینې درنښت او

عالي موقف ته هم د تعظیم وزرې غوړوي او د رحمان بابا دا بیت راتداعي کوي،چې:

دا دنیا ده خدای له عشقه پیدا کړې

د همه وو مخلوقاتو پلار دی دا

د دې تر څنګ د ایمان او مسلمان په جامه کې پټ شیطان، چې نن یې هم ټولنې له شره نه دي خلاصې هم معرفي کوي، چې څنګه یې د دین په جامه کې د هوسونو ماران له ځانه تاو کړي او د هېواد او خلکو د اذیت پټ پلان لري. د خپلې خاورې او هېواد او له هندوستان سره د پولې یادونه چې اټک دی هم د دې منظومې یوه بنسټیزه موضوع ده. په ټوله کې هغه څه چې موږ له دې منظومې زده کوو داسې خلاصه کولای شو:

- د خپلواکۍ ارزښت او د خپلې خاورې دفاع؛

- باتدبیره فکر؛

- سپېڅلتوب او رښتینولي؛

- د مور وطن د عزت او ابرو ساتنه؛

- د ایمان په جامه کې د شیطان پېژندل او له ړوند اعتماده اجتناب؛

- رښتینې او سپېڅلې مینه او په مینه کې ځانفدايي؛

- او یووالی. دا چې ټول روهستاني او پکتانه زلمي د یوې موخې لپاره روانېږي او په ګډه د بري رپی، جګوي او همایوني تاج (چې د اریانا عزت دی) راوړي، موږ ته دا لوست راکوي، چې غونچه نه ماتېږي او دا د ملي یووالي ښکلی مثال دی.

موږ دلته د دې حماسي منظومې ځانګړنې او سبکي خصوصیات یو په بل پسې څېړو؛ خو تر هر څه مخکې د اساطیري حماسو له یادونې نشو تېرېدای.

**اساطیري حماسې**

کله چې موږ د موضوع له اړخه د حماسو په وېش بحث کوو؛ نو یو ډول یې اساطیري حماسې دي. ادبپوهان دې ډول حماسو ته اصیلې او ډېرې لرغونې حماسې وايي. دا ډول حماسې په ماقبل التاریخ دورې پورې اړه لري او تنسته یې له اساطیرو جوړه وي. لکه د سومریانو د ګیلګمیش حماسه، د فردوسي شاهنامې لومړۍ برخه د فریدون تر داستانه پورې. د ایلیاد او اودیسې ځینې برخې، د رامایانا او مهابهارت ځینې برخې کولای شو د

اساطيري حماسو جز وګڼو.

**د ارشاک او اوشاس حماسې ځانګړنې**

- د حماسي ځانګړنو د غوښتنې مطابق دا حماسه هم د يو ملت د قهرمانيو، سرښندنو او ميړانې داستاني بيان دی. دا حماسه هم د پکتانه او روهستاني شازلمو په خاص ډول د ارشاک د بهادرۍ او ميړانې او د اوشاس د تقدس او ځانفدايۍ خوندور داستاني بيان دی.

- د حماسو تيوري د حماسې له اتل نه د اوږدو سفرونو غوښتونکې ده. د دې حماسې اتل او ملګري يې هم له کاپيسا او بګرامه څخه آن تر اټک او له اټکه ها خوا د تورلينګيو سيمې ته ځي او خپله بهادري ثابتوي، جنګېږي او بالاخره همايوني تاج له ځانه سره راوړي.

- په دې حماسه کې له اټکه هاخوا له پنچاليانو سره په مبارزه کې د ارشاک او راجا تن په تن جګړه او د راجا وژل د دې حماسې تن په تن جګړه بللای شو.

- د نورو حماسو په څېر په دې حماسه کې هم د تورو، نيزو، غشو او نورو حماسي توکو او جنګي الاتو يادونه شوې،چې د حماسي اثارو لپاره اړين توکي دي. د دې ټولو خبرو د اثبات لپاره د منظومې دا برخه لولو:

... هلته د غشو شغهار څخه اسمان چې ډک دی

هلته چې مست آسونه يو د بل سينې ماتوي

چې پکتانه زلمي نيزې واروي

چې پنچاليانو نه لنګونه لوېږي

دغه جګړه ده يوه لويه جګړه

زلمی ارشاک د مست زمري په شان جګړې ته وتی

هره نيزه يې د دښمنو يو کتار ريبي

د هر يو غشي په ګوزار يې څو سينې سورۍ شي

د هرې تورې په ګوزار يې سل سرونه پرېوځي

ارشاک پر سپين آس چې ((ګوربت)) نومېږي

لکه شاهین الوزي

د گوربت آس یې د جنگونو یار دی

او گوربت آس یې د بېلتون د شپو مونس همدم دی

هغه گوربت چې پر تندي یې د اوشاس د لاس ځونډې ځړېږي

گوربت سینه وهي ارشاک جنگېږي

ارشاک د تورې په وهلو کې ستړیا نه لري

چې یو ناڅاپه یې د جنگ میدان کې

د پنچالیانو تور سردار ولیده

هغه راجا چې یې کابل لوټ کړی

هغه راجا چې پر خپل سر یې د هوسۍ همایون تاج ایښی دی

هغه راجا چې کنیشکا ورته قسم یاد کړی

هغه راجا چې د ارشاک زړه یې کسات نه ډک وو

او چې ارشاک یې پر سر

همایون تاج ولیده

زمکه یې پښو لاندې د اور تبۍ شوه

له تورو سترگو یې د قهر سپرغۍ والوتلې

آس ته یې پونده ورکړه

او په جگړه جگړه یې

خپل ځان ور ورساوه

د دوه لښکرو مشران

یو بل ته مخامخ شول

پهلوانانو یو د بل د متو زور معلوم کړ

... د ارشاک سترګې لا د اور بټۍ شوې

په خپل زلمي لاس کې يې توره کلکه ونيوله

او د عشق نوم يې ياد کړ

د هوسۍ لوخ سر يې په زړه وګرځېد

د اوشاس سترګې يې په خيال کې راغلې

پر آريانا يې خپل قسم ياد کړ

او د ګوربت په غاړه يې لاس راوکېښ

ګوربت پرې پوه شو چې وروستۍ جګړه ده

او ګوربت پوه شو، چې له چا سره جګړه کوي اوس

ځکه يې خپل غوړونه څک ونيول

يو ځلې وشيشنېده

پر دوه پښو باندې نيغ ودرېده

او بيا ميدان ته وځغاست

تورو يو بل څخه شرنګی پورته کړ

پهلوانانو يو د بل د متو زور وليده

او جګړه ونښته

راجا د جنګ په چل و ول پوهېږي

راجا ابليس څخه جګړه زده کړې

مګر ارشاک زلمی دی

له هر ګوزار سره راجا لړزوي

راجا په ښي لاس توره ښه کاروي

نو ارشاک و پوهېد چې

د ښمن یوازې په خپل ښې لاس باندې جنگ کوی شي

ځکه گوربت یې په کیڼ اړخ را تاو کړ

گوربت پوهیږي چې ارشاک څه غواړي

گوربت د خپل څښتن په راز خبر دی

نو شیبه وروسته آس په کینه خوا راتاو شو وځغاست

ارشاک ناڅاپه توره کیڼ لاس ته کړه

راجا نه لار ورکه شوه

ارشاک د کیڼ لاس په یوه گوزار اورمېږ ورمات کړ

او د راجا سر تر پښو لاندې راورغړېده

لښکر چې ولید، هیاهو پورته شو

د پنچالیانو جنډه پرېوتله

ارشاک نیزه په سر کې وټومبله...

(لېوال، ۱۳۹۰: ۳۸۱)

د تن په تن جگړې په اړه په دې حماسه کې د بوډا راهب او د سپېڅلې اوشاس د مبارزې برخه هم بېلگه کېدای شي؛ خو د طوالت له وېرې ترې تېرېږم.

- په دې حماسه کې د اناهیتا فرمان نیلاب ته، چې د اوشاس جسد به له اټکه نه تېروې، هغه د اریانا او کاپیسا ملکیت ده او دا د عزت نښه دې په خپلو گردابونو کې راوگرځوه، مه پرېږده، چې دا جسد درڅخه د تولینگیانو سیمې ته لاړ شي. د نیلاب له خوا د دې فرمان منل او نور د دې حماسې مافوق الطبیعي پېښې گڼلای شو.

- د ارشاک آس، چې گوربت نومېږي په ډېرو رموزو پوهېږي. کله چې پکتانه زلمي همایوني تاج گټي او بېرته د کابل پر لور حرکت کوي د اټک دې خوا د نېلاب گردابونو ته یې پامېږي، چې ښکلې اوشاس یې له ځانه سره اټک ته راوړې او په گردابونو کې یې راگرځولې، نه یې پرېږدي،چې د اټک ها بلې خوا ته لاړه شي؛ نو گوربت ششنېږي او پښې پر ځمکه ښخوي، تر څو ارشاک پوه کړي، چې په دې گردابونو کې ستا مَیَنه اوشاس تا ته

په تمه ده. هماغه وو، چې ارشاک نېلاب ته وردانګي او د ښکلي اوشاس جسد څنډو ته له ځانه سره راوړي؛ نو دلته موږ پوهېږو، چې حیوانات پکې ځانګړی رول لوبوي. په حماسه کې لولو:

... او ارشاک بېره لري تنده لري

خو یو ناڅاپه ګوربت آس ودرېد

ګوربت غوږونه څک کړل

ګوربت څه پېښه ویني

او ناکراره ښکاري

چې ګوربت ودرېد لښکر ودرېد

ټول شول حیران چې دا به څه پېښه وي

ګوربت پښې پر زمکه وګنډلې

... ارشاک چې هرڅومره زارۍ کوي ګوربت یو قدم هم نه اخلي

ګوربت ولاړ دی لښکریان حیران دي

ارشاک غوسه شو په ګوربت باندې یې چیغه وکړه

ګوربت ناڅاپه په پښو ودرېده وشیشنېده

او ګوربت داسې لیونی شو چې ارشاک یې کوز کړ

ګوربت شیشنېږي ګوربت پښې ټکوي

خو ارشاک نه پوهېږي

لښکر حیران ولاړ دی

چې یو ناڅاپه ګوربت وځغاسته د سیند په لوري

ګوربت د سیند په غاړه ودرېده وشیشنېده

تا به ویل ځان به اوس په سیند لاهو کړي

خلک حیران دي چې گوربت په سیند کې څه لیدلي؟

ارشاک لښکر ته وویل:

زه مې خپل آس پېژنم

هغه بې ځایه لېونتوب نه کوي

... ارشاک دا غږ وکړ په سیند لاهو شو

ارشاک د مست نیلاب څپو سره سینه وهله

او شېبه وروسته یې په سپین حریر کې

اوشاس ساحل ته راوړه...

(لېوال، ۱۳۹۰: ۳۹۱)

- د حماسو اتلان ملي او قومي رنګ لري او زیاتره داسې کارونه ترسره کوي چې ملي او معنوي ارزښتونه لري. استاد سرمحقق زلمی هېواد مل لیکي: د پښتو د زیاتره شفاهي او تاریخي حماسو اتلان دغه خاصیت لري او زموږ د هرې حماسې د قهرمان کړه وړه په یوه مثبته کارنامه منتج کېږي(هېوادمل، ۱۳۸۸: ۳۹).

د دې حماسې اتلان هم پکتانه او روهستاني زلمیان دي، چې ملي رنګ لري او د اریانا او ښکلي بګرام د عزت ژغورنې هوډ په زړه ساتي. جنګونه یې هم عالي موخې پالي. د تورلینګیانو ماتول او د هېواد برم ګټل او ساتل عالي موخې دي.

- (پر اتلانو باندې د ښځینه الهو مینېدل او د اتل بې پروایي هم د حماسو په ځانګړنو کې ادبپوهانو راوړې ده) (طغیان کاسايي،۱۳۹۳: ۱۵).

خو په پښتو حماسو کې د الهو ذکر ممکن په اساطیري شکل راشي؛ د الهو مینېدل د حماسې پر قهرمان باندې نه ترسترګو کېږي، مګر نورې نجونې وي، چې پر اتل زړه بایلي او دی ترې مخ اړوي. د ارشاک او اوشاس په حماسه کې هم اوشاس په ارشاک مینېږي؛ خو دلته د حماسو د پورته ځانګړنې لږ اپوټه کړنه وینو، هغه دا چې ارشاک هم د دې مینې ته هرکلی کوي. په منظومه کې یې لولو:

... هغه ارشاک هغه بېباکه زلمی

او د برېښنا په شان چالاکه زلمی
هغه چې زړه له يوې پېغلې وړی
د کاپيسا تر ټولو ښکلې پېغله
ها چې د ډېرو د زړګي ډېوه ده
هغه چې تورې تورې سترګې لري
هغه چې حسن يې په زړونو زلزله راولي
د کاپيسا د ټولو نجونو د ښکلا ملکه
ښکلې ((اوشاس)) شوه په ارشاک مينه
... او چې ارشاک شو په اتڼ کې راتاو
ښه چې نږدې شولو اوشاس ته د اتڼ دوره کې
هغې دا دواړه ګلان
په يوې ښکلې ادا
پر ارشاک وورول
د ګلاب ښکلې څانګه
پر ارشاک ولګېده
د هغه سترګې پر اوشاس خوږې شوې
اتڼ يې پرېښود پکتانو زلمو ته
زمکې ته ټيټ شو ښکلې څانګه يې را واخيستله
بيا يې څېرې سترګې راپورته کړلې
او د اوشاس خواږه نظر پورې يې وګنډلې
سترګو د مينې لاره جوړه کړله...

(لېوال، ۱۳۹۰: ۳۴۱)

دلته وینو، چې ارشاک هم د اوشاس مینې ته غاړه ایښې.

- د حماسو اتل ته تر بې ننګۍ مرګ غوره وي. په دې حماسه کې هم موږ د اوشاس حالت وینو، چې دخپل عزت د ژغورنې لپاره نېلاب ته ځان سپاري او له عدمه سره وصلیږي.

- دا چې په اساطیري حماسو کې د اسطورو شتون حتمي وي؛ نو په دې حماسه کې هم له څو اریایي اسطورو لکه« اناهیتا»، «سوریا» او نور سره مخېږو. سربېره پر دې په دې منظومه کې د جادو، طلسم او نورو اساطیري توکو په یادونې د دې حماسي منظومې اساطیري اړخ تقویه کوي. د اناهیتا موجودیت، نیلاب ته یې فرمان او د هغه له خوا د دې فرمان منل، د ملنګ په خبره د ابلیسي طلسم ماتېدا د ښکلا په نذرانې سره، هغه څه دي، چې موږ یې د ثبوت په شکل وړاندې کولای شو. راځئ د ارشاک او اوشاس د بېلوالې شېبې ولولو او د اساطیرو ظهور ننداره وکړو.

د لمر زینه بګۍ

بیا د اسمان پر لاره وځرخیده

او کاپیسا د یوې بلې ورځې مخ ولیده

دا یوه لویه ورځ ده

نن د لمر لور ښکلې «سوریا» هم کاپیسا ته راتله

سوریا چې خپله الماسي نیزه یې

له ډېره قهره د اسمان څنډې ته وویشتله

نن د سیندونو او باران واکمنې

« اناهیتا» هم ژړل

دا دبېلتون ورځ وه

د یوې پاکې او سپېڅلې مینې

د دوه مینو د بېلتون شېبې وې

نن یې ښایسته اوشاس ارشاک نه بېلوله خلکو!

په دغه ورځ د دنيا ټولو مينانو ژړل... (لېوال، ۱۳۹۰: ۳۶۰)

د دې منظومې د سبکي خصوصياتو له ځېړلو مخکې ښه دا ده، چې دلته په لنډ ډول د اناهيتا او سوريا په اړه هم لږ وغږېږو.« اناهيتا، دغه اويستايي رب النوع، په ويدي دوره کې «اپام نپات» ياده شوې، چې د اوبو د لور مانا لري. دا د اوبو، سيندونو، باران او ښېرازۍ ځښتنه بلل کېده. د اويستا په « آبان پشت » کې د يوې ښکلې نجلۍ په بڼه راغلې ده او د زېږېدنې د روزونکې او ميندو ته د شيدو د ببنونکې په صفت هم ستايل شوې ده؛ خو ډېر شهرت د سيندونو او اوبو په واکمنۍ کې لري.

سوريا يې د رڼا او اور ښبه او ځښتنه بلله. سوريا د لمر لور(يا زوی) ته هم ويل شوي او د کابل په خيرخانه کې يې مزدک(معبد) موندل شوی دی. ويل شوي چې سوريا د لمر يوه ښکلې شهزادګۍ وه او په خپله لمر ته يې هم ويل. په هندي ژبه کې لمر ته «سورج» وايي، چې له سوريا سره همريښه ده.»(لېوال، ۱۳۹۷: ۱۹۶)

## د دې منظومې سبک-ښکلاييز اړخ

دا چې حماسه د مېړانو، سوبو او اتلوليو داستاني بيان دی؛ نو د سبک غوښتنه يې همدا ده،چې بايد الفاظ او کليمات يې د لفظ او مانا له اړخه درانه او له عظمته ډک وي. که د ارشاک او اوشاس منظومې ته سر ورښکاره کړئ، تر پايه به د دې متن عظمت ته ګوته په غاښ ياست. ټوله منظومه يې بېلګه کېدای شي.

اغراق او غلو د حماسي سبک غوښتنه ده؛ نو د دې وسيلې څخه پر ځای استفاده پکې شوې ده. په حماسي سبک کې د بديعي ښکلاوو کارونه ډېره نه ليدل کېږي، حماسه ويونکي شاعران هم تر ډېره ترې د اجتناب توصيه کوي؛ مګر د محسوسو تشبيهاتو يادونې پکې ډېرې وي. سربېره پر دې د داسې تشبيهاتو يادونې هم پکې کېږي،چې مور ته انتزاعي مفاهيم په حسي توکو راوپېژني. لکه:

... زړه يې د چا په نري برېتو کې بند

زړه کې يې عشق لکه مات غشی ښوري (لېوال، ۱۳۹۰: ۳۴۱)

يا

... داسې په ملا ماتېدې

د بوړبوکيو غوندې مستې پېغلې

ساز ته په ملا کږې وږې راتللې

(لېوال، ۱۳۹۰: ۳۴۷)

... لښکریان ټول حیران وو

چې په همدې شېبه کې

د پکتانو له منځ نه

یو دنګ زلمی راووت

د ښکلي اس په شان چې سر واخلي

په غربي اثارو کې راغلي، چې په حماسه کې حماسي پوښتنه Epic Question وي. راوي د شعر له الهې یا لارښودې اروا غواړي،چې داستان ورته الهام کړي او له ده سره په دې له برم او عظمته ډک کار کې مرسته وکړي. راوي لـه الهې پوښتنه کـوي او د هغې ځواب د حماسې پیل دی. په پارسي ادب کې د دې کړنې پر ځای له براعت استهلال څخه کار اخیستل کیږي او یا د الهې پر ځای شونې ده موُبد یا بزګر داستان روایت کړي او حتی کېدای شي بلبل دا کار وکړي(شمیسا،۱۳۸۷: ۱۱۱).

په پښتو حماسو کې دا کار له الهو څخه په پوښتنه نه تـر سـترګو کېږي؛ بلکې لـه سیند سره په خبرو لګه د کک او زرینې په حماسه کې یا بل څوک پوښتنه کوي او ځواب یې د هغې حماسې پیل شي، بیا نو تر پایه د حماسې په سیند کې لاهو شو. د ارشاک او اوشاس په منظومه کې هم کله چې په کاپیسا کې جشن نمانځل کیږي او سازونه غږېږي؛ نو یو ملنګ مساپر راځي او پوښتنه کوي:

... کوم مساپر چا نه پوښتنه وکړه

چې دغه جشن دا ښادي ولې ده؟

دومره بې حده خوشحالي ولې ده؟

کاپیساوال ورته ځواب کې وویل:

تر تا قربان شم ناخبره وروره

د آریایانو د برې په خاطر

زموږ د خپلې خپلواکي په خاطر... (لېوال، ۱۳۹۰: ۳۳۰)

له دې ځایه د دې عظیمې حماسې پیل کېږي، چې د حماسي سبک د خصوصیاتو ځانګړې ښکارنده یې بللای شو.

د حماسي تشبیه بېلګې پکې په پرېمانه کچه موندلی شو. ایپیک سیمیلي هغه تشبیه ده چې د یو مشبه لپاره ګڼ مشبه به راوړل شي، کټ مټ لکه جمع تشبیه او دا د حماسې سبک ځانګړی خاصیت دی. راځئ چې د ارشاک او اشاس منظومه کې یې ولولو:

... نو یو ناڅاپه یوه پېغله راغله

نیلي جامې په غاړه ښکلې پېغله

سپینه د سپینې شرشرې په شانې

دنګه د دنګې هسکې سروې غوندې

د نااشنا پېغلې ښکلا ته ټول لښکر حیران شو

او د سالار له خولې ناڅاپه یوه ((واه)) پورته شوه

پېغله میدان ته راغله

په نرۍ ملا باندې کړه وړه شوه

دغه د حورې په شان ښکلې پېغله

نیلي جامو کې څه ښایسته ښکارېده

لکه نیلي اسمان کې جوړ د سپینو ستورو قامت

لکه اوبو کې راپرېوتې سپوږمۍ

لکه سپېڅلې هوسۍ

د اسمایي معبد کې

لکه سپین قو د شنو اوبو پر مخه

لکه د خدای په لاس جوړ شوی تصویر... (لېوال، ۱۳۹۰: ۳۴۸)

څرنګه چې حماسي ژانر د نورو ژانرونو په پرتله له عظمته په ډک لحن وړاندې کېږي، تشبيهات يې هم خورا درانه وي. زه يې له نورو بېلګو د موضوع د اوږدېدو له وېرې ډډه کوم.

د ضد اتلانو تر منځ سوال و ځواب يا پوښتنه ګروېږنه هم د حماسي سبک غوښتنه ده. دا خبرې اترې تر ډېره د مفاخرو په شکل وي او هر يو له دوی څخه غواړي، چې له دې لارې د خپل رقيب په زړه کې وېره واچوي او د يوې وسيلې په شکل استفاده ترې کوي. د ارشاک او اوشاس په منظومه کې هم موږ د داسې خبرو بېلګې موندلی شو. که منظومه کې د ارشاک او د تورلينګيانو د مشر«راجا» تن په جګړې ته ځير شو، نو د داسې خبرو بېلګه يې بللای شو.

د ارشاک او اوشاس په منظومه کې د بېلابېلو جنګي ابزارو يادونې د حماسې روح پياوړی کړی دی او همدارنګه د تورو د خرپ او صف ارايئ خبرې يې خورا خونډورې دي. د دې منظومې د ځانګړنو په برخه کې هغه اوږده بېلګه له پيله د صف اراييځ خبرې هم لري د هغې له تکراره تېرېږو دلته يې يوه بله بېلګه لولو:

... ستر کنيشکا د پکتانو زلميو

يو بل لښکر جوړوي

داسې لښکر چې به نيزې ولري

او تېره غشي به يې تېرې چوي

دغه لښکر به اباسين څخه ورپورې غاړه

د پنچاليانو له راجا سره جګړې ته ورځي... (لېوال، ۱۳۹۰: ۳۳۳)

د حماسي سبک په خصوصياتو کې شميسا د هومري صفاتو يادونه هم کوي او وايي،چې: په غربي اثارو کې چې حماسه يې د هومر د اثارو پر بنسټ بررسي کړې يا څېړلې ده د هومري صفاتو Homeric Ephithet يادونه هم شوې ده،چې د نوم او ستاينوم له يوځايوالي يو مرکب صفت رغېږي... دا ډول صفات په زړو حماسي شعرونو او همدارنګه په ايلياد او اوديسه کې خورا ډېر دي. لکه: سپيده چاودې Rosy fingered dawn يا لکه خدای ډوله پاريس God like paris... د مرکبو صفاتو يا حماسي صفاتو رغښت بېلابېل کېدای شي، ممکن د څو نومونو له ترکيبه هم رامنځته شي او يا هم د تشبيه

په مټ(شميسا،۱۳۸۷: ۱۱۲).

د ډاکتر شميسا خبرې داسې را خلاصه کولای شو، چې د حماسي سبک په خصوصياتو کې د حماسي توصيفي ترکيبونو، چې موصوف يې تر ډېره حماسي وي شتون حتمي دی. اوس نو که د تشبيه پر مټ رغېدلی وي؛نو چې يو اړخ يې له حماسي پديدو وي د حماسي اثر فضا ورسره لا هيجاني کېږي، چې په دې سره د حماسي اثر درونـدوالی نور هم لوړېږي. ارشـاک او اوشـاس منظومـه هـم لـه حـماسي ترکيبونـو مالامالـه ده. لکـه: الماسي نيزه، ياقوتي تخت، د پړانګانو خولې، دغشو شغهار، مست اسـونه، مسـت زمـری او نور. تشبيهي هغه يې په دې ډول دي: د هوس دوزخ، د هوسونو اور، د لمر زرينـه بګـی، د قهر سپرغی، د عشق شهنشاه او نور. ساده حماسي ترکيبونه مو د تشبيهي هغو څخه چې ښه مو واضح کړي وي بېل کړل، ګنې دواړه شکله يې د حـماسي اثـر د عظمـت لوړولـو لپـاره کارنده رول لوبوي. په بيتونو کې يې له بېلګو تېرېږو.

د حماسي اثر صحنې هم بايد د حماسي روح څرګنـدوی و اوسي. د ارشـاک د او شاس منظومې ځينې صحنې د مبارزو او سوبو ډګرونه په سړي سم وينـي او ځينـې يـې بيـا خورا دردونکې هم دي. د اوشاس نذرانه کېدل او له کاپيسا سره د دې خدای پامـاني ډېـره زړه وړونکې او لړزونکې صحنه ده او خورا ښکلې تصوير شوې ده.

په حماسي سبک کې د دې خصوصياتو سربېره ممکـن ښـکلې تصـوير سـازي، د کلام تناسب او... هم د حماسي سبک پـه خصوصـياتو کـې راشي. يـوه بلـه خـبره دا،چې ايجاز او اطناب هم په حماسي سبک کې د حماسي اثر په اړتيـاوو پـورې اړه لـري، مانـا دا چې يو ځای ممکن د اطناب اړتيا وي، بايد کار ترې واخيستل شي، البته دا زما نظر دی لـه نقده ماورا نه دی. دا مې ځکه وويل،چې په هومري تشبيهاتو کې موږ اطناب واضح وينو.

پـه دې منظومـه کـې د ځينـو نومونـو، اشخاصـو او نـور توکـو يادونـه شـوې، چـې لوستونکو ته ښايي نااشنا او ګونګ وي؛ خو استاد لېـوال پـه نـوي چـاپ شـوي اثـر (پنځـه منظومې) کې د منظـومې پـه پـای کـې د دغـو توکـو تشريـح او پېژنـدنې راوړي دي، چـې بريالی هڅه يې بللای شو. د پايلې توګه وايـو، چـې ارشـاک او اوشـاس د پښـتو ادب يـوه عالي اساطيري حماسه ده.

**پايله**

د ارشاک او اوشاس حماسه لوسـتونکو تـه د مـلي يـووالي او خپلـواکی سـاتلو، د هېـواد او

وطن د عزت ژغورنې لوست ورکوي. د دې څېړنې د پایلې په ډول باید ووایو، چې دې منظومې د حماسې ټول اصول پوره کړي او موږ یې د پښتو حماسو په ډله کې د اساطیري حماسو په کتار کې دروو. پر دې سربېره یې د حماسي سبک د ارایې اړخ، چې په کوم شکل باید یوه حماسه و اوډل شي، هم منطقي او د یو حماسي اثر د روح و روان سره برابر دی.

**ماخذونه**


۱- شمیسا، ډاکتر سیروس. (۱۳۸۷ ل). انواع ادبی،څلورم چاپ. ایران: میترا خپرندویه ټولنه.

۲- طغیان ساکایي،محمد یونس. (۱۳۹۳ ل). نظم در دری،متون نظم حماسي. کابل: سعید خپرندویه ټولنه.

۳- لېوال، عبدالغفور.(۱۳۹۷ل). پنځه منظومې. کابل: بهیر مطبعه.

۴- لېوال، عبدالغفور. (۱۳۹٦ل). په ادبیاتو کې د اسطورو څېړنه. کابل: علومو اکاډمی، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست.

۵- لېوال، عبدالغفور.(۱۳۹۰ل). ته زما ټوله شاعري یې. دانش خپرندویه ټولنه.

٦- هېواد مل، زلمی. (؟). حماسه، د ماسترۍ دورې درسي لکچرنوټ. کابل: کابل پوهنتون، د ژبو او ادبیاتو پوهنځی، د پښتو ژبې او ادبیاتو څانګه.

## ژبنی سیاست

شفیق الله امیرزی[۱]

**لنډیز**

ژبنی سیاست اوس په نړۍ کې ولسونو او حکومتونو ته مهمه موضوع ده. ډېر هېوادونه د خپلو ژبو په اړه څرگندې تگلارې لري چې په مټ یې خپلې ژبې پیاوړې کوي. د دې تگلارې تر شا موخه یوازې او یوازې د خپلې ژبې پیاوړي ساتل نه دي، بلکې غواړي په نړیواله کچه خپل هویت وټاکي. ولسونه دا هڅه هم کوي چې خپلې ژبې له ورکېدو وژغوري، ځکه چې ژبه یوازې د اړیکو معنا نه لري، بلکې دا د هر ولس هویت دی، نو هر څوک غواړي پر نړیوال سټېج په خپل هویت وپېژندل شي. په افغانستان کې د ژبني سیاست په اړه بحثونه ډېر کمزوري دي او چې څومره پکار ده، هېڅ کار نه دی شوی. له بلې خوا حکومتونو د خپلو ژبو د پرمختیا او له نابودۍ څخه د ژغورلو لپاره کومه روښانه او پیاوړې تگلاره نه ده جوړه کړې. ژبنی سیاست یو گڼ‌اړخیز علمي بحث دی، چې په دې لیکنه کې لنډې خبرې وړاندې شوې دي، البته پر دې موضوع ډېر کار ته اړتیا ده.

**آر وییونه:** حکومت او ژبه، د ژبو د ودې تگلارې، ژبه، ژبنی سیاست.

**سریزه**

ژبنی سیاست په ټوله کې د ژبو په اړه د حکومتونو او ټولنو تگلارو ته وایي. ژبه په یوویشتمه پېړۍ کې د ملتونو د هویت لپاره خورا مهمه ده او تر څنگ یې د نړۍ ډېری هېوادونه د ژبو د مدیریت او پالیسیو له لارې هڅه کوي په نړیواله کچه د خپل هویت دفاع

---

[۱] - د کابل پوهنتون د پښتو څانگې پوهنیار استاد

برېښنالیک: amirzayshafiq@ku.edu.af ،amirzayshafiq@gmail.com

شمېره: ۹۳۷۸۹۹۰۶۰۲۱+

وکړي. دوی همدا راز غواړي چې د ژبو د مدیریت له لارې له نړیوالو سره د اړیکو لپاره یوه ښکاره وسیله ولري او نړیوال هم که غواړي له یوه ملت سره د تفاهم ژبه ولري نو دا چاره ورته اسانه کېږي. په افغانستان کې ډېر وخت په لاشعوري توگه د ژبو لپاره کار شوی، خو دا چې دې برخې ته د یوې منظمې علمي هڅې په توگه وکتل شي، تر اوسه يې څرک نه وینو. د ژبني سیاست یا د ژبې په اړه د تگلارې جوړول په افغانستان کې ځکه مهم دي چې دلته گڼې ژبې موجودې دي او نړیوال باید په دې پوه وي چې له افغانان وسره د خبرو کولو ژبه او فرهنگ کوم دی. سره له دې چې ژبنی سیاست پراخو بحثونو او علمي مطالعاتو ته اړتیا لري او ما يې یوازې پر ځینو مهمو مواردو بحث کړی دی او په دې باور یم چې دا ساحه لا ډېرو بحثونو او مطالعاتو ته اړتیا لري.

**شالید**

ژبنی سیاست په ټوله کې د ژبې د ټولنپوهنې موضوع ده خو داسې پوهان هم شته چې د تطبیقي ژبپوهنې برخه يې بولي. په دې اړه په نړیواله کچه پراخ علمي بحثونه شوي دي خو په پښتو کې يې شمېره تر څو مقالو نه اوړي. ما ته چې معلومې دي د ژبو د پلان او پالیسۍ په اړه د کابل پوهنتون استاد عبدالسمیع وحدت د ژبې ټولنپوهنې تر نامه لاندې خپل تیزس کې بحث کړی دی. همدا راز ما پخپل تیزس کې (د ژبو د ودې تگلارې) کې هم په یوه برخه کې پر دې بحث کړی دی چې د حکومتونو سیاستونه او د ټولنو تگلارې څنگه پر ژبو اغېز کولی شي. همدا راز ډاکتر اجمل ښکلي د ماسترۍ دورې لپاره د ژبې ټولنپوهنې مضمون په لېکچرونو کې پر دې موضوع مهم بحث کړی دی. په دې مقاله کې غواړم د ژبني سیاست په اړه یو څه پراخ بحث وکړم. په دې مقاله کې ما له مهمو نړیوالو ماخذونو کار اخیستی دی او تمه لرم چې تر یوې کچې دا تشه پوره کړی شي.

**ژبنی سیاست څه دی؟**

ژبنی سیاست یا د ژبو په اړه د حکومتونو سیاست او پالیسي یوه گډځانگیزه علمي ساحه ده. جاشوا فیشمن او اوفیلیا گارچیا په دې باور دي چې دا د ټولنیزې ژبپوهنې څانگه ده. خو یو شمېر نور پوهان لکه برنارد سپالسکي، روبېرت بي کپلان، جوزف لو بیانکو بیا په دې باور دي چې ژبنی سیاست د تطبیقي ژبپوهنې څانگه ده. ژبنی سیاست د ژبو د مدیریت لپاره په یوازې ځان کار نه کوي، بلکې له نورو برخو لکه د ژبو فکري بهیر، د ژبو زده کړه، د ژبو تحول او نورو علمي څانگو سره اړیکه لري. همدا راز له ټولنپوهنې،

فرهنګ، د حکومتونو اوږدمهاله سیاستونه، د حکومتونو تحصیلي او تعلیمي‌تګلارې، اقتصادي تګلارې او ديپلوماتيکې تګلارې ټول هغه څه دي چې له ژبني سياست سره اړیکه لري.

ژبني سياست ته ددې برخې پوهانو ګڼ تعریفونه وضع کړي دي. کپلن او بلداوف په دې باور دي چې ژبنی سیاست د ګڼو مفکورو ټولګه ده. د دوی په باور ژبنی سیاست له ګڼو مفکورو جوړ وجود دی، په دې کې قوانین، اصول، مقررات، سپارښتنې او د حکومت تګلاره ټول شامل دي او دا ټول په ګډه ددې لپاره کار کوي چې څنګه یوې ژبې ته پلان جوړ کړي، بدله یې کړي او په سیستم یا ټولنه کې یې عامه کړي (کپلېن او ملګري، ۱۹۹۷: ۱۱).

لو بيانکو بيا په دې باور دی چې ژبنی سیاست د ژبو رغونه ده. دده په خبره د ژبني سياست له لارې موږ په ژبو کې ستونزې پيدا کوو، بيا يې د حل او له منځه وړلو لپاره د حکومت او ټولنې په کچه تګلارې جوړوو. همدا راز دا مشخصوو چې کومه تګلاره په کوم ځای کې د ژبې د ودې او ښه کولو لپاره کارنده ده (هارن‌برګر او ملګري، ۲۰۱۰: ۱۴۴).

په ټوله کې موږ ويلی شو چې ژبنی سیاست د یوې مشخصې ژبې یا ګڼو ژبو په اړه د حکومتونو او ټولنې تګلارې ته وايي. د ټولنيزې ژبپوهنې د برخې څېړونکي په دې باور دي چې په اصل کې د ژبې لپاره تګلارې حکومتونه ټاکي او بيا وروسته په ټولنه کې د همدې حکومتونو په مرسته عامېږي او يا پر خلکو عملي کېږي. په دې کې ټولې هغه تګلارې راتللی شي چې یا د یوې ژبې د ودې لپاره کارول کېږي، د یوې ژبې د اصلاح لپاره جوړېږي او یا آن د نورو ژبو د څنګ ته کولو لپاره جوړېږي چې دې ته موږ منفي او ويجاړوونکې ژبنۍ تګلارې وایو. لامل يې دا دی چې دغه ډول هېوادونه په ښکاره دا هڅه کېږي چې د یوه مشخص ټبر یا ملت ژبه څنګ ته کړل شي او پر ځای يې د خپلې خوښې ژبه پر وګړو ومني. لاملونه يې ښایي بېل وي، ښايي حکومتونه پکې اقتصادي ګټې ويني، حکومتونه د ځانګړو ملتونو له ترکيب جوړ وي او غواړي متعصبانه چلند وکړي یا هم کېدای شي د افهام او تفهيم او واحدې ژبې د جوړېدو لپاره هڅه وکړي. دا ټول که منفي تګلارې وي که مثبتې؛ د حکومتونو ژبنۍ تګلاره او سیاست جوړوي. موږ په نړۍ کې د ګڼو داسې هېوادونو بېلګې لرو چې په قصدي او پلان شوې توګه هڅه کوي یوه مهمه ژبه له خپل رسمي او کاري چاپېريال وباسي چې زموږ لپاره يې بېلګه پاکستان کېدلی شي.

دوی د پښتو په ګډون ګڼې ژبې ځپلې دي او هڅه کوي په تعلیمي او تحصیلي نصاب کې یوازې انګلیسي او اردو وکاروي.

برنارد سپالسکي (۲۰۰۴) په دې باور دی چې ژبه او د ژبې په اړه سیاست او تګلاره د حکومتونو او ټولنو لپاره خورا مهمه ده. هغه ټینګار کوي چې دا چاره په ټولنه کې نظم او سم سمکي ته مهمه ده او تر څنګ یې منځلاری سیاست د ملتونو ترمنځ یووالي او نږدې کېدو سبب ګرځي. د سپالسکي په خبره بنایي ژبه او ژبني مسایل د وګړو ترمنځ د جګړو لامل نه شي، خو د لرېوالي، کرکې او ناندریو سبب هرو مرو کېږي. د هارویتز په نامه د ټولنیزې ژبپوهنې یو څېړونکی هم وایي چې ژبې د جګړې لامل نه دي، خو په وروستیو لسیزو کې د داسې پېښو لامل شوې چې دده په خبره مرګوني قومي کشمکشونه یې بللی شو. هغه زیاتوي چې دا کشمکشونه ډېر وخت د قبیلوي، قومي، ژبنیو، مذهبي او نورو ټولنیزو نارامیو سبب دي چې په تاریخ کې یې ښکاره بېلګې لرو. د هند په اسام کې د ۱۹۶۰-۱۹۷۲ نارامۍ چې د ژبې پر سر اختلافونه و او پوره ۱۲ کاله دې کشمکشونو دوام وکړ. همدا راز په سریلانکا، موریتاني، کراچۍ او حیدر اباد (۱۹۷۲) او بنګلور ۱۹۹۴، دا ټول هغه کشمکشونه دي چې د ژبو له امله رامنځ ته شوي. د بېلګې په توګه د هند د اسام ایالت سیاستوالو وغوښتل چې آسامي ددې ایالت رسمي ژبه کړي. لوحې، زده کړې او رسمیات ټول په اسامي ژبه شي. دوی د سیلانیانو او ځان ته د ارزښت ورکولو په موخه دا کار وکړ چې د یاد ایالت د مسلمانو اوسېدونکو له سخت مخالفت سره مخ شول. د مصوبې د عملي کولو مخه یې ونیوله او تر ۱۹۷۲ز کال پورې دې ناندریو ادامه لرله (هارویټز، ۲۰۰۱: ۱).

د یادو مسایلو تر څنګ ډېر هېوادونه د یوې ملي ژبې په اړه واضح تګلاره او سیاست لري. د بېلګې په توګه چین له ۲۰۰۰ز کال وروسته یو قانون تصویب کړی چې له مخې یې پوتنګوا رسمي او ملي چنایي ژبه ده. د رسمي او ملي ژبې تر منځ ګڼ توپیرونه دي. یو دا چې یو هېواد کېدای شي ګڼې رسمي ژبې ولري چې په هغه هېواد کې په رسمیاتو کې ځای لري خو ملي ژبه به یې یوه یا څو مشخصې ژبې وي چې هغه ددې هېواد استازولي کوي او هویت یې ښکاروي. چین ټینګار کوي چې پوتنګوا ملي ژبه ده نو ټولې حکومتي ادارې، ښوونځي، پوهنتونونه، رسمي لوبې، رسنۍ او بله هره مرجع چې د خپلو چارو د مخ ته بېولو لپاره په ژبه پورې بسیا ده باید له دې ژبې ګټه واخلي. همدا راز په چیني ژبه کې د بهرنیو کلمو ګډول او یا د چینایي ژبې ناسمه کارونه او تلفظ ددې

مسودې له مخې جرم ګڼل کېږي (سټرېټس ټايمز، ۲۰۰۰: ۳).

د حکومتونو د ژبني سیاست ځینې نورې بېلګې هم راوړلی شو. ترکیې په ۲۰۰۰ز کال کې وغوښتل چې د اروپايي ټولنې غړی هېواد شي، له همدې امله یې په خپلو قوانینو کې بدلون راوست چې له مخې یې کردي ژبه هم په رسمي ژبو کې شامله کړه او خلکو ته یې په دې ژبه د زده کړو او تعلیم د برابرولو حق ورکړ. همدا راز امریکا د همدې کال په نومبر کې یو قانون تصویب کړ چې له مخې یې یوازې هغو کتابتونونو ته حکومتي بودیجه ورکول کېږي چې په سافټویرونو کې یې ناسمې کلمې او لهجې نه کاروي او تر څنګ یې د سپکې ژبې له کارولو ډډه کوي. د ۲۰۰۲ز کال په نومبر کې روسیې پرېکړه وکړه چې د روسیې او ددغه هېواد د فدارسیون د اړوندو جمهوریتونو د ژبو لیکدود باید سرلیک شي او ددغه هېواد دوما له کوم مخالفت پرته د رایو په اکثریت تایید کړه. همدا راز د ۲۰۰۲ز کال د نومبر په ۲۱مه د ترکیې حکومت پرېکړه وکړه چې له دې وروسته به ددغه هېواد رسمي رادیو او تلویزیون په ورځ کې ۴۵ دقیقې په کردي ژبه د کردي وګړو لپاره نشرات کوي. دا ټولې هغه بېلګې دي چې د ژبو په اړه د حکومتونو تګلارې او سیاستونه ښيي او موخه یې د ځینو ژبو خوندي کول او یا د یوې ژبې مسلطول یا د بېلو ټولنو ترمنځ د یوې یوازینۍ ارتباطي وسیلې رامنځ ته کول وي (سپالسکي، ۲۰۰۴: ۱۷).

د یوازې څو ساده بېلګې وې خو که د حکومتونو ژبني سیاست ته ورشو له لسګونه داسې مسایلو سره مخ کېږو. د نړۍ د شاوخوا ۱۲۵ هېوادونو په اساسي قانون کې ژبې ته اشاره شوې ده او هلته یې د ځان لپاره ملي او رسمي ژبې مشخصې کړې دي. ډېری هېوادونه آن د نورو ژبو د کلمو راتګ غیر قانوني ګڼي لکه پورته مو چې د چین د حکومتي قوانینو بېلګه وړاندې کړه. تر څنګ یې بیا ډېری هېوادونه د خپلو ژبو د خوندیتوب او د نورو ژبو د اغېز نه راتګ لپاره تګلارې لري او ځانګړي ستر علمي مرکزونه یې جوړ کړي وي څو د پردیو ژبو د ویونو او جملو له راتګ ډډه وشي او پر ځای نویزونه جوړ شي.

## ژبنی تنوع او ژبنی سیاست

ژبنی تنوع موږ دې ته وایو چې په یوه ټولنه یا هېواد کې وګړي په څو ژبو خبرې کوي. د اړیکو، افهام او تفهیم لپاره څو ژبې عامې وي. که په دې ټولنو کې خلک په څو ژبو هممهاله پوهېږي نو دې ته څو ژبیزه ټولنه وایو (جورج یول، ۲۰۱۷: ۸۷). همدا راز که یو کس په دوو ژبو خبرې کوي دوه ژبیز او که په څو ژبو هممهاله خبرې کولی شي نو ګڼ

ژبېز یې بولو. کاپلېن (۱۹۹۷) وایي په نړۍ کې داسې ښارونه کم پیدا کېږي چې وګړي یې دې یوازې یوه ژبه وایي او داسې بیا ډېر دي چې وګړي یې په دوو یا څو ژبو خبرې کوي. دا هم د ټولنیزې ژبپوهنې مهم بحث دی. دلته دوې خبرې دي، یو دا چې د نړیوالو د فرهنګ او ژبې ملاتړي ژبنۍ تنوع د ټولنو په ګټه بولي، خو بلخوا یې بیا د حکومتونو سیاستونه داسې دي چې دوی هڅه کوي یوه ژبه تر نورو پیاوړې او یا پر نورو برلاسې وي.

حکومتونه د یوې ژبې د پیاوړي کولو تر شا څو موخې لري:

- **ملت پالنه**

ډېر وخت داسې کېږي چې په یوه ټولنه کې یو حکومت واک ته ورسېږي او دا حکومت له یوه ځانګړي ټبر جوړ وي. دوی د خپل ټبر او قوم ژبه تر نور غوره ګڼي نو په دې توګه هڅه کوي نورې شته ژبې کمزورې کړي او یا یې ځای دغه یوې مهمې ژبې ته ورکړي. ښه بېلګه یې د انګریزي استعمار وړاندې کولی شو. دوی چې هر ځای ته تلل لومړی کار یې دا و چې د برترۍ لپاره خپله ژبه پر نورو ومني، دوی باید په خبره ورسره یوه شي او غوښتل یې محلي ژبې وځپي او یا یې د وخت په تېرېدو ختمې کړي. چې په ډېری افریقایي هېوادونو کې یې یا د دوی ژبې له منځه یوړې او یا ددې سبب شوې چې انګلیسي اساسه منځګړې یا کریول ژبې یې رامنځ ته کړې (سټیفن، ۲۰۰۰: ۱۸).

- **اقتصاد**

ځینې هېوادونه بیا د ژبنۍ تنوع د له منځه وړلو تر شا اقتصادي موخې لري. دوی په دې باور دي چې که ژبنۍ تنوع له منځه ځي، نو خلک په یوه ژبه د افهام او تفهیم جوګه شي، اقتصادي معاملات آسانه کېږي او تر څنګ یې نور هېوادونه هم په دې سره پوه وي چې له دې هېواد سره د تعامل ژبه کومه ده. نو په خپلو اعلاناتو، سوداګریزو بحثونو او قوانینو کې یې آسانوالی راوستی وي (هالټ، ۲۰۱۳: ۵۳).

- **تعلیمي او تحصیلي موخې**

ډېری هېوادونه د یوې تعلیمي او تحصیلي ژبې د لرلو لپاره هڅه کوي چې یوه واحده ژبه ولري او د ژبنۍ تنوع مخه ونیسي. ددې لامل دا دی چې دوی په ډېرو ژبو د خلکو له روزلو او په ډېرو ژبو د تعلیم او تحصیل زمینې له برابرولو خلاص وي. دا حکومتونو ته هم اقتصادي ګټه لري او هم ټولنیزه. چین، امریکا، برېټانیا، جاپان او آلمان ددې ډول هېوادونو ښې بېلګې دي. چین او جاپان په بشپړه توګه ژبنۍ تنوع له پامه غورځوي او یوازې یوه یوه

ژبه یې د ملي ژبې په توګه انتخاب کړې ده. اوس که څوک دې هېوادونو ته د زده کړو او سوداګرۍ لپاره ځي له دې سرګردانۍ سره نه مخ کېږي چې اوس به کومه ژبه زده کوم، بلکې واضح ددې حکومتونو ژبنۍ سیاست ورته معلوم وي. خو هغه هېوادونه چې دا ډول ژبنی سیاست نه لري نو له بهر ورتلونکي یې هم له حیرانتیا سره مخ کړي وي چې که هند ته ځم نو له لسګونو ژبو کومه یوه یې زده کړم چې لوړې زده کړې پرې وکړی شم.

**د ژبني سیاست ساحې**

په ژبني سیاست کې تر ټولو مهمه مسئله دا وي چې دا تګلارې او پالیسۍ به په کومه کچه عملي کېږي. د ټولنیزې ژبپوهنې څېړونکي وایي چې په ژبه کې د کلمې له کچې نیولې بیا تر جملې او ان فرهنګ، حکومت او قوانینو ټولو پورې هغه څه دي چې د ژبني سیاست ساحې یې بللی شو. دوی وایي ژبنی سیاست له دې پیلېږي چې په یوه ژبه کې یوه کلمه باید څه ډول ولوستل شي او د لیکلو بڼه یې څه وي بیا آن تر دې چې په یوه ټولنه کې یا تر ملي کچې دا سیاستونه عملي کېږي. مخکې مو د چین د تګلارې په اړه خبرې وکړې دوی همدا ژبنۍ تګلاره عملي کوي په ژبه کې پردیو کلمو ته اجازه نه ورکوي او تر څنګ یې دا هم پکې جرم دی چې یوه کلمه ناسمه ولوستل شي.

د ژبې سیاستونه د کلمو او تلفظ له کچې لوړ د لهجو په کچه هم د عملي کېدو وړ وي. د بېلګې په توګه ځینې حکومتونه پرېکړه کوي چې یوه ثابته لهجه یا ګړدود دې د ژبې د تلفظ او رسمي خبرو اترو لپاره وټاکل شي، همدا فکر په ټولنه کې عملي کېږي او د ژبې یوه بڼه له نورو بڼو غوره بلل کېږي. موږ یې ښه بېلګه په ډېرې نړیوالو ژبو کې وینو. د بېلګې په توګه د عربي ژبې مصري لهجه یا د عراق ځینې لهجې په خپلو خبرو کې د آریایي ژبو ډېر غږونه لکه (ګ) تلفظ کوي خو موږ د سعودي عربستان لرغونې ژبه د معیار په توګه انتخاب کړې چې هغه کې دا غږ نشته دی. همدا ژبنۍ تګلارې وي چې په ژبه کې د ویلو یوه ځانګړې بڼه تر نورو غوره کوي او له مخې یې خپلې رسمي، علمي او ټولنیزې چارې تنظیموي (هارنبرګر، ۲۰۱۰: ۱۸).

نو په ټوله کې ویلی شو چې د ژبني سیاست د عملي کېدو ساحې له ژبې او غږونو پیلېږي بیا په لوړه کچه په یوه هېواد کې د حکومتونو او د دوی سیاستونو ته کرښې ټاکي. د ژبني سیاست په پایله کې یو هېواد پیاوړې ژبه یا ژبې لري، تحصیلي او دیپلوماتیکه ژبه یې معلومه وي، تحصیلي او تعلیمي بنسټونه یې یوه واحده ژبه کاروي او په پایله کې یې ډېرې پېچلې چارې په آسانه ترسره کېدلی شي.

## حکومتونه او د ژبني سیاست مسئله

په حقیقت کې د ژبني سیاست عملي کول انفرادي او د عامو خلکو کار نه دی. دا حکومتونه دي چې د علمي بنسټونو په مرسته ژبو ته تګلارې او سیاستونه ټاکي او د همدې سیاستونو پر بنسټ ژبې له نویو تحولاتو سره مخ کېږي. ځینې ژبې وده کوي او ځینې ژبې لکه مخکې مو چې وویل د ځینو تګلارو پر بنسټ ګوښه کېږي. د نړۍ شاوخوا ۱۲۵ هېوادونو په یو ډول نه یو ډول په خپلو اساسي قوانینو کې د ژبني سیاست یا د یوې یا څو ژبو د رسمیت خبره کړې ده. شاوخوا ۱۰۰ قوانینو د یوې یا څو رسمي ژبو پر ګټو او لاس ته راوړنو خبرې کړې دي. شاوخوا ۷۸ اساسي قوانینو په خپلو متونو کې د یوې ملي ژبې یادونه کړې ده. ۱۸ اساسي قوانینو د دوو ملي ژبو خبرو کړې ده. داسې هېوادونه هم شته چې د وګړو ترمنځ د یووالي ساتلو او ارزښت په خاطر یې په خپلو قوانینو په تېره په اساسي قانون کې د ملي یا رسمي ژبې یا په ټوله کې د ژبني سیاست په اړه هېڅ راز یادونه نه ده کړې. ښه بېلګه یې استرالیا ده چې هلته ګڼې ژبې ویل کېږي او حکومتونه د خپلو ملي ګټو لپاره په دې برخه کې له احتیاط کار اخلي.

نو په ټوله کې دا ثابته ده چې د ژبني سیاست مسئله فردي نه ده او حکومتونه په دې برخه کې د علمي مرکزونو په مرسته خپلې تګلارې جوړوي او بیا یې وروسته د تشهیر او همدا راز سیاسي او ټولنیزو اقداماتو پر مټ په ټولنه کې عاموي. که چېرته د ژبني سیاست یا د یوې ژبې د عاملو تر شا د حکومتونو ځواک او مدیریت نه وي نو دا چاره ستونزمنه ده.

## ژبنۍ تګلارې ګټورې دي؟

د ژبنیو تګلارو او ژبنیو سیاستونو په اړه څېړونکي په دوو برخو وېشل کېږي. یوه برخه په دې باور دي چې که د حکومتونو ملاتړ، ځواک او ژبنی سیاست ثابت وي او دا برخه جدي وي چې یوه ژبه باید د ژبني سیاست په لړ کې قوي او ځواکمنه شي نو دا چاره شونې ده. خو ددې نظریې په مقابل کې بیا مخالفین هم شته دي. دوی په دې باور دي چې برېټانویانو، روسانو او فرانسویانو د پراخ قوت او استعماري فکر تر څنګ بریالۍ ژبنۍ تګلارې نه لرلې او په دې بریالي نه شول چې سیمه ییزې ژبې په بشپړه توګه له منځه یوسي. د دوی په باور پخوانۍ تزاري روسیې او بیا شوروي اتحاد غوښتل چې له خپلو ټولو مستعمرو او فدراسیونونو محلي ژبې ختمې کړي خو بریالي نه شول، سره له دې چې دا ژبې یې کمزورې کړې خو په دې بریالي نه شول چې په بشپړه توګه یې محوه کړي

(سپالسکي، ۲۰۰۴: ١٦). بله خبره دا چې څنګه شوروي اتحاد مات شو نو سم له واره خلکو د خپلو اصلي ژبو په زده کولو او رغولو کار پیل کړ، چې دا هم د ژبني سیاست برخه ده. همدا راز فرانسویانو پوره هڅه وکړه چې د فرانسوي ژبې له څواک په استفادې په فرانسه او ځینو نورو مستعمرو کې محلي ژبې ختمې کړي خو تاریخ ثابته کړه چې دا چاره ناشونې وه. د بریتانیا په اړه هم همدا نظر سم دی (بامګبوس، ۲۰۰۰: ۱۸).

د ژبني سیاست څېړونکي په دې باور دي چې ددغه سیاست مثبت اړخ یعنې دا چې وغواړي یوه یا څو ژبې پیاوړې کړي، ګټور تماميږي. څکه ژبې هېڅ وخت له لګښتونو پرته وده نه کوي او د ژبو د ودو لارې دا دي چې حکومتونه یې تګلارې او سیاستونه جوړ کړي، د ژبې پوهان یې د ژبې د ودې لپاره وګوماري او بېرته یې د تشهیر او عامولو لپاره کار وکړي.

**پایله**

په پایله کې ویلی شو چې ژبنی سیاست د ژبو د ودې او پرمختګ لپاره مهم ګڼل کیږي. هغه ژبې چې نن یې وده کړې ده، له خطرونو بچ دي او نړیوال یې د زده کړې هڅه کوي هغه د یوه ژبني سیاست په پایله کې دې ځای ته رسېدلې دي. په افغانستان کې ژبنی سیاست کمزوری دی او یا دا چې حکومتونه لکه څنګه چې اړتیا ده د ژبو د ودې او پرمختګ لپاره پانګونه او لګښتونه نه کوي. ژبه تر اوږدو مودو پورې د خپل ځان د جوړولو لپاره لګښت ته اړتیا لري او بیا چې کله ژبه اصلاح شي، یوې مهمې مرحلې ته ورسیږي نو نه یوازې دا چې نور لګښت نه غواړي بلکې ویونکو ته یې ګټې راوړلی شي.

**ماخذونه**


١. Barbour. Stephen. ۲۰۰۰. Language and nationalism in Europe. Oxford: Oxford university Press.

۲. Bamgbose. Ayo.۲۰۰۰. Language and planning in west Africa. International journal of the sociology of language.

۳. Crystal. David. ۲۰۱۲. Language death. Cambridge: Cambridge University Press.

٤. Gorge. Yule. ۲۰۱۷. The Study of Language. Cambridge: Cambridge University Press.

٥. Hornberger, Nancy H.; McKay, Sandra L. (٢٠١٠). Sociolinguistics and language education. Bristol: Multilingual Matters. pp. ١٤٣–١٧٦.

٦. Holt. Sally and Packer. Johan. ٢٠١٣. Development and linguistic minorities. MOST journal of multicultural studies.

٧. Sapolsky. Barnard. ٢٠٠٤. Language policy. Oxford: Oxford University Press.

٨. Kaplan, Robert B.; Baldauf, Richard B. (١٩٩٧). Language planning from practice to theory. Clevedon: Multilingual Matters.

## درویش او څراغ

گل‌رحمن رحماني[۱]

**لنډیز**

درویش دُراني د پښتو معاصر شعر مخکښ او نوښتگر شاعر دی چې د خپلو هم عصرو شاعرانو تر منځ یې په غزل او معرای نظمونو کې ځانگړی ځای خپل کړی دی. د نوموړي په غزل کې د پښتني ټولنې د بېلابېلو برخو ژور، خو هنري انعکاس، ټولنیز انتقاد، ناورین، درد، په ټوله کې پښتني ښکلا یا څېره او په شکلي لحاظ معمولاً د څلورو یا پینځو بیتونو راوړلو نوموړي ته جلا ځای ورکړی او د یوه داسې سبک مانۍ یې رغولې ده چې دنگ دېوالونه یې د یوه ژور ټولنیز درد رنگ او تصویرونه لري.

توره، اس، کانۍ، رقیب، هنداره، بلا، ښامار، ښار، دار، تیاره، جنگ، وینه، ستوری، زخم، څراغ او... د نوموړي د شعر د مانۍ خښتې دي چې په خپل شاعرانه مهارت یې په زیاته کچه کارولې، خو په دې لیکنه کې یې د تر ټولو زیاتې کارول شوې کلمې «څراغ» په اړه څېړنه شوې ده چې په بېلابېلو ماناگانو او دریځونو کې د څراغ مانا او مفهوم څېړل کېږي. د څراغ اصلي او بیا بېلابېلې ضمني له اړوند بېلگو سره څېړل شوې او د کلمو په کارونه په ځانگړي ډول څراغ کلمه کې د شاعر پر سبکي ځانگړنه او ژبه هم خبرې شوې دي.

**آر وییونه**: سبک، شعري کلمې، فکر او خیال

---

[۱] - د بغلان پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځي د پښتو څانگې پوهنمل استاد
برېښنالیک: g.rahman_rahmani@yahoo.com
شمېره: ۰۹۳۷۸۲۰۷۶۳۷۲+

## سریزه

د یوه شاعر د شاعرانه سبک په جوړښت او پېژندنه کې کلمې مشخص او کلیدي رول لري، له دې کلمو څخه بیا ځو مشخصې کلمې داسې دي چې هغه شاعر له نورو را جلا کوي او شعر یې په مخاطب پېژني، دا ځکه چې شاعر د سلگونو او زرگونو کلمو له منځه ځو مشخصې او د خپلې خوښې کلمې د خپل دروني کیفیت د بیان لپاره گوماري او له لارې یې خپل هنري لیدلوری او پټ پیغامونه په بېلابېلو بڼو تر مخاطبه استوي.

له کلمو سره د شاعر دا ډول چلند د یوه داسې راز او نیاز دنیا ده چې لومړی یې شاعر درک کوي او وروسته بیا د هغه مخاطب هم ورته ځیر کېږي او په خپل احساس کې یې را گډوي، خو دا ځیر کېدنه د شاعر د موخې سره سم هر ځل جلا او د نوي مفهوم لپاره وي، د تکرار گوته ورته نه نیول کېږي، لارې او زاویې بدلوي، خو په دې هر بدلون کې د شاعر د فکر او خیال یوه پېژندویه نښه موجوده وي چې په لیدو یې مخاطب له خپل شاعر سره اړیکه ټینگوي او د هغه خواته یې بیایي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

موږ د کلیاتو له لیدلوري شاعران ښه پېژنو، خو دا بسنه نه کوي، اړینه ده چې د شاعرۍ دنیا ته یې د جزئیاتو له اړخه ور ننوځو. د درویش دراني په بشپړ غزل د پوهېدو لپاره ښه لاره داده چې د هغه له ځانگړو کلمو او له کلمو سره د هغه په هنري چلند، لرې او نږدې ماناگانو وپوهېږو چې دلته د شاعر کمال او هنر ته له دې زاویې ورننوتو نوموړی نورو ته ښه ور پېژندلی شي.

## د څېړنې موخه

له دې څېړنې لاندې موخې لرم:

۱- له ځانگړو کلمو سره د درویش دراني شاعرانه چلند شرحه کول.

۲- د ځراغ کلمې له زیاتې کارونې څخه د درویش دراني موخې او د موخې پوره کېدل.

۳-د هغه په شاعرۍ کې ځراغ د کلمې اصلي او ضمني ماناگانې موندل او ترمنځ یې د شعري تړاو او موخه سپړل

## مېتود

په دې مقاله کې د څېړنې له تشریحي او تحلیلي میتود څخه گټه اخیستل شوې ده.

**اصلي برخه**

څراغ په عمومي ډول زموږ په ژوند کې د لرغوني فرهنګ او دود یو میراث دی چې د خلکو کورونه، جوماتونه او محفلونه یې روښانه کړي دي او اوس هم خپل ځای لري یاني څراغ لا هم زموږ د تیارو ملګری دی او د برېښنایي ګروپونو په راتګ سربېره هم څراغ نه دی څنګ ته شوی او په همدې ګروپ یا برقي څراغ هم د همغه پخواني څراغ نوم اېښودل شوی، کوم چې په تېلو او نورو روغني توکو روښانېده.

د پښتو ژبې یوه مشهوره لنډۍ داسې ده:

څراغ ته سمه ودرېږه
چې مسافر لالی دې وکړي دیدنونه

په عرفان او تصوف کې بیا نور یا څراغ د اصلي لارې د مرشد او یا هم معرفت په ماناوو کارېدلی، د با هدفه ژوند او لارښود نښه ورته ویل شوې ده. د عارفانو د اصلي مفکورې د لارښوونې او تجربې په اساس انسان یوازې د معرفت د نور په وړانګو کې د ځانګړو پړاوونو او مرتبو په وهلو سره تر خدایه رسېږي او د ټولو مرتبو په تر لاسه کولو سره یو مهال خپله په خدایي نور کې نغښتل کېږي. خدایي نور بېلابېلې مرتبې لري، چې د صوفیانو او عارفانو د لارو او تجربو پر بنسټ وېشل شوې، خو کشف یې د ځان پېژندنې او خدای پېژندنې او نورو عرفاني لارو په وهلو کې نغښتی دی(رحماني، ۱۳۹۸: ۲۱۳).

د دراني صاحب یوه تر ټولو مشهوره شعري ټولګه «په څراغ پسې څراغ» نومېږي، خو «په کاڼي کې هنداره» او «ستوري په لمن کې» کې جونګونه یې بیا دوه داسې شهکارونه بللی شو چې د هنر او ښکلا روښانه څراغونه په کې بل دي او د څراغ کلمې هر ځل راتګ یې جلا موخې لري، حتی د څو غزلونو ردیفونه یې هم د څراغ کلمه لري.

که څه هم ډېرو کلاسیکو او معاصرو شاعرانو د څراغ کلمه کارولې ده، خو درویش دراني په خپله شاعرۍ کې د څراغ کلمې ته دومره اوچت شاعرانه حیثیت ورکړی دی یا به بل عبارت دومره یې شاعرانه کړی دی چې په هر شعر او بیت کې له خپلو جلا مفاهیمو او ښکلا وو سره ځان را څرګندوي او د لوستونکي ذهن له ځانه د پتنګ په څېر راڅرخوي. کله اصلي او کله بیا ګڼې ضمني ماناوې لېږدوي چې دا ټول بیا د شاعر د عقیدې او مفکورې د لېږد او بیان لپاره د غزل په عمومي او انفرادي تصویرونو کې خپل هنري ارزښت لوبوي. دلته به یې د بېلابېلو موخو لپاره له ځینو ځانګړو بېلګو سره بحث وکړو.

**الف: ځراغ له اصلي مانا سره**

له اصلي مانا څخه موخه داده چې د درویش په شعر کې د ځراغ کلمه ډېر ځله یوازې د ځراغ د اصلي مانا یاني په کوټه او تیاره کې د رڼا رسولو د ساده وسیلې په توگه کارول شوې، خو ددې موخې لپاره یې کارېدنه خورا کمه ده، ځکه د شاعر سبک ته په پام سره باید کلمې د نورو ضمني ماناوو لپاره وکارول شي. له لاندې بیتونو په لومړي بیت کې «ځراغونه» د قبرونو له پاسه د رڼا لپاره د یوې وسیلې په نوم کارېدلی دی.

د وطن په هدیرو کې وي درویشه
هره شپه نری ژړا او ځراغونه
(درانی الف، ۲۰۱۸: ۱۸۳)

ستا په پلو کې ده سپوږمۍ ستا په امېل کې ستوري
ستا یې په څه که په جهان کې وي که نه وي ځراغ
(درانی الف، ۲۰۱۸: ۱۹۹)

نه ستوری نه ځراغ و ستا د هجر په سفر کې
د زړه په رڼا تلم په دې تیاره کې اې جانانه
(درانی ب، ۲۰۱۸: ۱۸)

درویش ورپسې ټول عمر اخیستی و ځراغ
خو چېرته یې هم و نه لید غمخور د پښتانه
(درانی ب، ۲۰۱۸: ۴۳)

په پورتنیو نورو بیتونو کې ځراغ تر ډېره حده د خپلې اصلي موخې او مانا لپاره کارول شوی دی چې د درک لگولو او لټون دنده تر سره کوي. کېدای شي کره کتونکي دلته د ځراغ کلمې ته نور تعبیرونه هم ورکړي، خو د اصلي یا لومړۍ مانا رنگ ورباندې غالب دی.

**ب: ځراغ له ضمني ماناگانو سره**

نوښتگر شاعران هڅه کوي چې کلمو ته په ضمني او لرې ماناگانو سره نوی رنگ ورکړي او دا ماناگانې ډېر ځله د معاني او ادبي صنعتونو په مرسته ښکلا پیدا کوي چې معمولا تشبیه، مجاز او استعاره یې غوره وسیلې دي، دلته باید شاعر یوازې د ادبي صنعتونو کارونې

ته ډېر ځير نه وي، بلکې د لفظ او مانا تر منځ ژبني او مانيز تناسب ته هم پام وکړي چې په څراغ کلمه کې دا ځانګړنه ليدلی شو. په ټوله کې دا د هنر او هنري ژبې خپله ځانګړنه ده چې پر شاعر يې رعايت لازم دی.

استاد اسدالله غضنفر ليکي: د علم ژبه هغه کلمې خوښوي چې ايکې يوه معنا ولري خو هنري ژبه د هغو کلمو لېواله ده چې ضمني معناوې هم لري. په هنري ژبه کې که اوبه د ژوند، وصال او عشق ضمني معناوې وښيندي، لا به خوند وکړي، مګر په علمي متن کې اوبه يوازې بې رنګه، بې بويه، بې ذايقې مايع ده چې له دوه اتومه هايدروجن او يو اتوم اکسيجنه جوړېږي. د علم په ژبه کې کلمې وسيلې وي، خو د هنر په ژبه کې کلمه هم وسيله ده، هم هدف، علم د کلمې په معنا پسې ګرځي او هنر ته د کلمې اواز هم پکار دی(غضنفر، ۱۳۹۳: ۱۲).

درويش دراني وايي:

په ماښام د مخ څراغ و ماته بل کړي
په غرمه د زلفو سيوري راوړي راشي
(دراني الف، ۲۰۱۸: ۲۲۶)

په پورتني بيت کې د مخ څراغ ترکيب يوازې څراغ نه دی، د ښکلي او سپين مخ لپاره يې د استعارې صنعت کارولی او خپله خبره يې يقيني کړې ده. په ګڼو نورو بېلګو کې هم څراغ د ښکلي مخ يا معشوقې د کلمو پر ځای کارول شوې. که څه هم ګڼو نورو شاعرانو د معشوقې سترګې هم څراغونو بللې دي چې د مين د بېلتون تيارې ورباندې روښانه کېږي، خو درويش دغه تړاو او تشبيه ته پام نه دی کړی او يوازې د ټول مخ لپاره يې څراغ مستعار کړی دی. ځينې نورې ضمني ماناوې او استعارې يې په لاندې ډول دي.

### ❖ روښانه او نوی فکر

د څراغ رديف لرونکو غزلونو څخه د درويش يو مشهور غزل داسې دی:

نه په زاړه باور لري او نه په نوي څراغ
مور هغه څوک يو چې کورونه مو دي سوي څراغ
لمر که مو مرستې ته راځي نو هم سهار به راځي
ځئ چې د شپې جنګ ته ور واخلو په ورغوي څراغ

ستا په پلو کې ده سپوږمۍ ستا په امېل کې ستوري
ستا يې په څه که په جهان کې وي که نه وي څراغ
هغه هم وخت و چې دا کلي و په خلکو ودان
اوس چې په هر کور کې د شپې بلوي روي څراغ
درويشه! څه بلا ورپېښه ده او څه ترې غواړي
د تورې شپې په ګرېوانه لګوي خوي څراغ
(درانی الف، ۲۰۱۸: ۱۹۹)

په پورتني غزل کې د نوي او زاړه فکر پرتلنه شوې او شاعر نيوکه کړې چې موږ نه له زاړه فکر سالمه ګټه اخيستې او نه مو نوی څراغ (نوی فکر) خپل کړی دی، په وروستيو بيتونو کې يرغمل شوي او خرافاتي فکر ته اشاره ده، د تېر او اوس يوه پرتلنه هم په کې شوې ده چې هغه مهال څراغ د ژوند او ژوندو لپاره و، خو اوس بيا بلاګانو يرغمل کړی او موږ يې په تياره کې پرېښي يوو.

په لاندې غزل کې هم ـ چې رديف يې څراغ کلمه لري ـ ورته مفهوم تکرار شوی دی:

له يوه بل، له بله بل څراغ بل کړی دی موږ
چې تاريکه وي هلته تل څراغ بل کړی دی موږ
دروغ يې مه ګڼه که څوک درته دا وايي دلته
چې نه مو کور شته او نه خپل څراغ بل کړی دی موږ
تورې تيارې د پښتنو په طرف باندې شړو
ناست يوو په کور کې د مغل څراغ بل کړی دی موږ
موږ په هغو خلکو کې نه يو چې ويلای شي دا
چې په دنيا کې اول ځل څراغ بل کړی دی موږ
درويشه داسې نو يو مخ توره تياره هم نه ده
اوس په پښتو کې د غزل څراغ بل کړی دی موږ
(درانی ب، ۲۰۱۸: ۴۵)

دلته هم په تاريکه کې د څراغ بلولو څخه په تياره يا ناپوهۍ کې د علم او فکر خورول هدف دي، هغه فکرونو ته هم اشاره شوې چې د خپل درد پر ځای د نورو په درد خوري، مغل چې خوشحال بابا ورسره په خپل ژوند کې لاس او ګرېوان و او شکايتونه يې

ورڅخه کړي دي، درویش هم په خپلو ګڼو شعرونو کې د لوستونې د مار او ملګري دښمن سېمبول ګرځولی دی. په وروستي بیت کې شاعر بېرته د سبا هیلې ته راګرځي او د غزل څراغ هنري ترکیب کې یې خپله شاعرانه تعالی څرګنده کړه ده چې دلته شاعر په یوه ډول د خپلې ادبي لارې کړلیچونو کې خپل نوي فکر ته هم پام کړی دی.

### ❖ انساني شخصیت

که څه هم د څراغ او معشوقې تشبېه نوې خبره نه ده، خو کلي تشبېه یې کمه ده چې ټوله معشوقه دې څراغ وبلل شي، کله یې سترګې، کله یې مخ او کله یې هم لاسونه ورسره تشبېه شوي دي، خو درویش په ګڼو بېلګو کې څراغ د انسان په څېر ژوندی او محرک موجود بللی دی. په لاندې غزل کې څراغ ته انساني شخصیت ورکړل شوی او د یوې لارې ژوندی او مبارز ملګری بلل شوی دی، څکه یې د دښمن (باد) څپېړې پر مخ خوړلې دي.

کاوه د شپې په ضد زموږ امداد هغه څراغ
په دا څاپېړې وخوړې د باد هغه څراغ
په دېر او په حرم کې یې وي یو شانې رڼا
له هېچا سره نه لري عناد هغه څراغ
لمبه به یې نیولې وه تر شپو تمامه شپه
لوګی مګر پرېښی و ازاد هغه څراغ
رڼا ته به یې توري تېرولې موږ په شپه
له موږه سره ګډ و په جهاد هغه څراغ
د وصل په شپه و ما او اشنا ته په نڅا
درویشه په ښادۍ و زموږ ښاد هغه څراغ
(درانی ب، ۲۰۱۸: ۸۲)

په پورتني غزل کې څراغ د جهاد ملګری او بې عناده ملګری بلل شوی چې له سرتېرو سره د شپې په رڼا کې توري تېروي او له اشنا سره د وصل په شپه یې هم د ښادۍ محفل یوازې په خپله رڼا نه، بلکې په نڅا هم تود کړی دی.

درویشه! زه داسې څراغ د انتظار کړم مینې
چې همېشه د لمر ختو تر وخته بل پاتې یم
(درانی الف، ۲۰۱۸: ۱۴۵)

ددې کمزورې شان څراغ و حوصلې ته سلام
وړې پر سر باندې د سهار تر حده پورې رڼا
(درانی الف، ۲۰۱۸: ۱٦٥)

د مخ رڼا او یا د تندي رڼا د روښان وجدان استازې بلل کېږي، درویش دراني هم په لاندې بیت کې څراغ د پلار له تندي سره ورته بللی او د مور دعا یې په تودوخه کې له سیوري سره تشبېه کړې ده. تندی ځکه مهم دی چې کله کله د انسان د دروني حالت، خوښې او رضایت لوحه وي، یا تندی هغه دړه ده چې د انسان شخصیت وربانديې لوستل کېږي.

په تیارو کې خو د پلار تندی څراغ وي
په ګرمۍ کې خو د مور دعا سایه ده
(درانی الف، ۲۰۱۸: ۱٦٦)

دا منم چې نه څراغ یم نه سهار یم
مګر بیا هم د دنیا د سترګو خار یم
(درانی الف، ۲۰۱۸: ۱٥۸)

بیا په جنګ ښکارې او هوا او څراغونه
خدایه وساتې رڼا او څراغونه
یه مرګیه! ماشومان مې راته خاندي
سره پرېږده څو شپې ما او څراغونه
خپل مخونه ستا د مخ په رڼا مینځي
لمر، سپوږمۍ، ستوري، برېښنا او څراغونه
په دې نور پسې سپېڅلو خلکو مه ځئ
یو ځای شوي دي بلا او څراغونه
د وطن په هدیرو کې وي درویشه
هره شپه نرۍ ژړا او څراغونه
(درانی ب، ۲۰۱۸: ۱۸۳)

په پورتنیو بیتونو کې چې څراغونه د یوه تراژیدیک انځور ځنډې روښانه وي، یوه پلار خپلو ماشومانو ته د څراغونو کلمه راوړې، په شپه کې ماشومان په پلار راټول وي، د

کوټې فضا یې په خوښیو رڼا کړې وي، شاعر دغه ننداره خوښه کړې او ماشومان یې په کوټه هغه څراغونه بللي چې پلار ته رڼا کوي. په همدې ډول له بلا سره د څراغونو یو ځای کېدل بیا له څراغ شکایت دی.

### ❖ زړه

درویشه! باد وژلی یو څراغ دی او که زړه دی
د ننه په ګوګل کې دې تور داغ دی او که زړه دی
(پنهان، ۱۳۸۳: ۲۱۷)

په دې شپه کې که څه شی چېرته بلېږي
نو هغه هم د چا زړه وي څراغ نه وي
(درانی ب، ۲۰۱۸: ۳۹)

چې د زړګي په سر یې بله وي لمبه د مینې
هغه څراغ ته اړتیا نه لري، ډیوه نه غواړي
(درانی الف، ۲۰۱۸: ۲۲۰)

په پورتنیو بیتونو کې شاعر څراغ د زړه لپاره کارولی (مستعار کړی)، زړه چې د عواطفو، مینې او احساساتو مرکز دی، که په الهي معرفت او عشق روڼ شو، نو څراغ دی او د دا ډول زړه خاوند انسان بیا بلې رڼا ته هېڅ اړتیا لري. دلته کېدی شي د سوځنده مینې لمبه هم مجازي او هم کېدای شي حقیقي او عرفاني مینه وي، خو د دویم احتمال په دې زیات دی چې شاعر سرسري خبرې نه کوي، په یوه نیم بیتي کې د څراغ او ډیوې یو ځای راتګ هم دوه تعبیرونه زېږوي.

### ❖ ملګري او ایثار

زه خو څراغ یم په تیارو کې مې زیات قدر کېږي
دا ستاسې غم خورمه تر شپه چې سهارغوره ګڼم
(درانی ب، ۲۰۱۸: ۳۰)

په خپل څراغ د بل څراغ ور بلوو او داسې
له یوه سرایه رڼا وړو تر بله سرایه پورې
(درانی ب، ۲۰۱۸: ۸۶)

دغه رڼا په دې د هر یوه محفل څراغ کړي
درد د ولس واخله او برخه د خپل ذات یې کړه ته
(درانی الف، ۲۰۱۸: ۹۸)

دا بېلګې تر ډېره څراغ ته د انساني شخصیت ورکونې له بېلګو سره ورته والی لري، خو له یوه سرایه تر بله سرایه لېږدېدونکې رڼا د نوي فکر، پوهې او هم په خپله خاوره او ذات د درېدو لارښوونه هم ده چې په یوه ځان نه کېږي او یوه جمعي (ټولیز) حرکت ته اړتیا لري.

### ❖ زخم

زخم که جوړ شي ته به بل وربانديې ولګوې
څراغ که مړ شي ته به بیرته هغه بل کړې اشنا
(درانی ب، ۲۰۱۸: ۱۹)

په دې قول کې درواغ نشته شهیده
ستا تر زخم روڼ څراغ نشته شهیده
(درانی ب، ۲۰۱۸: ۳۲)

درویش کښېني د زاړه زخم رڼا ته
چې کوم وخت یې وس د نوي څراغ نه وي
(درانی ب، ۲۰۱۸: ۳۹)

په لومړي بیت کې د زخمونو او څراغونو تر منځ قرینو څراغ ته د هغه زخم سره تړاو ورکړی چې وینه یې د عشق او حق لپاره تویې شوې وي، د شهید زخم یې تر ټولو روڼ څراغ بللی دی، اور چې ډېر ژبغړانده شي لمبې یې د زېږوالي پر ځای سور رنګ لري، دا زخم ځمکه څراغ ته ورته دی چې د څراغ په څېر روښانه حسن د اغېز نښه او یادګار دی او په یاد یې بلېږي.

### ❖ پل

د څراغ کار به له هغه واخلو چې شپه شي کله
ارو مرو به څه نښان ستا د قدم وي دلته
(درانی ب، ۲۰۱۸: ٥٦)

په تاریکه کې یو څراغ ښکارېږي بل تر اوسه
په لاره پاته دی د تللې رڼا پل تر اوسه
(درانی ب، ۲۰۱۸: ۷۳)

دا ښایي تر ټولو جالبه استعاره وي چې شاعر په سپېرو خارو د خپل محبوب د قدم نښې یا خاپونه (پلونه) د لارې مشالونه بللي او په تاریکه کې یې ورڅخه د څراغ ګټه اخیستې ده، شدت یې په دې کې دی چې کله د محبوب پلونه څراغونه وي، نو خپله دی خو به بېخي د نور جلا ټوټه وي.

## ❖ لاس او ورغوي

ښه راغلی مې په بل شوي څراغ نه وي
چې درځم ستا په ورغوي څراغ نه وي
هر څراغ ته چې کړم لاس په دې تیاره کې
په لاس راشي لاس د روي څراغ نه وي
(درانی ب، ۲۰۱۸: ۳۹)

موږ په خپل فرهنګ کې د کمال او هنر په ځانګړي ډول د لاسي هنرونو خاوندان په بېلابېلو ښو ستایو، یوه ستاینه یې هم داده چې د لاس پینځه ګوتې یې ډېوې ګڼو، خو دا چې څراغ د محبوب ورغوی او هم د بلا لاس وبلل شي، نوې او جالبه خبره ده. په دویمه برخه کې بیا څراغ بېرته چې چل او فرېب په تیاره کې ورک شوی او د بلا لاس ورڅخه جوړ شوی دی، مانا دا چې یوازې د یو چا ورغوی څراغ دی او هر لاس دا ځانګړنه نه لري.

## ❖ محدودیت او ناهیلي

د روښانه څراغ اړونده یوه استعاره هم هېر شوی او داسې ملګری دی چې زموږ فعالیت کې ونډه لري، خو موږ اهمیت نه ورکوو، هېر مو وي، کله چې موخې ته ورسېږو، په خپله مخه ځو، د څراغ مننه او درناوی راسره نه وي، حال دا چې زموږ د فعالیت پایله د همدغه بل څراغ له برکته ده. دراني صاحب دغه اړخ ته هم پام ور اوښتی دی.

خپور لکه رڼا د سپوږمۍ نه شوم په جهان باندې
زه لکه څراغ په یوه خونه کې را ګیر شومه
(درانی ب، ۲۰۱۸: ۵۲)

که له تیارو د تل لپاره وځي
نو څراغونه يې له کاره وځي
(درانی ب، ۲۰۱۸: ۴٦)

نه هلته زموږ مخته بل څراغ و د ماښام
نه دلته راته ستوری د سهار دی مخامخ
(درانی ب، ۲۰۱۸: ۵۹)

لوگی يې پاته دی زما په دېوالونو باندې
خو دا ساعت هغه څراغ گوره چې بل دی چېرته
(درانی ب، ۲۰۱۸: ۴۷)

دلته په لومړي بيت کې شاعر يوې بلې نادرې خبرې ته کار کړی، په تشبيهې فن کې شاعران څراغ له لمر او خپله کوټه له نړۍ سره ورته بولي، خو دروانې صاحب بيا دلته په يوه کوټه کې د څراغ محدوديت بيان کړی دی، ښايي لرې مانا يې په خپل فکر کې ايسار او کوچني پاتې کېدل وي، يوازې ځان ته گټه رسولی وي، حال دا چې غوره والی په دې کې دی چې نورو ته او له زياتو نه زياتو ته گټه ورسېږي. پاتې دوه نور بيتونه بيا د شاعر ناهيلي وړاندې کوي.

### ❖ مينه او جانان

لکه وړاندې مو چې يادونه وکړه؛ له څراغ او شمعې سره د مشعوق مشابهت په شاعرۍ کې يو عام مضمون دی، کېدای شي بيخي د کليشې تر سرحده رسېدلی وی، خو د لفظي هنر او بديعي ښکلا له هنر سره اشنا شاعران بيا هم ځانته نوې زاويې او ليد لوري موندلی شي، چې همدا د کليشو ماتو او نوښتي هنر ځانگړنه ده. درویش وايي:

هغه شپه ته ډېره زياته را يادېږي
چې په کور کې مې تياره وي څراغ نه وي
(درانی ج، ۲۰۱۸: ۳۹)

په دا چې د څراغ مخ وي په هر يوه طرف
هم ماته هم رقيب ته هغه يار دی مخامخ
(درانی ج، ۲۰۱۸: ۵۹)

استعارې ته د تشبیه پرمختللې بڼه وایي چې شاعر له واسطې او مشترک صفت له راوړنې پرته خپله خبره مستقیمه وړاندې کوي. په شاعرۍ کې که یو ښکلی مخ له سپوږمۍ سره تشبیه کیږي، خبره باید د تشبیه د تورو په مرسته وشي، او دا هم کومه نوې خبره نه ده چې معشوقه شمعه او سپوږمۍ سره تشبیه شي، خو دلته معشوقه څراغ بلل شوې، په لومړي بیت کې شاعر وایي چې ته زما د کور څراغ یې، ستا په شتون کې مې درته پام نه وي، خو چې کله څراغ نه وي، بیا سخته را یادیږې، همداسې په دویم بیت کې هم محبوب څراغ بلل شوی چې ده او رقیب دواړو ته یې یو ډول رڼا رسیږي او دواړو ته مخامخ دی.

که پورتنیو بېلګو ته د ادبي فنونو له زاویې وګورو، راته څرګندیږي چې دلته له څراغ کلمې ځخه بېلابېلو تعبیرونو او دلالتونو کې استعارې او مجاز خورا بنسټیې نقش لوبولی دی چې هم یې د شاعر موخه بیان کړې او هم یې کلام کې رنګ او خوند پیدا کړی دی.

استعاره په لغت کې د یوه شي امانت غوښتل دي او په ادبي اصطلاح کې هغه مجاز ته ویل کیږي چې علاقه یې په تشبیه ولاړه وي، خو د مبالغې په بڼه راځي (پنهان، ۱۳۸۳: ۷۷).

په عمومي ډول یوه بله یادونه هم اړینه ده چې د څراغ کلمه له خپلې اصلي او ضمني ماناګانو سره د مثبتو او منفي نقشونو لپاره راغلې ده، د درویش په اکثره شعرونو کې څراغ د ژوند او خوښیو لاربنود، ملګری او مرستندوی دی، خو کله کله بیا د روڼې او بلا لاس ته مستعار شوی، شاعر وایي:

په دې نور پسې سپېڅلو خلکو مه ځئ
یو ځای شوي دي بلا او څراغونه

شاعر خو د ټولنې ویښ وجدانه او خواخوږی انسان وي، خلک د څراغونو په رڼا کې ژوند ته هڅوي، خو کله چې ورته وایي په دې رڼا او دې سپېڅلو خلکو پسې مه ځئ، نو لامل هم ورته څرګندوي او هغه دا دی چې اوس دا څراغونه له بلاګانو سره یو ځای شوي او په داسې حالت کې بیا خپله پخوانۍاو اصلي دنده نه شي تر سره کولی چې هدف همغه منفي نقش دی.

په شاعرۍ کې کله کله څراغ د تېرو خوږو یادونو لپاره سېمبول شوی هم دی او «د یادونو څراغ» هنري ترکیب په هنري نثرونو او هم شاعرۍ کې زیات کاریږي چې دلته د

شاعرد ماضي نوستالژي ورسره تړلې ده او درویش صاحب په خپله شاعرۍ د ماضي نوستالژي هم لري.

د کره کتونکو په اند نهیلي، غم، خپګان او زړه تنګي د نوستالژي مهم عنصار دي چې په رومانتیکو شعرونو کېحرکت کوي. دغه غمیزه او غمجنه انده د یو پټ او مرموز درد په توګه په رومانتیکو شعرونو کې خپل لنګر اچوي او باید په هغو کې وپلټل شي (کرګر، ۱۳۹۷: ۵۴).

ښه شعر دې یوه سفر ته بیایي، کېدای شي چې شېبه وي یا اوږد سفر وي، خو ښه شعر د ځینو په باور لوستونکي ته داسې احساس ور په کوي لکه دی چې همغه د شعر په مکان وي یا غواړي چې ورشي (پسرلی، ۱۳۹۷: ۲۳).

شاعرانه کلمې اکثره حسي بڼه لري او شاعر هڅه کوي چې یوه نه، بلکې څو ماناګانې پر لوستونکي ونه لولي، بلکې وربانديې ویې ګوري، د همدې کلمې مانا ځکه تر ډېره د لوستونکي یا د شعر د مینه وال پر احساس او عواطفو پورې تړلې ده، ددې کلمو له منځه ځینې یې داسې دي چې د شاعر د ښکلاییز لید او مزل لپاره تر نورو کلمو چټک چمتو والی لري او شاعر وربانديې په ارامۍ او ډاډ تکیه کوي.

**پایله**

د پیاوړو شاعرانو یوه ځانګړنه داده چې خپل مخاطبین له ځان سره د حس په زرین مزي تړي. درویش دراني له همداسې شاعرانو دی او په خپل هر غزل کې د درویش غزل په لوستونکي حالت ګوري، له ځان سره یې د ښېتنو کلي کور، ناخوالو او بدبختیو ته یې بیایي چې له نږدې یې ننداره وکړي، په دغه سفر کې درویش دراني له خپلو ځانګړو شعري کلماتو او بیا په ځانګړي ډول ځراغ څخه ډېره هنري استفاده کړې ده، کله د معشوقې او ناوې ښکلی مخ راښانديې ګوري، کله د یوه ټپي زخم ته بل دی، کله په هدیرو او قبرونو کې بلېږي، کله بیا سفر بیخي دروني دی، د یوه سپېڅلي زړه او ستومانه روان ننداره راښانديې کوي او یا هم د شاعر ایډیال او ورک ارمان دی چې د زمانې له بادونو سره ډغرې وهي، خو په دې هر حالت کې شاعر خپل ځانګړی بیان او اسلوب نه دی هېر کړی او خپل ځراغ یې روښانه ساتلی دی.

**ماخذونه**

۱ـ پسرلی، اجمل. (۱۳۹۷لمریز). ښکلا د خوشحال په غزل کې. کابل: علومو اکاډمي او

کابل پوهنتون ـ ادبیاتو پوهنځی.
۲ـ پنهان، فضل محمد. (۱۳۸۳لمریز). ادبي ارمغان. کندهار: خپله لیکوال
۳ـ دراني، درویش. (۲۰۱۸ زېږدیز). ستوري په لمن کې (پنځم چاپ). کندهار: کندهار پوهنتون ـ ادبیاتو پوهنځی.
۴ـ دراني، درویش. (۲۰۱۸ زېږدیز). په کاڼي کې هنداره (پنځم چاپ). کندهار: کندهار پوهنتون ـ ادبیاتو پوهنځی.
۵ـ دراني، درویش. (۲۰۱۸ زېږدیز). په څراغ پسې څراغ (پنځم چاپ). کندهار: کندهار پوهنتون ـ ادبیاتو پوهنځی.
٦ـ رحماني، ګل رحمن. (۱۳۹۸لمریز). د تصوراتو بڼ. کابل. د ولسمشرۍ ماڼۍ فرهنګي مشاوریت.
۷ـ غضنفر، اسدالله. (۱۳۹۳لمریز). جادوګر هنر(لومړی چاپ). ننګرهار: مومند خپرندویه ټولنه.
۸ـ کرګر، محمد اکبر. (۱۳۹۷لمریز). پښتو شعر او تېر ارمان. ننګرهار: هاشمي خپرندویه ټولنه.

## دریاب قاموس ته کتنه

عزت‌الله نورزی[۱]

**لنډیز**

په پښتو کې خورا زیات قاموسونه لیکل شوي، خو موږ دلته یوازې دریاب قاموس ته کتنه کوو چې هم لویه وییزېرمه لري او هم یې زیات وگړي کاروي. زموږ کتنه به یوازې د اصلاح او سمون لپاره وي. پښتو قاموس لیکونکي دې خیریوسي چې د پښتو ژبې کلمات یې راغونډ کړي او که دغه راټول شوي مواد د مېتودولوژۍ په رڼا کې جوړ شي، نو پښتو ژبې ته به مو لوی خیر رسولی وي. قاموسي وییونه ثابته تیوري نه ده، بلکې د وخت په تېرېدو په کې بدلون راځي، د ځینو وییونو معنا پراخېږي او د ځینو محدودېږي، یعنې د اپلاېټ خصوصیت لري، موږ دلته د معاصرې قاموس لیکنې د تیورۍ پر اساس "دریاب" قاموس ته کتنه کوو او په هغو ننگونو یې خبرې کوو چې په یوه قاموس کې ورته پاملرنه اړینه ده.

**آر وییونه**: سرویی، قاموس، معیار، هممانیز

**سریزه**

قاموس لیکنې په برخه کې ډېرې څېړنې شوې او د کمبریج غونډې لوی سیندونه د همدې هڅو پایلې دي چې موږ باید ترې استفاده وکړو.

موږ ډېر قاموسونه لرو؛ خو خبره د معیار ده، څومره معیاري او دقیق سیندونه لرو؟ دا او داسې نورې پوښتنې زموږ موجود قاموسونه ننگوي. زموږ له قاموسونو یو زده

---

[۱] - د کابل پوهنتون د پښتو څانگې پوهنیار استاد

برېښنالیک: ez.noorzai@gmail.com

شمېره: ۹۳۷۸۲۰۷۶۳۷۲+

کوونکی موثره استفاده کولای شي؟ د ورځنۍ استفادې څومره قاموسونه لرو؟ دا پوښتنې ګڼې دي؛ خو د دې ټولو ستونزو د هوارې يوه لار د قاموس ليکنې له مېتودولوژۍ سره اشنايي ده. زموږ زياتره قاموسونه له دې مېتودلوژۍ نه په ناخبرۍ کې ليکل شوي دي او د پښتو قاموسونو داسې نورې ګڼې ستونزې دي، چې په درياب قاموس کې خبرې ورباندې کوو.

**ارزښت**

درياب قاموس له ډېر لوی اهميت سره سره ځينې ستونزې هم لري. زما د څېړنې ارزښت همدا دی چې د نويو قاموسونو لپاره يوه داسې مېتودلوژي وليکل شي چې د غلطيو مخه يې ونيول شي او په پښتو ژبه کې هم ښه قاموسونه تخليق او تحقيق شي.

د پښتو ژبې د کلماتو اصلي زېرمه قاموس دی او ژبه هغه وخت پرمختګ کوي چې ښه قاموسونو ولرو او دغه قاموسونه يوې تيورۍ ته اړتيا لري.

**موخه**

اوس له قاموسه يوازې د معنا پېژندنې ګټه نه اخيستل کېږي، بلکې د دې لپاره هم استفاده کېږي چې يوه ژبه څنګه چا ته وښودل شي او څنګه يې په متن کې استعمال کړي او خلک د يوې ژبې لغتونه څنګه وايي، نو د قاموس د ليکلول لپاره اړينه ده چې تر ادبياتو، ژبپوهنې ور اخوا قاموس ليکونکی يې د اصولو سره هم بلدتيا ولري.

هغه مليتونه وده کوي چې په خپل چاپېريال کې نقادان ولري. پر درياب قاموس باندې زموږ ليکنه يوازې اصلاحي بڼه لري چې په راتلونکې کې قاموس ليکونکي ورته پام وکړي. زموږ او زموږ په ګاونډيو هېوادونو کې قاموس‌ليکنه خورا پيکه ښکاري. افغانستان په قاموس‌ليکنه کې اوږد تاريخ لري، خو د قاموس ليکنې په مېتودلوژۍ پسې يې چا ډېر سر نه دی خوږولی او ليکل شوي قاموسونه په خپل وخت کې ګټور دي. په زياتره قاموسونو کې چې قاموس کاروونکی خپله ستونزه ګوري، نو د ستونزې پرمهال چې قاموس ته مراجعه کوي، نو هلته له نورو ستونزو سره مخامخېږي. دلته لنډې خبرې پرې کوو چې په راتلونکې کې د دې غلطيو مخنيوی وشي.

**پوښتنې**

۱ – درياب قاموس په معيار جوړشويو قاموسونو کې راتلی شي؟

۲ – دریاب قاموس د ټولې پښتني سیمې وییزپرمه لري؟
۳ – قاموس یوازې د لغتونو زېرمه ده؟
۴ – قاموس یوه مشخصه مېتودلوژي لري؟

**څېړندود**

۱ – کتابتوني
۲ – مېتود یې توصیفي – تحلیلي دی.

**دریاب قاموس ته کتنه**

دریاب قاموس د قلندر مومند او فرید صحرایي لیکلی قاموس دی چې د افغانستان او پښتونخوا کلمات یې په کې راجمع کړي او تر ډېره دغه قاموس معیارونو ته نږدې دی او د تعریفونو په جوړولو کې یې هم نسبتاً زیار ایستلی، مگر د تلفظ شېوه یې مشکله او د قاموس کارونکي ستونزې نشی حلولی او ځینې لغتونه چې دلته خبرې پرې کوو، مصنعوي ښکاري.

دلته غواړم د "دریاب" قاموس د تعریفونو په اړه خپل نظر ولیکم. دا قاموس د پښتو ژبې تر ځینو قاموسونو زیات لغتونه لري، خو زموږ د ژبې ټولې ستونزې نشي هوارولی. هغه قاموس چې په یوه ژبه لیکل کېږي، یعنې یوژبیز قاموسونه دي، نو سرویيونه یې باید د تعریف، بېلگو، هممانیزونو له لارې وسپړل شي.

په دریاب قاموس کې زیاتره لغتونه په هممانیزونو معنا شوي یا تشریح شوي یا یې هم تشریح نیمگړې ده، لکه: (خونه) «کور، کاله، مکان، کوټه جمع خونې.» د لته د خونې تعریف نه دی شوی او هممانیزونه یې هم نیمگړي دي، (مکان) په افغانستان کې خونې ته نه وایي، مگر په پښتونخوا کې ورته وایي او یوازې کوټه یې هممانیز ده. دا چې (مکان، کاله) کله خونې ته وایي، باید په بېلگو کې روښانه شي. خونه یو کل ده باید د تعریف هممانیزونو، میرونیمونو او بېلگو په مرسته روښانه شي، لکه:

خونه: څلور سره وصل دېوالونه چې مشترک بام، ور، کړکۍ لري او د خوب یا ناستې لپاره کارېږي؛ کوټه

که موږ (خونه) بشپړه پېژنو، نو اړینه ده چې یوازې خونه په څو معناوو وکاروو، په ځینو سیمو کې (خونه) هغه ځای ته ویل کېږي چې اور پکې بلېږي.

د (ور) تر سرويي لاندې ليکل شوي: «دروازه – تمبه – جمع ورونه -». لومړي (ور) او (دروازه) توپير لري. په زياتره سيمو کې (ور) د خونې وي، خو (دروازه) د حويلۍ وي او لويه وي.

د (رارسېدل) تر سرويي لاندې ليکل شوي: «مصدر لازمي – رسېدل ـ له بله ځای راتلل ـ راواردېدل – راانتقالېدل –»

(را، در، ور) د هرې کلمې تر مخ راځي، که موږ يې د هرې کلمې تر مخ راوړو، ممکن قاموس مو لکونه سروييونه ولري، نو موږ بايد اصله کلمه قاموس ته داخله کړو.

د (رسېدل) تر سرويي لاندې ليکل شوي: «مصدر – ترسره کېدل – پوره کېدل – بشپړېدل – (۲) پخېدل – (۳) څوانېدل – بالغېدل – ودې ته رسېدل – (۴) ورسپارل کېدل.»

که يو څوک پورتنۍ معناوې گوري، تر هغې چې بېلگې يې ونهويني، په دې معناوو نه پوهېږي چې د (رسېدل) فعل کله د (بالغېدو) په معنا دی يا هم د (پخېدل) په معنا دی.

رسېده: «۱ (رسېده، ترسره کېدل، پوره کېدل، بشپړېدل؛۲) مج، پخېدل (د غلې، مېوې....)؛۳ (څوانېدل، بالغېدل، ودې ته رسېدل؛۴) ورسپارل کېدل»

د درياب قاموس زيات تشريحات سم نه ښکاري چې پکار ده په نورو قاموسونو کې د استفادې پر مهال تکرار نشي. د کلمې سم تعريف هغه دی چې له نورو يې بېله کړي. درياب قاموس د (پرتوگ) په تعريف کې ليکي: «پړتوگ، پائجامه، هغه لباس چې د نامه د لاندې تر ښنگړو او بېلهيو پورې اغستلی کېږي.» دغه تعريف پرتوگ، برجس، نېکر او پتلون نشي سره بېلولی، ځکه پوره تعريف نه دی. پوره او دقيق تعريف معمولاً ډېر مشکل دی. د دې مشکل د اسانولو يوه لاره دا ده چې د نورو ژبو د کامیابو قاموسونو له تعريفه استفاده وشي. په دې کار کې دوو ټکو ته پام پکار دی: يو دا چې په پښتو کې دې د تعريف سبک ترجمه ځېلی نه وي او بله دا چې د ژبو او کلتورونو توپير ممکن د يو څه بېل تعريف غوښتنه وکړي.

د (تود) تر سرويي لاندې ليکل شوي: «گرم، دَ سوړ ضد، مؤنث توده، جمع مؤنث تودې، جمع تاوده.»، دلته مونث حالت له قاعدې وتلی نه دی او راوړل يې هم بې‌گټې دي.

د (زنکۍ) تر سرويي لاندې ليکل شوي: «زيره – يوه خوشبو دار باريک تخم چې اکثره په گرمه مصالحه کې اچولی شي». د داسې کلماتو لپاره بايد تصوير کارول شوی وای، که نه داسې يو تعريف خو شوی وی چې قاموس کارونکی پرې پوهېدلی وی.

د (کشور) تر سرويي لاندې ليکل شوي: «ملک- ولايت- اقليم». د (ملک) معنا يې سمه ده، مگر نورې معناوې يې سمې نه دي.

د (زانگو) ته سرويي لاندې ليکل شوي: «ځانگو- هغه گواره چې ماشومان پکې زنگولی شی- جمع زانگوگانې.»

د (زنگول) تر سرويي لاندې ليکل شوي: «جوتې ورکول، ځنگول». سرويي بايد داسې تعريف شي چې کارونکی ورباندې پوه شي او که کوم لغت پکې کارول کېږي، نو هغه بايد له مرجع سره سمون ولري.

د (پورې کول) تر سرويي لاندې ليکل شوي: «پورېباسل- پورېستل- لگول- کېښودل- ړدل- (٢) بندول – (٣) شروع کول (۴) بلول- (۵) تپل (٦) مښل (٧) د نگولي يا بل کوم داسې څيز سره روتی خوړل

ښايي د پښتونخوا په سميه کې يې دغه ټولې معناوې سمې وي، مگر که دغه هممانيزونه د بېلگو له لارې روښانه نشي، د يوې بلې ژبې کارونکی نه وربانديې پوهېږي او هغه څوک چې تخصص ولري ځينې معناوې لکه د (بلول)، (شروع کول) معناوې ورته ناسمې ښکاره شي، خو که بېلگې راوړل شوې وی، معناوې به هم ښکاره وی.

په "دریاب" قاموس کې د کلمو د تشريح د اندازې په برخه کې کوم معيار نه وينو. مثلاً (زناکاره) د (زناکار) دوه برابره ځای نيولی دی. په داسې حال کې چې يوه کلمه ده، يوه د نرينه او بله د ښځينه لپاره کارېږي.

د (زناکار) تر سرويي لاندې ليکل شوي: «زاني، زناکوونکی، جمع زناکاران». که زناکار څوک ونه پېژني نو نور هممانيزونه به يې څه وپېژني، که لنډ ليکل شوی وای «هغه څوک چې له نا محرمو ښځو سره جنسي اړيکه کوي».

د (زناکاره) تر سرويي لاندې ليکل شوي «د زناکار مونث- بدلمنه- بدکاره- کاسيره- کنجره- گشتی- هرچاخانه- ناجائزه تعلقات ساتونکې ښځه- جمع زناکارې-»

د قاموس په تدوين کې د سبک د وحدت او انسجام لپاره ځينو ټکو ته پام پکار

دی. د کار تر پیل کېدو له مخه ځینې سبکي اصول وضع شي. مثلاً که انساني صفت تعریف کېږي، په یو ډول کلمو دې پیل شي، لکه: بې ایمانه: هغه څوک چې ایمان نه لري. بې قصوره: هغه څوک چې ګناه او خطا یې نه وي. په "دریاب" قاموس کې د لیکلو لپاره دغسې قرارداد نه لیدل کېږي.

د (بې‌ایمانه) تر سرویي لاندې لیکل شوي: «وګورئ بې ایماني». بیا د (بې ایماني) تر سرویي لاندې لیکل شوي: «بې ایمانتیا، بې ایمانتوب، بې غېرتي، (۲)بې همتي، (۳)بې زړۀ توب، (٤)دروغژني،، (۵)دوکه بازي، ټګماري».

د (بې قصوره) تر سرویي لاندې لیکل شوي: «بې ګناه، بې خطا). خو د پښتو په ټولو قاموسونو کې سبکي وحدت نشته دی.

د سبک په اړه د واضح دریځ نشتون د دې سبب شوی دی چې زموږ قاموس لیکونکي د هغو کلمو په توضیح کې چې تعریف یې مشکل دی، مشکل ولري. ربطي او اضافي حروف که څه هم په ژبه کې ډېر زیات راځي او بنسټیز اهمیت لري، خو څرنګه چې تعریف یې مشکل دی، نو زموږ قاموس لیکونکي ترې په منډه تېرېږي. مثلاً د (مګر) وییکی په لیکل شوي:«خو، لیکن، لاکن.». (خو) د «لیکن، مګر) په معنا ښودل شوی دی، خو وییکي باید ښه توضیح شي او بېلګې ورته راوړل شي.

د (خو) معرفي داسې بهتره وه: (خو) د ربط وییکی دی او معمولاً د داسې دوو جملو په وصلولو کې پکارېږي، چې د معنا له پلوه تقابل ولري. لکه: اکسفورډ ښه قاموس دی، خو ډېر لوی دی... دغه شرحه او مثالونه باید تر هغه حده ادامه ومومي چې (خو) هم له نورو ربطي وییکو بېل شي او هم یې ډولونه معرفي شي.

له لویه سره د قاموس لیکلو سبک موجز وي، یعنې تر وسه وسه له نااړینو معلوماتو او یوې جملې په داخل کې له نااړینو کلمو ډډه کېږي. له بلې خوا پکار ده چې یو لاسی او منسجم سبک وي او لوستونکي ته دا احساس ورکړي چې له واحد متن سره مخامخ دی. د کلمو په استعمال کې دقت، د جملو په بیان کې وضوح او د متن رواني د قاموس لپاره نور ضروري سبکي توکي دي. هره علمي لیکنه باید همدا ځانګړنې ولري. دا خبره سمه ده، مګر د قاموس لپاره کامیاب لیکنی سبک څکه ډېر اهمیت لري او په ټینګار ارزي، چې د نورو زیاترو کتابونو برخلاف بیا بیا ورته مراجعه کېږي او مراجعه کوونکی ورڅخه د ژبې د بې عیبه او معتبر متن توقع لري.

د کلمو د تعریف د اندازې په باره کې باید یو روښانه معیار ولرو. که یو مفهوم په لس، پنځلس کلمو کې تعریفېږي، دا ناعادي اوږدوالی نه دی. د "دریاب" قاموس تعریفونه ډېر لنډ دي، مګر کوم تعریف چې اوږد شوی یو ډول ستونزه هم پکې ده، یعنې د معلوماتو او املا ضعف هم ورسره ملګری دی. زیاتره ځایونه یې سرویي له لغت سره سمون نه خوري، مثلاً د (سپانده) تر سرویي لاندې لیکل شوي: «سپیلني، دسپیلني بوټی، (۲) بې قدره، سپک». سپانده یو ډېر تریخ بوټی دی، سپلنی جلا شی دی، بل سپانده بې‌قدره ته نه وایي، د (سپک سپاند) په کلمه کې چې د وروستاړي رول لوبوي، هغه یو جلا سر مدخل دی.

په یوه قاموس کې د سرویي لپاره د کلمې انتخاب، د هغې د املا لپاره یو معیار، د هغې سم تلفظ، د هغې ګرامري مقام او بالاخره د هغې معنا راځي. د کلمې د ګرامري ډول تعین د هغې دقیقې معنا ته په رسېدو کې مرسته کوي. له بلې خوا د ژبې د ګرامر په باره کې واضح او پراخه تصور له قاموس لیکونکي سره د کلمو په انتخاب کې او د هغو لپاره د ځای په انتخاب کې لوی لاس کولای شي، خو په دریاب کې داسې هم شوي، چې یوه کلمه یې په څلورو بېلابېلو املاوو مدخل کړې ده.

**پایله**

که په پښتو ژبه کې د قاموس لیکنې تاریخي بهیر ته پاملرنه وکړو، نو وینو چې دغه قاموس لیکنه له هېواده بهر پیل شوې، په دې معنا چې د لومړي ځل لپاره په بهرنیو هېوادونو کې پښتو قاموسونه یا د پښتو قاموسونو مقدمات برابر شوي.

پښتو قاموس لیکنه له افغانستانه بهر په اروپا او روسیه کې پیلېږي او د یوه معیاري قاموس د لیکلو هڅه شوې ده.

د پښتو ژبې لومړني قاموسونه د درس په موخه لیکل شوي، زیاتره لکه پښتو سیند یوازې هغه لغتونه پکې راوړل شوي چې په عامه ژبه کې کارېږي، په ځینو قاموسونو کې لکه پښتو – پښتو تشریحي قاموس کې د ژبې د ټولې وییپانګې د راغونډولو هڅه شوې ده.

په پښتو کې زیات قاموسونه لیکل شوي او هر یو یې بې‌ګټې نه دی او د پښتو ژبې د ستونزو د حلونې په پار لیکل شوي او زیاتره یې له نیمګړتیاوو خالي نه دي چې بېلابېل لاملونه لري، مګر یو لامل یې د پښتو ژبې د یوه سم لیکدود نشتون دی، د پښتو ګړدود د

سمې څېړنې نشتون او تر ټولو لوی لامل یې په پښتو کې د قاموس لیکنې د مېتودولوژۍ نشتون دی.

که دغه راټوله شوې ويي‌پانګه د یوې مېتودلوژۍ پر اساس برابره شي، له څېړونکو، ژبپالو، د ژبې له زده کوونکو سره به مو لویه مرسته کړې وي.

**مأخذونه**


۱ - ابهری، عاطفه. جعفری، زهرا، زادګان، ندا. سلسه سبزي، کبری. سمراد، سوسن. صناتي، مرضیه. طاهري، فرزانه. قطره، فریپا، ګرکانی، ندا. فرهنګ‌نویسی مباحث نظری و کاربردی، کتاب هبار: تهران، ۱۳۹۵ لمریز کال.

۲ - ساغر، شریفي. قطره، فریبا. درآمدی بر فرهنګ نویسی، خیابان بهار: تهران، ۱۳۹۷ لمریز کال.

۳ - غضنفر، اسدالله. پښتو - پښتو تشریحي قاموس ته کتنه، تاند ویب پاڼه (http://www.taand.com/).

۴ - نورزی، عزت الله. د قاموس لیکنې لارښود (د ماسټرۍ تېزس)، کابل پوهنتون، ۱۳۹۹ لمریز کال.

۵ - مومند، قلندر. دریاب، امیر پرنټرز: پېښور، ۱۹۹۴ زېږدیز کال.

٦ – Atkins, B. T. s. (۱۹۸۵), Monolingual & Bilingual learner's Dictionaries: a comparison: in R.F. Ilson (ed.) Dictionaries, lexicography & language learning oxford: Pergamon.

۷ – B.T. Atkins and Michael Rundell. (۲۰۰۸). The Oxford Guide to Practical Lexicography, Published in the United States by Oxford University Press inc. New York.

۸ – Marie-Claude L' Homme. (۲۰۰۵). Terminology and Lexicography Research and Practice, Amsterdam_/_Philadelphia: John Benjamins Publishing Company

## اوربلکۍ د ساينسفېکشن په تله کې

عبدالحق سلامزوی[۱]

**لنډيز**

ساينسفېکشن چې د ساينس او فېکشن څخه رغېدلی محتوايي داستاني ژانر دی، موضوع يې ساينس دی چې له تخيل سره مل د داستان په سانچه کې وړاندې کېږي. اوربلکۍ بشپړ ساينسفېکشن ناول دی چې محمدآصف عمر ليکلی دی او د ساينسفېکشن اصول يې پکې عملي کړي دي، موضوع يې د ساينسفېکشن د «نووم» اصل پر بنسټ نوې ده او هم يې د دې ژانر د اصولو پر بنسټ د نوې وسيلې د جوړولو بهير په سيستماتيک ډول بيان کړی دی.

**آر وييکي:** اوربلکۍ، ساينس، ساينسفېکشن، فنتازي، فېکشن.

**سريزه**

په پښتو ادب کې د ساينسفېکشن په اصلي او واقعي معنا کم ناولونه ليکل شوي دي. د څوارلسمې پېړۍ په نهمه لسيزه کې په افغانستان کې پښتو ادب ته له ښه مرغه څلور ساينسفېکشن ناولونه راغلل، د نصيراحمد احمدي جوجو او *رنگه غوړونه* او د محمدآصف عمر *اوربلکۍ* او *شاتگ*[۲]. په افغانستان کې د ژول وېرن داستانونه محمود طرزي وژباړل... او د ساينسفېکشن بنياد يې اېښی (غضنفر، ۱۳۹۹: ۳۸۱). د توماس مور ۱۵۱۶ز کال ليکلې کيسه اېتوپيا: په پښو ادب کې د ساينسفېکشن په برخه کې لومړی اثر ... گڼلی شو، چې منشي احمدجان په ۱۹۰۷کال کې ژباړلې ده (منلی، ۱۳۹۹: ۳۸۱).

---

[۱] - د کابل پوهنتون د پښتو ژبې او ادبياتو د ماسټرۍ محصل
برېښناليک: abdulhaq.salamzoy@gmail.com
شمېره: +۹۳۷۹۸۹۰۸۵۸۲

[۲]- پر فېسبوک‌پاڼه https://www. facebook.com/ASIFOMAR٦٧ باندې خپور شوی

د جورج اورویل ۱۹۸۴ *وروستی سړی*[۱] په دې ژبه کې ژباړل شوی پوره ساینسفېکشن ناول دی.

که [په پښتو کې] د ساینسفېکشن ریښو ته سړی ورشي نو تر ډېره حده زموږ په اساطیرو او ولسي داستانونو کې ریښې لري، ... د جلات خان او محبوبې کیسه [کې] جلات خان یو بېدم جوړوي... د زرګر شاګردي کوي. له هغه د زرګرۍ کمال زده کوي او د زرګري د کار په وسیله باندې یو حیوان جوړوي چې په دې حیوان کې دی ننوځي او د محبوب کلا ته د ده لار پرانیزي، یعنې په حقیقت کې ده یوه تخنیکي وسله جوړه کړه چې د یوه حیوان شکل یې درلود، د داسې یوه حیوان شکل چې نخرې یې کولې، یعنې موږ اوس ورته روبوټ وایو (منلی، ۳۸۱مخ). د مسګر او نجار نکل کې یو میسګر د میسو داسې یو ماهی جوړوي چې کله څوک په کې ننوځي او دریاب ته پکې ولاړ شي نو هلته ټول ماهیان رانسي او ان ورسره نهنګان وژني. نجار بیا داسې یو د لرګیو صندوق جوړوي چې دوه پېچونه لري د یوه پېچ سر چې وپېچي صندوق په هوا شي او د بل پېچ سر چې وپېچي نو صندوق بیرته په ځمکه راښکته شي [چې د الوتکې یو ډول مخانګېرلې طرحه یې بللای شو] (محرابي، ۱۴۰۰: ۴۹).

*اوربلکۍ* په افغانستان کې په پښتو ادب کې د دغه ژانر یوه عالي نمونه ده. محمدآصف عمر خېل دا ناول په ۱۳۹۴ کې تر *جوجو* یو کال وروسته چاپ کړی دی چې د ساینسفېکشن اصول پکې په ښه ډول مراعات شوي دي او د دغه ژانر په تول پوره نمونه یې ګڼلای شو. دلته د ساینس، فېکشن، فنتازۍ او ساینسفېکشن تر پېژندنې وروسته د اوربلکۍ کیسه شنل شوې او د ساینسفېکشن له زاویې ورته کتل شوي دي.

**ساینس**

ساینس یوه سیستماتیکه پروسه ده چې د کایناتو په اړه په تجربي توضېحاتو او وړاندوینو سره پوهه رامنځته او اداره کوي (اېډوارډ، ۱۹۹۹: ۴۹). یعنې ساینس پر تجربه ولاړ دی، د کایېناتو په اړه وړاندوینې کوي او هم تجربې کوي، چې د دې دواړو په مټ پوهه رامنځته کېږي او په منظمه ساینسي پروسه اداره کېږي.

---

[۱]- عزت‌الله پېژاند پښتو ته راژباړلی دی.

## فیکشن یا تخیل

تخیل هغه خام او لومړني مواد دي کوم چې د انسان په ذهن کې شتون لري، [ذهن یې] صیقل او تراشي... او د هغوی ترمنځ نوې او نادرې اړیکې لټوي او بالآخره د نویو واقعیتونو او پنځونو لپاره یې چمتو کوي (امیري، ۱۴۰۱: ۱۰). خیال د واقعیتونو کتل او درک کول دي او بیا د پېژندل شویو واقعیتونو د یو د بل تر څنګ ایښودلو په نتیجه کې د یوه [داسې واقعیت پیدا کول دي، چې هغه زموږ په پخواني چاپېریال کې نه و (منلی، ۱۳۹۹: ۷۳).

## فنتازي

فنتازي، د لیدو وړ کولو ته وایي. د فیکشن یو ژانر دی چې پر تخیلي توکو ولاړ دی. معنا یې جادو، ماوراءالطبعي بدله نړۍ، خارق العاده اتلان، بلاوې، ابولهوال، پېریان/ښاپېرۍ، خیالي مخلوقات، افسانوي اتلان ده. [یعنې] کوم څه چې یو لیکوال یې له حقیقي نړۍ ورهاخوا تصوروﻻی شي، فنتازي بلل کېږي. هغه تخیلي داستانونه دي چې جادو، سحر او فوق فطري قوتونه او ماوراءالطبیعي پېښې او ځواک یې عمده برخه وي، دېوان، ښاپېرۍ، جادوګران، ساحران او نور په هوا ګرځي ... د جادو او سحر په مرسته پکې هر کار ممکنېږي... د تصوراتو انتها پکې نه وي، چې لیکوال څه ډول سوچ کوي خپل لوستونکی هغه طرف ته روانوي او له دې سختو سختو غوټو او مشکلاتو څخه د خلاصون لپاره داسې پېچلې، منطقي او سختې مارپېچې لارې هم نه لري... په یوه چوپ او چیغه له دغه حالته راوتلای او بل ته اوښتای شي (عایل، ۱۳۹۸: ۳۴).

## ساینسفیکشن

هغه خیالي واقعیت چې د اوسني معلوم ساینس په چوکاټ کې منطقي وي مګر عملاً ممکن نه وي (منلی، ۱۳۹۹: ۳۹۷) ساینسفیکشن، فیکشن دی یعنې کیسه او داستان دی... تخیلي دی خو له بلې خوا چې ساینس [ورسره] وایاست نو په عمل کې هم ریښه لري (غضنفر، ۱۳۹۹: ۳۹۷). فیکشن په ادبیاتو کې دوه مفهومه لري: داستان او تخیل؛ science بیا علم ته وایي، چې له دې امله science fiction له درېیو توکو رغېدلی: داستان، تخیل او علم. نو ځکه یې علمي تخیلي داستانونه یا ادبیات بولو. همدارنګه فضایي سفرونه، په وخت کې د ننه سفرونه، راتلونکې پېښې، بشر او نړۍ ته راتلونکي پېښېدونکي ګواښونه، بشري ټېکنالوژیکي او ساینسي پرمختګونه او بدلونونه، بیولوژیکي او چاپېریالي بدلونونه

او پرمختګونه د علمي تخيل دنده ده (عايل، ۱۳۹۸: ۸).

ساينسفېکشن ته د مفکورو ادبيات هم ويل کېږي. ساينسفېکشن د اټکل وهلو او د حدس وهلو ژانر دی چې ليکوال په خپله کيسه کې داسي تخيلي توکي راوړي چې اوسمهال په حقيقي نړۍ کې نه وي خو په راتلونکي کې يې د منځته راتلو امکان وي (محرابي، ۱۴۰۰: ۴۰).

د ساينسفېکشن لپاره د کليفورنيا پوهنتون استاد Forrest J. Jackerman د sci-fi مخفف جوړ کړ چې اوس بيا د sf مخفف هم زيات استعمالېږي. ساينسفېکشن له يوه لوري خيالي fantasy دی، يعنې ناممکن تصورات دي، له بلې خوا بيا پر حقيقت ولاړ ژانر دی، چې پېښې يې په حال او يا راتلونکي کې وي. په فنتازي يا خيال کې چې د دېوانو، ښاپېريو، پېريانو، او جادوګرو کيسې وي او ستر ستر کارونه کوي، فرق يې له ساينسفېکشن سره په دې کې دی چې په ساينسفېکشن کې د کرکټر، پېښېدونکي پېښې او د هغو د حل لپاره ورسره منطقي او جالب او سيستماتيک ساينسي ابزار هم موجود وي او په کوزړۍ کې په کتلو، د ګوتمۍ په ښورولو او په څراغ او چوپ او چيغو خپل کار مخته نه بيايي (عايل، ۱۳۹۸: ۲۲).

خو دا هم بايد ووايو چې د ساينسفېکشن ډېری ليکوال د طبيعي علومو (کېميا، رياضي، ټېکنالوژي، فزيک، طب او...) څانګوال وو.

په تاريخي لحاظ، لومړی ځل په ۱۸۱۸ کې په کره ډول او د علمي اصولو له مخې مېرې شېلي د فرانکېنشټاين «Frankenstein or the Modern Prometheus» په نامه ساينسفېکشن (علمي تخيلي ناول) وليکه (ارمان ب، ۲۰۱۸، ۱۷۵).

**اوربلکۍ**

«اوربلکۍ» د محمدآصف عمر[۱] ناول دی، په **۱۳۹۳** کال مازيګر کتابپلورنځي خپور کړی

[۱]- محمدآصف عمر د افغانستان د لغمان ولايت د اليشنګ ولسوالۍ اوسېدونکی دی. د هلمند د لښکرګاه د هلکانو له لېسې فارغ په اوکراين کې يې د ادېسې ښار له ساختماني انستېټوټ څخه ماسټري اخيستې ده. له ۱۳۸۱ لمريز راهيسې د افغانستان لپاره د بي بي سي د تعليمي پروژو کارکوونکی او بيا د دې پروژې د تعليمي خپرونو مشر و. د روسيې په سانت پېترزبورګ ښار کې يې کيسه ليکنه پيل کړه. د شين آسمان سيوری، د تورتم په لور، مکمل ځناور، وروستی ساه، مينه د ننګ په لومه کې، حوره، د بلې دنيا واده، د بخت پتاسه، لړ په ځان پام کوه، د مرګ ماتې، نامېده هڅه،

دی. په دې کیسه کې نړۍ ټوله د څلورو استازیو له خوا اداره کېږي او د استازو جرګه‌ګۍ ترې جوړه ده. جرګه‌ګۍ غواړي په کاوون هوټل کې هغه قانون لاسلیک کړي چې پر بنسټ به یې ښځې نور بچي نه زېږوي، بلکې د نرانو سپرم به ماشین ته ورکول کېږي او هغه به هم بچیان ورته زېږوي او هم به یې روزي او چې څوک بچی غواړي نو همدا اداره به یې ورکوي. د استازو جرګه‌ګۍ غواړي دا قانون د ټولو لپاره وي او استثناء پکې نشته. یوه اووه کسیزه ډله داسې الوتکه جوړوي چې لیدل کېږي به نه. د استازو د جرګه‌ګۍ غړي وتښتوي او دې ته یې راضي کړي چې دا قانون لاسلیک نه کړي. بیا به د دوی دغه موافقه پر اېنټرنېټ په ټوله نړۍ کې خپروي.

**اوربلکۍ او ساینسفېکشن**

«اوربلکۍ» ناول د ساینسفېکشن د دوو ډولونو سخت ساینسفېکشن او پوست ساینسفېکشن اغېزلې بڼه ده. په سخت کې یې د ټېکنالوژیکي وسایلو چې کمپیوټر، کمپیوټري سیستمونه، الوتکې، د وړانګو دېوالونه، رڼاکوونکې او فېلم ثبتوونکې عینکې، تیرې ویشتونکې ماشین، له میلیونونو مایکرو کمرو څخه جوړه الوتکه او دغسې نور وسایل هغه څه دي چې اوربلکۍ یې د سخت ساینسفېکشن (hard science-fiction) په لیکه کې راوستې ده.

بلې خوا ته د ماري دروني بدلون او د شوشین او ابوالعباس بدلون د پاسته ساینسفېکشن ځانګړتیاوې دي. څکه چې نرم ساینسفېکشن (Soft Science Fiction) داستانونه په فرد، ټولنه، انساني نفسیاتو او احساساتو ولاړ وي، چې بنسټ یې ټولنپوهنه، انسان پېژندنه، اقتصاد، سیاسي علوم، ارواپوهنه او دا ډول نورو موضوعاتو اېښی وي. په دې معنا چې تر ساینسه ډېر د انسان د ژوند پر نورو اړخونو راچورلې.

په دې ناول کې د ساینسفېکشن ټول پړاوونه په ښه ډول ګام په ګام د منظم پلاټ له مخې سره اوډل شوي دي. د ناول غړي د پېښو او عمل په مټ معرفي شوي، د الوتکې د جوړولو بهیر بیان شوی دی. لوستونکي ته په منطقي ډول د داسې یوه نوي څیز د جوړېدو دلایل ویل شوي دي. د بېلګې په ډول، زمری وایي: «نتاشې! تا او فرانسوا الوتکه امتحان

---

بېچاره شتمن، غیرتیان، اوربلکۍ، شاتګ، پرېښته، جنګلاوه، مینې جادو، وتلې اروا، کلیواله (پر فېسبوک خپور شوی)، د نړۍ مشهورې ماجراوې (ژباړه)، ښه ناول وپېژنئ (د ناول لیکلو لارښود)، نوموړي څو لنډې کیسې هم لیکلې دي او هم یې له روسي ژبې ځینې کیسې پښتو کړې دي. د نوموړي پر فېسبوک‌پاڼه د کیسې په اړه د ده ډېرې لیکنې دي.

کړه، چې له سترګو ورکېږي که نه؟

- هو ګرانه. خو اوس ام اوربلکۍ په هوا کې لکه اوبه ښکاري. زړه یې راوخوړ.» (عمر، ۱۳۹۳: ۳).

او بیا د دې کار د بهیر مخکنۍ هڅې هله رابرسېره کېږي، چې کله د پولیسو ډله الوتکه مومي او سکرین او د تورو ټکو غونډې مایکرو کمرېویني، پر څرنګوالي تر خبرو وروسته یې زلیخا وایي:

«... ما په نېټ کې ولید. دا تجربه د زمري خان کورنۍ پروسږ کال ام کړې وه. دسې توپ یې جوړ کړی و، چې ستا په مخ به ولګېده خو تا نه لیده. یو ځل د توپ یوه برخه زخمي شوې وه. دا توره پرده یې تورل شوې وه. اغه ځای دسې ښکارېده لکه سوری چې وي (هماغه: ٦١ – ٦٢).

دې موضوع د نووم یا نویوالي آر هم پوره کړی دی. نووم – Novum چې لاتیني نومونه ده، معنا یې «نوی شی» ده. ډارکو سوون وایي چې علمي-تخیلي کیسې باید د نووم پر بنسټ لیکل شوې وي، چې له امله یې د کیسې خیال پر منطق بدلېږي (عایل، ۱۳۹۸: ۱۲). څکه تر اوسه پورې دغسې کومه بله موضوع نه ده لیکل شوې او نابه ده او هم تر اوسه [د ناول تر چاپېدو پورې یعنې ۱۳۹۳ پورې] دغسې کومه وسیله لا جوړه شوې نه ده. د بېلګې په ډول، کله چې د جوړولو په دوران کې د اوربلکۍ ډله د پولیسو الوتکې ویني: «دوی بې اندازه وارخطا شول. هر یوه د خپل مړوند موبایل بېخي بند کړ. د اوربلکۍ د کوټې تپونه او پایپونه په چت کې ورک شول. د ښیښې دېوالونه هم ښویه په ځمکه ننوتل. له پاسه لوی سرپوښ راغی اوربلکۍ یې پټه کړه. په سرپوښ پسې خځلې نښتې وې. کټمټ ډېران ښکارېده. جمبو په رېموټ کنټرول یو کسیزې الوتکې د کوټې دروازې کوټې ته ننوېستې. زنګ وهلی قلف یې ورواچاوه. کمپیوټرونه په نریو چوکیو ننوتل. چوکۍ یې قاتې قاتې لکه کتاب په لاسو کې ونیولې. اوس تالار بېرته د داسې کارځای په څېر شو چې د پېړیو راهیسې ترک شوی وي... پتمن... تر پټېدو مخکې یوه څراغ ته د لګېدو امر وکړ. څراغ تیاره خپروله.»(هماغه، ٦).

د هر چا هر ډول کرونولوژیک یا نېټه په نېټه معلومات له پولیسو سره خوندي وي، مثلاً کله چې پولیس فرانسوا ویني: «(فرانسوا دیپاردې نومېږي. د ډیجیټل وسایلو انجینر دی. له کامیا کپور سره یې وداه کړی دی» (هماغه: ۷).

همدغسې د هغه وخت مناسبه فضا هم ښه انځور شوې ده. داسې نه ده چې مقابل لوری یې په ټېکنالوژۍ کې کمزوری وي او یوازې د کیسې اتل دومره پرمختللی وي. مثلاً کله چې الوتکه کاوون هوټل ته ننوځي، د ریکاردو په سکرین کې پام شي چې د نیمې ثانیې لپاره په امنیتي پرده کې تشه رامنځته شوه «... ورسره سم د وړانګو دېوال اوچت په سرو لمبو بدل شو... د ریکاردو د الوتکې ګردچاپېر د هوا لویه څپه تاوېږي، غوچ ځایونه لټوي چې په لمبو نه ویشتل کېږي (هماغه: ۱۳).

دا موضوع هم نااشنا او هم د درک وړ ده. علمي تخیلي کیسه داسې ادبي ژانر دی چې اړین بنسټیز توکي یې *ناآشنایي* او *ادراک* دي، چې لیکوال یې باید د خپل عملي ژوند د انځورولو لپاره تخیلي اډانه ورغوي. د *ناآشنایي* موخه هغه ناآشنا پېښې دي چې په علمي تخیلي کیسو کې انځورېږي او شرط یې دا دی چې دا حیرانوونکې او ناآشنا پېښې باید زموږ په رښتیني عملي ژوند کې عادي نه وي. د *ادراک* مطب بیا د کیسې هغه اړخ دی چې لوستونکی د کیسې مفهوم پکې درک کوي. مطلب د کیسې په متن کې مستدلل او قانع کوونکي ثبتونه او دلایل راوړل شوي وي. خو که متن وچ منطقي وي چې یوازې د شعور او منطق په زور پرې پوهېږو، مګر تخیل پکې نه وي، دا بیا یوازې علمي متن دی نه علمي تخیل (هماغه: ۱۲). مطلب، دا موضوع لوستونکي ته نوې ده او څرنګه چې داسې څه تر اوسه پېښ شوي نه دي نو نااشنا ده او له بلې خوا چې لوستونکی موضوع درک کوي او ورسره مل ځي، نو درک وړ هم ده او دا د ساینسفېکشن ناولونو لویه ځانګړنه ده. مثلاً په دومره پرمختللي وخت کې څرنګه پولیس د ویډیو د خپرېدو یا ثبتېدو ځای موندلای نه شي؟ ټېکنالوژیکي علت یې په ناول کې داسې بیان شوی: «ویډیو باید لږ تر لږه له دوه سوه ادرسونو تېره شي! بیا نو که خپره ام شي، پولیسو ته زموږ پیدا کول سختېږي.» پولیس هم وایي: «دوی یو شیطاني سیستم جوړ کړی. تصویرونه د ډېرو ادرسونو نه، تېرېږي بیا خپرېږي. موږ مجبور یو اول کود پیدا کو. بیا مالومه کو چې ادرس حقیقی دی که نه» (هماغه: ۴۴).

د پاسته ساینسفېکشن لپاره هم په کیسه کې پېښو لار جوړه کړې ده. په کیسه کې دننه له زوی سره د رښتیني مور او پلار چلن او مینه او عاطفه، له مینې سره د مین مینه، د لور لپاره د زندان په غاړه اخیستل، هغه څه دي چې په پای کې د لانجې هواری او د اتلانو بریا، د ماري په مټ چې په خپله ماشیني نجلی ده، ترلاسه شوي دي.

په تالار کې خلکو رډې رډې کتلې. هغې (ماري) زیاته کړه:

- مخکې ما داسې فکر کاوه چې د ژوند خوند یوازې ځان ته په سهولت کې دی. دا سمه ده. خو د آغه خوند سره بېخي نه برابرېږي چې په تا څوک ګران وي. ته پاڅېږې، خپل سهولت د اغه د سهولت د پاره قربان کې.

... ماري خپلې خبرې وغځولې:

- په دغه فیلم کې به هرڅه نه وي. خو ما البته د حقیقي مور او پلار او حقیقي اولاد مینه ولیدله. که تاسې ام راسره وای، خامخا به مو ویلي وو چې مینه یوازینی شی دی چې ورته ژوند کول ارزي. بې د مینې ژوند ژوند نه، د مړو ګرځېدل دي(عمر، ۱۳۹۳، ٦٨).

کله پر سکرین پتمن ته د ماري پام شي: «د ماري په مخ د خوښۍ د اوښکو ویالې روانې وې. شوشین په خوشحالۍ د چوکۍ بازو ته څېږه ورکړه. ورپسې له خندا شین شو. العباس د لور سر راکش کړ او په مخ یې کلکه ښکل کړه.» (هماغه، ٦٨-٧٠).

**پایله**

*اوربلکۍ* د محمدآصف عمر ساینسفېکشن ناول دی. په افغانستان کې دویم چاپ خو په تول پوره علمي تخیلي ناول دی. په دې ناول کې د ساینسفېکشن کیسو آرونه ښه مراعات شوي دي. موضوع یې نوې او نابه ده چې د دې ژانر د نووم اصل یې پوره کړی دی. په ناول کې هر څه ګام په ګام رامنځته شوي دي. هر څه د یوه خاص منطق له مخې پېښ شوي او په سیستماتیک ډول یې پرمختګ کړی دی. د اوربلکۍ جوړښت او بیا یې ماموریت په منطقي ډول ښه پرمختللی چې هم ناآشنا او هم د درک وړ دی. هر څه په یو ځل ناڅاپي پېښ شوي نه دي. نو ځکه خو دغه ناول په پښتو کې د علمي تخیلي ناولونو یوه نابه او غوره نمونه ده. په دې ناول کې د ساینسفېکشن دواړه عمومي ډولونه سخت او پوست وبله اغږل شوي دي. هم پرمختللې ټېکنالوژي او کلک وسایل پکې کارول شوي او هم انسان پکې دننني بدلون کړی دی.

**اخځونه**

کتابونه


۱- احمدي، نصیراحمد. (۱۳۹۲)، *جوجو*، جلال آباد: مومند خپرندویه ټولنه.

۲- احمدي، نصیراحمد. (۱۳۹۹)، *رنګه غوټونه*، جلال آباد: مومند خپرندویه ټولنه.

۳- ارمان، سمیع الدین. (۲۰۱۸ الف)، *کرېکشن (Criction)*، پېښور: اعراف پرېنټرز.

٤- ارمان، سمیع الدین. (۲۰۱۸ ب)، *تنقیق*، پېښور: پښتو ادبي غورځنګ.

٥- اورویل، جورج. (۱۳۹۰)، *۱۹۸۴ وروستی سړی*، (ژباړن: عزت الله پېژاند)، میوند خپرندویه ټولنه.

٦- عمر، محمدآصف. (۱۳۹۳)، *اوربلکی*، ننګرهار: مازیګر کتاب پلورنځی.

۷- غضنفر، اسدالله؛ او منلی، نجیب. ۱۳۹۹ل، *د ادبیاتو دنیا*. کابل: ارګ.

۸- Edward, O, Wilson . *Consilience the unity of knowledge*, New York: Vintage Books/Random House, PP ٤۹.

تیزېسونه

۹- امیري، فریداحمد. (۱۴۰۱). *په پښتو ادب کې د ساینسي-تخیلي کیسو څېړنه*. د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي پښتو څانګه. د ماسټرۍ تیزېس.

۱۰- عایل، نوراحمد. (۱۳۹۸)، *علمي تخیلي داستانونه (ساینسفېکشن)*، پکتیا پوهنتون.

۱۱- محرابي، مسکا. (۱۴۰۱). *د محتوا له پلوه داستاني ژانرونه*. د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي پښتو څانګه. د ماسټرۍ تیزېس.

انټرنېټ:

۱۲- عمر، محمدآصف. (۲۰۱۹). *شاتګ*. پر فېسبوک خپور شوی. https://www.facebook.com/ASIFOMAR٦٧

۱۳- https://literaryterms.net/fantasy/

## ژبپوهنه څه ده

محمدمصطفی سمون[۱]

**لنډیز**

د معاصر ژبپوهنې بحثونه له نورو علومو او علمي څانګو سره اړیکه لري، یعنې په اوسني وخت کې د ګډڅانګیز علم په توګه له نورو علومو سره تړلی دی. د ژبې نظري څېړنې د ژبې پر نظام او قواعدو بحث کوي. له نورو علومو سره هم اړیکه لري، لکه له فلسفې، منطق، تاریخ، هنر او ادبیاتو، ټولنپوهنې، ارواپوهنې، وګړپوهنې، توکمپوهنې، عصبپوهنې، فیزیک، فېزیولوژۍ، اوبپېژندنې او ډېرو نورو علومو سره. د عملي ژبپوهنې څېړنې له نظري څېړنو څخه ګټه اخلي. د ژبې په زده‌کړه، ژباړه، وییجوړونه او قاموس‌لیکنه کې ترې استفاده کېږي. البته د عملي ژبپوهنې څېړنې په همدې بسنه نه کوي، بلکې له نورو علومو سره د تعامل پر بنسټ د ژبپوهنې د نورو څانګو لامل کېږي، لکه د ژبې ارواپوهنه، ټولنیزه ژبپوهنه، عصبي ژبپوهنه، کلېنیکي ژبپوهنه، کمپیوټري ژبپوهنه، ریاضیکي ژبپوهنه، د مصنوعي ځیرکتیا ژبپوهنه، قضایي ژبپوهنه او داسې نور. که له یوه کلي لیده ژبپوهنې ته وګورو، داسې ده، چې ژبپوه د ژبې معلومات راټولوي دغه معلومات کېدای شي په ګړنی او اشاري ژبې پورې اړه ولري، دا به ورځنۍ ژبه وي یا انځوریزه ژبه او یا لیکنۍ ژبه، چې دا معلومات به له مقالو، کتابونو، ګزارشونو، ورځپاڼو او ان د اینټرنېټي او تلیفوني اړیکو څخه راټول شوي وي. په دې مقاله کې د ژبپوهنې حوزې او تیورۍ او له نورو علومو سره

---

[۱] - د کابل پوهنتون د پښتو ژبې او ادبیاتو د ماسترۍ محصل
برېښنالیک: Mustafa.samoon۲٤@gmail.com
شمېره: ۳٦۲٦۰۰۹۳۷۸+

يې په اړيکه باندې خبرې شوې دي.

**ار وييونه**: ډيسکورس، مانا پوهنه، کارونپوهنه، غږپوهنه، چارواله، ادراکي، اوړونې، رغښتواله.

**سريزه**

د هر علم بنسټ په نورو علومو او تيوريو پورې تړلی دی، چې د څېړنې په مټ يې له نويو زاويو سره اشنا کېږو؛ خو له نورو علومو سره يې بايد تړاو پيدا او د خبرواترو په وسيله يې د چاپېريال په رڼا کې له ټولو اړخونو سره مطالعه کړو. ژبپوهنه د معاصر علم په توگه د ډېرو ناويل شويو ځوابونو لپاره بېلابېلې لارې غوره کړې دي، چې پخوا د کلمو او جملو بحث گرم و؛ خو د نورو حوزو او تيوريو په رامنځته کېدو سره ډېرو پوښتنو ته په علمي لحاظ ځوابونه وموندل شول. نويو بحثونو او نظرياتو نويو کارونو ته لارې پرانيستلې، چې له دې سره په ژبه او ژبپوهنه کې د هغه پخواني تصور پر خلاف نوې لارې راخلاصې شوې. پکار ده، چې د خپلې ژبې جوړښت ته د ژبپوهنې د نويو حوزو او تيوريو په رڼا کې وگورو، چې له موضوعاتو سره يې زموږ ژبه سازښت وکړي او د ژبې گرامر د نويو تيوريو پر اساس وليکو او د ژبپوهنې حوزې هم پکې له مختلفو زاويو وکاروو؛ چې له علمي لحاظه ژبه پرمختگ وکړي او هم ورته د ځان بسياينې لپاره اساسات وټاکل شي.

**ژبپوهنه څه ده؟**

يو څوک درنه پوښتنه کوي، چې څه دې ويلي؟ ته ورته وايې، چې ژبپوهنه. مقابل لوری بيا درته وايي، چې انگليسي که پارسي؟ تاسو ورته په ډېر وياړ واياست، چې زما ژبپوهنه هم په انگليسي او هم په پارسي پورې اړه لري؛ موږ بايد دواړه ووايو. هغه وايي، په دې خو پوهېږم. بيا پوښتنه کوي، چې تاسو د انگليسي ژبپوهنه ويلې که د پارسي؟ دلته نو ستاسو وياړلې څېره مظلومه شي. تاسو نه پوهېږئ، چې څه ورته ووايئ. مجبورېږئ، چې د ژبپوهنې په اړه مقدماتي خبرې وکړې، چې ستاسو په منظور پوه شي.

پوښتنه: ژبپوهنه څه ده او ولې يې وايو؟

ځواب: ژبپوهنه هغه علم دی چې ژبه مطالعه کوي.

په ژبپوهنه کې ډېرې پوښتنې مطرح کېږي، ځواب موندل يې د ژبپوه کار دی.

ژبه څه شی ده؟

ایا یوازې د انسان ژبه ده، ولې د حیواناتو ژبه نه ده؟

ژبه له موسیقۍ سره څه توپیر لري؟

د نړۍ ژبې څه ورته‌والي او توپیرونه لري؟

ایا دا سمه ده، چې زموږ نیکونو په یوه ژبه خبرې کولې، بیا یې د کډوالۍ له امله ژبو تغییر کړی او اوسني بېلابېل شکلونه یې غوره کړي.

ایا ژبې ته کلي قواعد ټاکلای شو، چې ټولې ژبې پکې تشریح کړو یا یې زده کړو؟

ایا ژبه جوړولای شو؟

لیکنۍ، ګڼنې او اشاري ژبې څه توپیر لري؟

د وخت په تېرېدو سره د ژبو شمېر ۱۰۱۷ ته رسېدلی دی؛ نو دا ژبې کمېږي که زیاتېږي؟

ژبه څنګه بدلون کوي او اصلاً ژبه ولې بدلون کوي؟

دا ټول یوې خوا ته، ماشومان څرنګه ژبه زده کوي؟

موږ ولې د ماشومتوب په شان بله ژبه نشو زده‌کولای؟

او داسې نورې ډېرې پوښتنې.

د ژبپوهنې څېړنې دوې برخې لري. نظري او عملي.

د ژبې نظري څېړنې د ژبې پر نظام او قواعدو بحث کوي. له نورو علومو سره هم اړیکه لري، لکه له فلسفې، منطق، تاریخ، هنر او ادبیاتو، ټولنپوهنې، ارواپوهنې، وګړپوهنې، توکمپوهنې، عصبپوهنې، فیزیک، فېزیولوژۍ، اوبپېژندنې او ډېرو نورو علومو سره اړیکه لري.

د عملي ژبپوهنې څېړنې له نظري څېړنو څخه ګټه اخلي. د ژبې په زده‌کړه، ژباړه، وییجوړونه او قاموس‌لیکنه کې ترې استفاده کېږي. البته د عملي ژبپوهنې څېړنې په همدې بسنه نه کوي، بلکې له نورو علومو سره د تعامل پر بنسټ د ژبپوهنې د نورو څانګو لامل کېږي، لکه د ژبې ارواپوهنه، ټولنیزه ژبپوهنه، عصبي ژبپوهنه، کلېنیکي ژبپوهنه، کمپیوټري ژبپوهنه، ریاضیکي ژبپوهنه، د مصنوعي ځیرکتیا ژبپوهنه، قضایي ژبپوهنه او داسې نور. که له یوه کلي لیده ژبپوهنې ته وګورو، داسې ده، چې ژبپوه د ژبې معلومات راټولوي دغه

معلومات کېدای شي په ګړنۍ او اشاري ژبې پورې اړه ولري، دا به ورځنۍ ژبه وي یا انځوریزه ژبه او یا لیکنۍ ژبه، چې دا معلومات به له مقالو، کتابونو، ګزارشونو، ورځپاڼو او ان د اینټرنېټي او تلیفوني اړیکو څخه راټول شوي وي. کېدای شي، دا معلومات د اوسمهال یا تېر مهال له کتابونو او فلمونو، کتیبو او ډبرلیکونو رااخیستل شوي وي. په ټوله کې ویلای شو، چې دا ټول معلومات د څېړنې لپاره انتخابیږي، بیا ژبپوه دغه توکي را اخلي او یوې ګوښې ته ورسره کېني. پر خپله څېړنه فکر کوي، چې په کومو برخو یې کار وکړي. مثلاً: د څېړنې یو کار یې دا دی، چې له تېرمهاله یې تر اوسه څه بدلون کړی. مثلاً: د ***مور*** او ***پلار*** کلمې له کومه راغلې اوس مور *پلار* وایو، پېټر یا پټر نه وایو. خلک (نه څېړونکی) له دې سره کار نه لري، چې دغه کلمه په هغو نورو ژبو کې څنګه کارول کېده. مثلاً: په انګلیسي کې پلار ته father وایي؛ ګورو چې د پلار او father نومونه یو بل ته ډېر سره نیژدې دي؛ نو ژبپوه پر دې فکر کوي، چې دا ژبې له یو بل سره څه اړیکې لري، یا دا ورته‌والی یوازې یوه پېښه ده. دا پکار ده، چې څېړونکی باید کومې کلمې انتخاب کړي، چې د ژبو ترمنځ ورته‌والی پیدا کړي. دا کار خپل اصول لري، داسې نشي کېدای، چې د کمپیوټر کلمه راواخلو او ووایو، چې په کومو ژبو کې یې کمپیوټر بولي. کېدای شي انګلیسي، جاپاني او پارسي ژبې له یوې موره وي، چې یوه نیا لري. په پارسي لږ شک لرم، دا ځکه چې کمپیوټر ته *رایانه* هم وایي؛ خو داسې نه ده. البته ژبپوه په دې پوهیږي، چې انګلیسي او پارسي له یوې موره دي؛ خو جاپاني ژبه بیا توپیر کوي. دا یوازې د یوه ژبپوه په څېړنیزو کارونو پورې اړه لري.

کله چې د ژبپوهنې خبره کوو؛ نو اړ یو، چې د ژبپوهنې حوزې وڅېړو. هغه حوزې دا دي: اوازپوهنه، غږپوهنه، مورفولوژي، نحوه، ماناپوهنه او کارونپوهنه. د ژبپوهنې دغه حوزې ډېرې پېچلې دي؛ خو په عین حال کې له یو بل سره اړیکې هم لري؛ نو ژبپوه اړ کېږي، چې د ژبې له ځینو اړخونو تېر شي او د ژبې په یوه مشخصه او ځانګړې برخه کې ډېره مطالعه وکړي.

**اوازپوهنه یا فونیمیکس**: د اوازونو مطالعه ده، یعنې راښیي، چې اوازونه څرنګه تولیدیږي. ژبپوه په دې پوهیږي، چې اواز څرنګه درک کړي او د اوازونو ترمنځ توپیر وکړي، مثلا: د /ک/ او /ب/ ترمنځ توپیر وکړي. ځینې وخت د اوازونو توپیر نه کېږي، چې ځینو ته کلیکي (ټونګل) اوازونه وایي.(لکه: ټک، اَی، پي) ځینې اوازونه د کمپیوټر له لارې تحلیلېدای شي. په اشاري ژبه کې اوازونه هماغه نښې دي، چې په هماغه چاپېریال کې

کارول کېږي.

**غږپوهنه یا فونولوژي**: د ژبې له معلوماتو مرسته اخلي، چې په ژبو کې دا توري څنګه ترکیبېږي.

د اواز او غږ ترمنځ توپیر: غږ مانا توپیروي. لکه په *لېږ* او *رېل* کې چې د غږونو د ځایونو بدلون ماناوې بدلې کړې دي، لکه څنګه چې د مانا په بڼه کې بدلون راغلی؛ نو د *لېږ* ځایناستی کېدل ناشونی دی. ل ـ ر دوه بېل غږونه او اوازونه دي، مګر په ځینو ژبو کې د *لېږ* او *رېل* ویل هیڅ بدلون نه پېښوي. د مانا د بدلون لامل نه کېږي. په عربي ژبه کې (ث، س، ص) د کلمو په مانا کې بدلون راولي، مګر که په پښتو کې سحر، سهار وواېو؛ نو په مانا کې بدلون نه راځي. ځینې وخت د غږونو له بدلون سره په مانا کې بدلون راځي (زیار، ۱۳۸۴: ۲۴،۲۷).

**مورفولوژي**: وییونه (لغتونه) مطالعه کوي، چې هر ویی څرنګه جوړېږي او مورفولوژي یې سپړي. مورفولوژي دا معلوموي، چې یوه کلمه له نورو سره په هماغه ژبه کې څه اړیکه لري. د کلمې پر جوړښت، ریښه، مختاړو او وروستاړو بحث کوي. مورفولوژي له یوې خوا له فونولوژي سره اړیکه لري او له بلې خوا له نحوې سره (چمتو، ۱۴۰۰: ۱۰۰).

غونډله‌پوهه (نحو): هغه پوهنه ده، چې د یوې ژبې پر غونډلو (جملو)، عبارتونو، غونډونو (ترکیبونو)، جوړښت، د توکونو پر ترتیب، تنظیم او جوړښتي نظام بحث کوي (شېرزاد، ۱۴۰۰: ۱۷).

**ماناپوهنه**: په انګلیسي کې (semantics) ورته وایي، موخه یې په انساني ژبو کې د مانا مطالعه او سپړنه ده. په ټولیز ډول د ویي او مانا ترمنځ د اړیکې سپړنې ته ماناپوهنه وایي. د مانا علم معمولاً د دلالت کوونکو له اړیکو، لکه ویي، عبارتونو او نښو سره کار لري، چې مانا د څه لپاره کارېږي. ماناپوهنه د ژبپوهنې د څانګې په توګه د ژبنیو نښو او پیلامونو (سېمبولونو) له سپړنې او شننې سره کار لري (ارغند، ۱۳۹۶: ۴۴).

**کارونپوهنه**: (pragmatics) له یوناني (pragmatikos) کلمې اخیستل شوې، چې pramat د کارونې او عمل په مانا دی. کارونپوهنه هم د مانا مطالعه ده؛ خو هغه مانا چې ویونکی یا لیکونکی یې انتقالوي او اورېدونکی یې له متن څخه اخلي. ګرور هاډسن وایي: کارونپوهنه د ژبې او متن ترمنځ اړیکه ده. کارونپوهنه د همدې دواړو پدیدو د اړیکې مطالعه ده (سمون، ۱۴۰۲: ۵۰).

دغه پورته ذکر شوې حوزې د ژبپوهنې اړې (اصلي) حوزې دي. کېدای شی دغه حوزې د تاریخ په بهیر کې یا په یوه ټاکلي وخت او یا په اوسمهال کې وڅېړل شي.

**تاریخي ژبپوهنه**: که ژبه د تاریخ په بهیر کې وڅېړل شي، دې ته تاریخي ژبپوهنه وایي. په تاریخي ژبپوهنه کې بیا د وخت په تېرېدو سره بدلون راځي. لکه د تلفظ بدلون او د مانا بدلون. دا بدلون د نورو ژبو له ویونکو سره د اړیکو، راشه‌درشې او راکړې ورکړې له امله رامنځته کېږي. لکه د کمپیوټر، فکس او نورو په وسیله، یا له انګلېسي پښتو ته او یا داسې نورو ژبو ته د کلمو او مفاهیمو تګ. البته د نورو بدلونونو لامل هم کېږي. مثلاً: د مشابه ژبو مطالعه چې د وخت په تېرېدو سره په ژبه کې بدلون راځي یا یې د جغرافیې تغییر په ژبه کې د بدلون لامل کېږي (همای،۱۴۰۱: ۱۵).

**ډېسکورس شننه**: په ژبپوهنه کې هغه مطالعې ته ویل کېږي، چې د ژبې لوی واحدونه (متنونه)، لکه ډیالوګونه، داستانونه او ویناوې تر بحث لاندې نیسي. دا ډسکورسونه ژبه په مختلفو بڼو کاروي. له ژبې چې کله کار اخلي له بېلابېلو بڼو یې استفاده کوي. لکه: و نه و یو شپون و. دا جمله موږ د یوه داستان په پیل کې کاروو. د یوه داستان د پیل لپاره کېدای شي، ښه پیل وي؛ خو یو ژورنالېست یې په تلوېزیون کې د خبر د پیل لپاره نه شي کارولای. د ډېسکورس مشخصوونکي موږ ته د ډېسکورس اصول راښیي. مثلا د ډېسکورس په وسیله پوهېدای شو، چې د داستان کوم نقشونه اصلي او کوم یې فرعي دي ( یورګنسن او فیلیپس،۱۴۰۱:۱۷).

په معاصره ژبپوهنه کې درې تیورۍ دي، چې د ژبپوهنې په برخه کې یې ډېر بحثونه رامنځته کړي. البته دا تیورۍ په ټوله کې د سوسور له رغښتوالي تیورۍ اغېزمنې دي. هغه تیورۍ دا دي: زېږنده اوړونې ژبپوهنه، چارواله ژبپوهنه او ادراکي ژبپوهنه.

**د رغښتوالي ژبپوهنې تیوري**: په شلمه پېړۍ کې په ژبپوهنه کې علمي انقلاب راغی، چې سرلاری یې سوسور و. د سوسور لېکچرونه د ده شاګردانو راټول کړل د « Course de linguistique générale/ د عمومي ژبپوهنې کورس» په نامه یې چاپ کړل. د دې کتاب په پاڼو کې د تاریخي او رغښتي ژبپوهنې په اړه ګټور نظریات نغښتي دي، چې د ژبپوهنې له تاریخي بهیره نیولې د ژبپوهنې پر موضوع، ګړېدا، د ژبې پر داخلي او بهرنیو عواملو، غږپوهنې، د غږپوهنې پر اصولو، د ژبنۍ نښې پر ماهیت او نورو ګڼو ژبنیو بحثونو مالامال دی. په تېره د سوسور د دال او مدلول بحث، چې د ژبپوهنې ترځنګ په ادبیاتو کې هم د بحث وړ دی. په ټوله کې ویلی شو، چې د نوې ژبپوهنې اساس تر ډېره د سوسور پر

نظریاتو ولاړ دی. سوسور ژبه یو کلي نظام وباله. په رغښتواله کې د کلمې تر سطحې بحث وشو، چې له دې سره یې نورو ژبپوهانو ته د څېړنې او شننې لارې پرانیستلې (حمیدزی، ۱۴۰۲: ۸۹).

**د زېږندې اوړونې ژبپوهنې تیوري**: د شلمې پېړۍ په نیمايي کې یو بل مهم ګام په امریکا کې *نام چامسکي* واخیست. نام چامسکي د رغښت خبره د جملې په کچه وکړه او هم یې د ژور او برسېرن رغښت خبره ورسره غوټه کړه. دا په نحوه کې مهم کار و، چې په ډېرو ژبو کې تطبیق شو. په زېږنده اوړونې تیورۍ کې د جملې تر کچې بحث وشو. د نام چامسکي څېړنو پر ارواپوهنه، فلسفه او کمپیوټري ژبه اغېزه وکړه (مقدم، ۱۴۰۱: ۱۰).

**د چاروالې ژبپوهنې تیوري**: د شلمې پېړۍ د ژبپوهنې په مکتبونو کې یو مهم مکتب د لندن دی، چې د *جې.آر فېرث* غوندې مشهور ژبپوه پکې تېر شوی. د چاروالې تیورۍ مهم غړی *مایکل الېګزاندر کرېکووډ هالیډې* دی، د ده ژبپوهنیزې نظریې ته نظاممنه چارواله نظریه او ګرامر ته یې چاروال ګرامر وایي. د نوموړي په اند، ژبه یو داسې نظام دی، چې درې سطحې، څلور ټولۍ (کټګورۍ) او درې تلې لري، په دې نظام کې دننه بېلابېل ژبني توکي لکه کلمې، ګرامر، متن، اوب او مانا خپلې خپلې دندې یا چارې ترسروي. په چاورالې کې د متن او اوب تر کچې بحث وشو، چې د ماناپوهنې او کارونپوهنې حوزې پکې ښکېلې دي (حمیدزی، ۱۳۹۸: ۵۷).

**د ادارکي ژبپوهنې تیوري**: ادراکي ژبپوهان د نورو ژبپوهانو غوندې، ژبه د پوهې د یوې موضوع په توګه څېړي او د ژبې د نظام او نقش د تشریح هڅه کوي. دوی د انسان د ژبې، ذهن او ټولنیزو او فیزیکي تجربو اړیکې راسپړي. د ژبې په اړه د هغوی یو استدلال دا دی، چې ژبه د انسان ایډیاوې او ذهني ځانګړنې منعکسوي. ادراکي ژبپوهنې په ۱۹۶۰ و ۱۹۷۰ لسیزو کې له نویو ادراکي علومو، په تېره د انسان په ذهن کې د ټولیو د ډلبندۍ له تیورۍ او ګشټالټ ارواپوهنې سرچینه واخیسته. د دې تیورۍ په سرلارو کې لانګاکر او لیکاف راځي. په ادراکي ژبپوهنه کې د متن تر کچې بحث وشو. کېدای شي دا متن یوه نښه، یو کتاب یا یوه مقاله وي. په دې تیورۍ کې هم د ماناپوهنې او کارونپوهنې حوزې ښکېلې دي (ښکلی، ۱۴۰۱: ۱۴۹).

**پایله**

د ژبپوهنې علم په وروستیو کلونو کې د خلکو پام ځان ته واړولی دی. د دې څو لاملونه

دي، یو دا چې د هر هېواد او فرهنګ خپل هویت ته فکر شوی دی، چې دا هویت د ژبې په وسیله ساتل کېدای او ژوندی کېدای شي؛ نو ځکه هر هېواد او فرهنګ دې برخو ته ځانګړی پام کوي. ژبې یوازې خپل تاریخ، فرهنګ او هویت نه‌ساتي، بلکې له نورو فرهنګونو او تاریخ سره د اړیکې او نیژدېوالي لامل کېږي، چې دا خپله د ژبې ارزښتونه ساتي. د نویو تیوریو او حوزو رامنځته کېدل هم د ژبې په بډاینه کې مهم رول لري؛ نه یوازې علمي کوي یې، بلکې د هرې ژبې د خپل جوړښت پر بنسټ، د ژبې په ګرامر او جوړښتي نظام کې پرتو ستونزو ته د حل علمي لارې پرانیزي.

**ماخذونه**


۱: ارغند، ذبیح الله صاحب. ۱۳۹٦. ماناپوهنه. کابل: پکتوس خپرندویه ټولنه.

۲: حمیدزی، راحله. ۱۳۹۸. دستور نقش گرای نظام مند هالیدی. کابل: انتشارات کابلستان.

۳: حمیدزی، راحله.۱۴۰۲. نظریه های زبانشناسی. کابل: انتشارات سمون.

۴:: چمتو، محمدقسیم.۱۴۰۰.تشریحي ژبپوهنه. کابل: جهان دانش خپرندویه ټولنه.

۵: زیار، مجاوراحمد. ۱۳۹۸. پښتو پښویه. کابل: دانش خپرندویه ټولنه.

٦: سمون، محمد مصطفی. ۱۴۰۲. ادراک او مانا. کابل: سمون خپرندویه ټولنه.

۷: شېرزاد، محمد اقا. ۱۴۰۰. پښتو نحوه. کابل: جهان دانش خپرندویه ټولنه.

۸: ښکلی، اجمل. ۱۴۰۱. د ژبپوهنې نظریې. کابل: پکتوس خپرندویه ټولنه.

۹: مقدم، محمد دبیر. ۱۳۹۵. زبان شناسی نظری. (پیدایش و تکوین دستور زایشی). ویراست سوم. تهران: انتشارات سمت.

۱۰: همای، یحیا. ۱۴۰۱. پرتلیزه – تاریخي ژبپوهنه. کابل: پکتوس خپرندویه ټولنه.

۱۱: یورگسن، ماریان، فیلیپس، لوییز. نظریه و روش در تحلیل گفتمان. ترجمه: هادی جلیلی. تهران: انتشارات نشرنی.

## په لرغوني یونان کې ژبنۍ څېړنې

شاه محمود کډوال[1]

**لنډیز**

لرغونی یوناني تمدن د نړۍ له تمدنونو څخه یو دی چې د وگړنیو پرمختگونو په لړ کې یوه ستره کړی ده. دلته د ژوند په بېلابېلو اړخونو گټور بحثونه شوي دي چې موږ لا اوس هم سلگونه کلونه وروسته د هغوی تر اغېز لاندې یو او د هغوی له کاره گټه اخلو، سلگونه کلونه وروسته د هغوی کار زموږ د اوسنیو چارو او پرمختگونو پیلامه او مخبېلگه ده. هغوی په اخلاقو، سیاست، ساینس، ژبه، ادب او هنر کې یا بنسټونه ایښي یا یې پیاوړي کړي دي، د دوی د څېړنو یو اړخ ژبه ده.

ژبه له هغه وخته موجوده ده چې د وگړو او ټولنې ژوند پېلېږي. د وگړني ژوند تاریخ که له هر ځایه او هرې نېټې پیلوو، نو ژبه هم له هغه وخته ژوندۍ ده. ژبه د وگړني پرمختگ ستر او اغېزناک بنسټ دی. د نړۍ ټول وگړني تمدنونه د هغو وگړو په وسیله رامنځته شوي چې ژبه یې لرله.

**آر وییونه** : ژبه، ژبپوهنه، گرامر.

**سریزه**

ژبه د پوهونې د یوې وسیلې په توگه له وگړو او ټولنې سره تړلې ده، ژبه هغه ښکارنده ده چې وگړو او پوهانو یې په اړه فکر کړی دی او په دې اړه یې څېړنې کړي دي.

ژبه دومره مهمه ده چې په الهي او اسماني کتابونو کې هم ورته نغوتې شوې دي، د دې ترڅنگ وگړو او بشر هم مهمه بللې ده او تر ننه مهمه رارسېدلې ده. همدې پېښو ته په کتو

---

[1] - د لغمان پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځي د پښتو څانگې پوهنوال استاد

برېښنالیک: sh.kadwal@gmail.com

شمېره: ۰۰۹۳۷۰۰۶۴۰۹۱۰+

سړي ویلای شي چې د نړۍ داسې هېڅ تمدن نه شته چې بې ژبې رامنځته شوی وي او یا تمدني چارو کې دې ژبه له پامه غورځېدلې وي!؟ د نړۍ په یو لرغوني تمدن (یونان) کې هم ژبه د پام وړ وه او په دې اړه مهم بحثونه شوي او څېړنې رامنځته شوې دي.

**ارزښت**

د ژبنیو څېړنو د تېر په اړه پوهېدنه د هر ژبڅېړونکي یوه مهمه اړتیا ده، څېړونکی که اوس څېړنه کوي، له تېر به ګټه اخلي او که نوښت کوي، هم تېر به لولي. د اوسنی ژبڅېړنې زنځیر تېر ته غځېدلی، له تېر اغېزمن دی، ځکه نو په تېر پوهېدنه یو ارزښت او اړتیا ده.

**موخه**

د دې څېړنې او لیکنې له لارې هڅه شوې ده چې د ژبڅېړنې تېر په لنډ ډول وړاندې شي چې په یوه ځای (یونان) او وخت (لرغوني) کې د ژبې، ګرامر او ژبپوهنې څېړنیز بهیر لوستونکو ته وروپېژندل شي.

**پوښتنې**

۱ـ په لرغوني یونان کې د ژبڅېړنې څرنګوالی څه دول وو؟

۲ـ په لرغوني یونان کې د ژبڅېړنې څومره والی څه ډول وو؟

**مواد او کړنلاره**

د دې څېړنې له پاره له شته باوري سرچینو ګټه اخیستل شوې ده، د څېړنې ډول یې کتابتوني او مېتود یې تشریحي – توصیفي دی.

د یونان د لرغونې دورې د پیل او پای په اړه بېلابېل اثار داسې لیکي : د (یونان د لرغوني ادب لومړی دوره) په اثر کې د لرغوني ادب پیل (۱۰۰۰ ق.م) او پای یې (۵۰۰ م) ښیي (زړن، ۱۳۸۲: ۱). دا مو د دې له پاره ولیکه چې د یونان د تمدن او ادب د تاریخ پیل راته یو ښکاري.

پارسي بربښنایي دایرة المعارف د یونان د لرغونې دورې پیل (۸ و ٦ق.م) پېړۍ ښیي چې په لرغونې اروپا (٦۰۰م) شاوخوا پای ته رسېږي (https://fa.m.wikipedia.org)

همدارنګه انګریزي دایرة المعارف په دې اړه لیکي چې لرغونې یوناني دوره په

(۱۲- ۹ ق.م) پېړیو کې پیلېږي او پر (۶۰۰ م) پای ته رسېږي.https://en.m.wikipedia.org.

په نړۍ کې د ژبنیو څېړنو د پیل په اړه په عام ډول بېلابېل نظرونه شته، ځینې یې له توراته (لومړی جز ـ د پیدایښت بحث ـ د آدم او حوا سورت ـ اتلسم، نولسم او شلم آیتونه) پیلوي چې هلته د ژبې په اړه بحثونه شته، د دې ترڅنګ د نړۍ د لومړنۍ ژبې د موندلو له پاره په دوو کوچنیانو د فرعوني لړۍ د یوه واکمن پسامتیخوس (۶۰۰ ق.م) شاوخوا تجربه هم د ژبنیو څېړنو څرک بولي چې دا پېښه هېرودت رانقل کړې ده (مرهون، ۱۳۹۶ : ۴۹ - ۵۱). همدارنګه داهم ویل شوي چې د (۵ ق.م) پېړۍ مشهور ژبور او د وینا او خطابې فن پوه ګرګیاس سیسیلي (Gorgias from Sicily) هم ژبني بحثونه کړي دي (حقشناس، ۱۳۸۴: ۳۸). د دې ترڅنګ بل پوه چې پروتاګوراس (Protagoras) نومېږي هغه هم د ژبې په اړه بحثونه کړي چې تول تر اپلاتون وړاندې دي.

پروتاګوراس (۴۹۰ - ۴۲۰ ق.م) د ماياندریوس زوی دی. لومړنی او مهمترین سوفسطایي فیلسوف وو چې د یونان په ابدرای کې زیږېدلی او په (۴۵۰ ق.م) کې یې شهرت وموند. پروتاګوراس د ګرګیاس هممهال وو او په یوناني ژبه کې یې لومړي ځل له پاره د جنس موضوع مطرح کړله (مرهون، ۱۳۹۶: ۶۵)، خو غوره او علمي نظر دا دی چې د ژبې په اړه علمي څېړنې له اپلاتونه راپیلېږي او لومړنی شخص اپلاتون وو چې د ژبې په اړه یې تیوري وړاندې کړله.

اپلاتون (Platon ) پر (۴۲۷ / ۴۲۸ - ۳۴۷ / ۳۴۸ ق.م) د یونان په اتن کې زیږېدلی دی، د نړۍ د دریو مخورو فیلسوفانو (سقرات، اپلاتون او ارستو) له ډلې څخه دویم فیلسوف دی، دی لومړنی فیلسوف دی چې لیکلي اثار ترې پاتې دي، ډېر نوموړی د تاریخ ستر فیلسوف بولي https://fa.wikipedia.org.

اپلاتون د اتني فیلسوف کراتیلوس شاګرد وو چې هغه ورته په اتن کې د هیراکلیتوس (۵۳۵ - ۴۸۰ ق.م) د فلسفې اصول ورزده کول (یمین، ۱۳۹۴: ۱۳).

د اپلاتون کورنۍ له سقرات (Socrates)سره ژور اړیکي درلودل، اپلاتون له وړکتوبه د ستر فیلسوف سقرات له پوهې برخمن شو، د سقرات هغه پوهنیزه تګلاره چې زاړه او له کاره لویدلي خیالونه یې تر برید لاندې نیول، د اپلاتون ډېر خوښ وو. هغه د سقرات سره بې کچې مینه درلوده (آرین، ۱۳۹۵: ۳۴). د پورتنیو اثارو له لیکلنو ښکاري

چې اپلاتون یوه خوا د سقرات او بله خوا د کراتیلوس او همداسې د هیراکلیتوس له پوهې په زنځیري ډول گټه اخیستې ده.

اپلاتون په فکري او فلسفي اړخ کې له هیراکلیتوس او کراتیلوس اغېزمن وو چې دا اغېز د ده په نظریاتو کې څرگندېږي، لکه د ژبې په اړه وایي چې کلمه زیربنایي صورت لري چې د هغې کلمې مانا په منظمه او روښانه توگه څرگندوي. اپلاتون په دې نظر وو چې ژبه طبیعي پدیده ده او د نوم او نومولي ترمنځ منطقي او طبیعي اړیکي شته، صورت او لفظ د څیز له ماهیت سره تړون لري (یمین، ۱۳۹۴: ۱۳ - ۱۵).

د اپلاتون ژبني نظریات د (کراتیلوس) په نوم اثر کې څرگندېږي، خو دا لا بشپړه څرگنده نه ده چې د دې اثر کومه برخه د سقرات او کومه د اپلاتون ده (حقشناس، ۱۳۸۴: ۳۸). د کراتیلوس او نورو اثارو منځپانگې ته په پام چې سقرات او اپلاتون دواړه پکې گډون لري، د ژبې په اړه دواړه د یوه نظر خاوندان بلل کېدای شي.

د کراتیلوس اثر چې په هغې کې د ژبې په اړه جالب بحثونه راغلي دي، د دوو تنو د ډیالوگ په بڼه دی، د ډیالوگ کرکترونه د سقرات او هرموگنس په نوم شخصیتونه دي، د دې اثر ډېرې برخې د کلمې او جملې په مانا صدق کوي، داسې چې سقرات پوښتنه کوي او هرموگنس یې ځوابوي او په پای کې سقرات بیا خپله خبره په هرموگنس تاییدوي (ذکي، ۱۳۹۴: ۳۷).

د کراتیلوس په رساله کې کراتیلوس او هرموگنس ترمنځ مباحثه او مشاجره د ژوند او ژوند اړوند مسایلو باندې بحث کوي او سقرات د دوی ترمنځ دریمگړی یا منځگړی دی (مرهون، ۱۳۹٦: ٦۲). په دې اړه پارسي برېښنایي دایرة المعارف داسې لیکي: (کراتیلوس د یوناني فیلسوف اپلاتون له لیکلو شویو کتابونو څخه یو دی چې د سقرات، کراتیلوس او هرموگنس ترمنځ په مرکه بحث کوي) https://fa.wikipedia.org.

د اپلاتون (۴۲۷ / ۴۲۸ - ۳۴۷ / ۳۴۸ ق.م) کراتیلوس اثر ژبپوهان لومړنی لاسته راغلی علمي اثر بولي چې ژبنۍ څېړنې راپیلوي او د یوې تیورۍ او ښوونځي بنسټ بږدي، که څه هم په تاریخي لحاظ پروتاگوراس (۴۹۰ - ۴۲۰ ق.م) لومړنی شخص دی چې په یوناني ژبه کې د جنس مسله مطرح کوي او د ده ژوند او مشهورتیا زمانه (۴۵۰ ق.م) بولي، همدارنگه د گرگیاس سیسیلي (۴۸۷ - ۳۷٦ ق.م) نوم چې د خطابې فن کې څېړنې کولې، په لومړنیو پوهانو کې راځي، خو په ټوله کې (۵ ق.م) پیړۍ د ژبنیو بحثونو پیل دی او د

اپلاتون کراتیلوس لومړنی علمي، تیوریک او منظم اثر دی.

اپلاتون لومړنی شخص دی چې د ژبې د گرامر ځینې مهم اصطلاحات او تعریفونه یې وکارول، هغه لیکي: کوم لفظ چې عمل څرگندوي، فعل (Rhema) او کومه کلمه چې د عمل ترسره کوونکې وي، نوم (onoma) دی (یمین، ۱۳۹۴: ۱۵). په دې ډول اپلاتون د جملې دوه مهمې برخې (نوم او فعل) چې یو د جملې مسندالیه او بل مسند رغوي په نښه کړل چې د نحوې بحث دی. وروسته د اپلاتون په نظرونو ولاړه ژبنی تیوري او ښوونځی رامنځته کېږي چې پنځپال، طبیعیون (Anologists) یې بولي.

دا تیوري یا ښوونځی په دې نظر دی چې ژبه طبیعي ماهیت لري، نو له همدې کبله د لغتونو مانا او منشاء د هغو په صورت کې پیداکولای شو (یون الف، ۱۳۹۴: ۱۱۱). د یونان لومړني فلسوفان معمولاً د پنځپالو یا طبیعتپالو په نوم یادېږي، ځکه چې هغوی تر هر څه وړاندې طبیعت او طبیعي پېښو ته پاملرنه کوله (یون ب، ۱۳۹۴ : ۴۱).

له اپلاتون وروسته د ده شاگرد ارستو هغه پوه دی چې د ژبې په اړه یې نظر څرگند دی. ارستو Aristotle (۳۸۴ - ۳۲۲ ق.م) د یونان په ستاگیروس ښار کې زېږېدلی دی. په اته لس کلنۍ کې د اپلاتون شاگرد شو او شل کاله یې له هغه څخه زده کړه وکړه (مرهون، ۱۳۹۶: ۶۹). ارستو که څه هم د اپلاتون شاگرد دی، خو د ژبې په اړه یې نظر سره توپیر لري. ارستو وایي چې ژبه یوه ټولنیزه او قراردادي پدیده ده، نه طبیعي. د نوم او نوموړي ترمنځ طبیعي اړیکي نه شته او نه هم صورت د څیز له ماهیت سره منطقي او طبیعي تړون لري.

ارستو لومړنی مفکر دی چې د اپلاتون د کلمو او الفاظو ډلبندي یې پراخه کړله او د نوم او فعل ترڅنگ یې د رابطې Syndessmoi گرامري نومونه او اصطلاح هم دود او تعریف کړله چې د ده دا ډلبندي وروسته د کلام د اجزاوو په نوم مشهوره او معمول شوه، ارستو همدارنگه کلام په مسند او مسندالیه ووېشه (یمین، ۱۳۹۴: ۱٦). په دې ډول ده هم په نحوه کې ونډه واخیستله. د ارستو د نظریاتو پر بنسټ وروسته د تړونپالو، تړپالو او اتفاقیون Anomolists تیوري او ښوونځی رامنځته شو چې د عربی، پارسی، پښتو او نورو ډېرو ژبو گرامرونه د همدې تیوری پر بنسټ ولیکل شو او لا تر اوسه هم ژوندی ده.

د تړونپالو نظر دا دی چې د لغتونو او د ماناوو ترمنځ یې د رابطې پیداکول، له هغه تړون یا قرارداد څخه سرچینه اخلي چې د وگړو ترمنځ شوی وي (یون الف، ۱۳۹۴ : ۱۱۱).

د ژبنیو څېړنډلو په لړ کې د رواقیون (The Stoics) یادونه هم مهمه ده چې له فلسفې څخه د گرامر د بیلتون له پاره یې هڅې کړې دي. دې ډلې د زنون (Zeno) د نظرونو پلیوني کوله چې (۳۰۰ ق.م) شاوخوا کې یې ژوند کړی دی.

رواقیونو د یوناني ژبې د گرامر په تشریح کې داسې اصطلاحات وکارول چې هغه د نوم، فعل، د ربط حرف، د تعریف حرف، عدد، جنس، حالت، د فعل وجه او د فعل صیغې انډول دي.

د (۳ ق.م) پېړې په لومړیو کې د مصر د سکندریې ښار د یونان د سترو فلسفي او علمي مرکزونو څخه د یوه په توگه راڅرگند شو. په دې ښار کې بېلابېل پوهان سره راټول شول او د یوه ستر کتابتون په رغولو سره یې د لرغونې زمانې پوهنتون رامنځته کړ.

سکندریان (Alexandrian ) د هومر ایلیاد او اودیسي د قلمي نسخو سره مخ شول او دا چې د دوی له نظره سپېڅلې وې، د نیمگړتیا او لاسوهنې نه د خوندیتوب له پاره یې د دې اثارو ژبنی یا گرامري سپړنه وکړه چې دغه ډول گرامرونه د قاعدوي، دودیز او عنعنوي (Normative Grammar) په نوم یادېږي. په سکندري ښوونځي کې د هومر د اثارو په اړه د څېړونکو په ډله کې یو مشهور ارستارخوس وو او نور یې هیرودین او اپولونیوس دیسکولوس وو (یمین، ۱۳۹۴: ۲۳، ۲٦).

دیوینسیوس تراکس (Dionysius Thrax) چې د سکندریې کتابتون مشر او د ارستارخوس شاگرد وو، له (۱۰۰ ق.م) څخه وړاندې یې ژوند کړی او د یوناني ژبې لومړنی گرامر یې لیکلی دی. دا گرامر تخني گراماتیکي ( Techne Grammatike (نومېږي (مرهون، ۱۳۹٦: ۷۸).

عنعنوي گرامر چې په لویدیزه نړۍ کې رامنځته شو، هغه گرامر دی چې دیونسیوس تراکس (۲ ق.م) په اروپا کې د ارستو د میتود ترڅنگ رامنځته کړ (رشتین زیور، ۱۳۹۵: ۵).

تراکس د یونان د سکندري دورې هغه عالم دی چې د یوناني ژبې د جوړښت په اړه یې لومړنی اثر ولیکه، هغه د یوناني ژبې په دغه گرامر کې د جملې اجزاوې په اتو برخو کې په مفصله توگه تدوین کړې، د تراکس له دغه اثر څخه تر دیارلسو وروسته پېړیو پورې د یوه ماخذ په توگه کار اخیستل کېده (مرهون، ۱۳۹٦: ۲۱۱).

اپولونیوس دیسکولوس (Apollonius Dyscolus) چې د گرامر متخصص بلل

کېږي، په (۲ ق.م) پېړۍ کې یې ژوند کړی، د میستیوس زوی او په سکندریه کې زېږېدلی دی.

د دیوینسیوس تراکس گرامر چې وروستیو پوهانو ته مخبېلگه شوه، نږدې ټولو د هغه په شننه او کتنه وخت تېروه. د دوی ټولو په څېړنو کې چې ورته پام شوی نه دی، د نحوې برخه ده چې دغې نیمگړتیا ته د اپولونیوس پام شو او د دغې برخې د بشپړونې هڅې یې کړې دي. که څه هم تر ده وړاندې په دې اړه لږ مواد وو، خو اپولونیوس د نحوې په اړه منظمې څېړنې کړې دي. اپولونیوس زړې څېړنې وکتلې، ځینې برخې یې بیا تعریف او په ځینو برخو کې یې نوښت وکړ. ده ډېره هڅه وکړه چې د صورت او مانا بیلتون ثابت کړي. د نوم او فعل پېژندل چې وړاندې شوي وو، اپولونیوس دغې بېلونې ته په پام د جملې د نورو توکو ترمنځ پر اړیکو ټینگار وکړ او په دې اړه یې ډېرې څېړنې وکړلې (مرهون، ۱۳۹۶: ۸۱ - ۸۲).

هرودیانوس (Herodian) هم په یوناني ژبه کې یو گرامر ولیکه چې ډېر یې پکې د ژبې نازنځیري واحدونه څېړلي دی. د ژبې نازنځیري واحدونو ته یې په یوناني ژبه کې پروسودیه (Prosody) ویلې چې تر اوسه پورې هم دغه اصطلاح په ژبپوهنه کې دود ده (ذکي، ۱۳۹۴: ۴۶).

هرودیانوس یا هیرودین د اپولونیوس زوی دی چې د یونان په سکندریه کې پر (۱۷۰ م) کال زېږېدلی دی، دی یو مورخ او د ژبې څېړونکی وو، نوموړی د لیکنښو او عروضي توکو بنسټگر دی. د زیروبمی، بېلتون و پیوستون او له دغې لارې په کلمو او جملو کې د ماناوو پر اوښتون یې ژور بحثونه وکړل (مرهون، ۱۳۹۶: ۸۳).

**پایله**

لرغونی یونان او هلته رامنځته شوی تمدن دومره ځواکخیز دی چې هر اړخ یې د ډېرو خبرو او څېړنو وړتیا لري. په دې ترڅ کې ژبه، گرامر او ژبپوهنه هم د دې تمدن په ستره غېږه کې ځای لري.

ژبه چې په وگړني پرمختگ او تمدن کې اغېزناکه ونډه لري، لرغونو یونانیانو د دغې وسیلې په اړه بحثونه کړي او د ژبې بیلابېل اړخونه یې سپړلي دي، د ژبې په اړه د څېړنو او بحثونو لومړنیو نوغو په یونان کې سر راپورته کړی او سوکه سوکه ستر، پیاوړي او لوړ شوي دي، خو که د لرغوني یونان لومړنۍ ژبنۍ څېړنې د لرغونې اریانا د سنسگریت

ژبې او پاڼینې له څېړنو سره پرتله شي، نو یوناني توصیفي او فلسفې بڼه لري او ارياني تشریحي.

د لرغوني یونان د هغه وخت فیلسوفانو چې د وگړني ژوند په بېلابېلو اړخونو بحث او فکر کوه، ژبه هم ترې هېره نه وه. په دې توگه ویل کېدای شي چې د ژبې، گرامر او ژبپوهنې په اړه د اوسنیو څېړنیزو لړیو او پرمختگونو بنسټگر لرغوني یونانیان دي چې دغه ډول څېړنو او بحثونو ته یې مخه کړله.

**مناقشه**

د یونان د تمدن او ادبي ـ ژبني بهیر په اړه پښتو کې گڼې څېړنې شته او په بېلابېلو اثارو کې ورته نغوتې شوې دي. دا لیکنه د نورو په پرتله د بڼې له اړخه لنډه، خو د مانا له اړخه پراخه ده او هڅه شوې ده چې لوستونکو ته په کمو ټکو کې ډېر معلومات ورکړل شي.

**پایله اخیستنه**

د څېړنې موخه دا وه چې د یونان د لرغونې دورې ژبنۍ او گرامري څېړنې له څرنگيز او څومره ییز اړخه وپېژندل شي، د دې موخې له پاره مو وغوښتل چې گټور او غوره معلومات په لنډه لیکنه کې ځای شي، له دې کبله معلومات لنډ او له اوږدو ډډه شوې ده. د دې لنډې څېړنې نه په گټنې لوستونکي کولای شي، د ژبڅېړنې پراخې نړۍ ته ورننوځي او بیا په لرغوني یونان کې ژبنۍ ـ گرامري څېړنې، فلسفې او نظریې ولولي.

**اخځونه**


۱ ـ ارین، نوید. (۱۳۹۵ ش). د فلسفې لنډ تاریخ. کندهار : صداقت خپرندویه ټولنه.

۲ ـ حقشناس، محمد علی.(۱۳۸۴ش). تاریخ مختصر زبانشناسي (ژباړه). شپږم چاپ. تهران : کتاب ماد.

۳ ـ ذکي، محمد ذاکر. (۱۳۹۴ش). ژبه او ژبپوهنه. کابل : ملي تحریک.

۴ ـ رشتین زیور، زرغونه. (۱۳۹۵ش). پښتو نحوه. ننگرهار : مومند خپرندویه ټولنه.

۵ ـ زړن، جانس. (۱۳۸۲ش). د یونان د لرغونو ادبیاتو لومړی دوره. پېښور : ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز.

٦ – شېرزاد، محمد اقا.(۱۳۹۵ ش). پښتو نحوه. جلال اباد : میهن خپرندویه ټولنه.

۷ـ مرهون، محمود. (۱۳۹٦ش). تاریخي ژبپوهنه. کابل : کاینات څېړنیز او ژباړې مرکز.

۸ـ یمین، محمد حسین. (۱۳۹۴ش). تیوری های زبانشناسی. کابل : انتشارات سعید.

۹ ـ یون، محمد اسماعیل. (۱۳۹۴ش). کتاب الشعر او لس نورې مقالې. کابل : ملي تحریک.

۱۰ـ یون، محمد اسماعیل. (۱۳۹۴ش). فلسفه او فلسفي بهیر. کابل : ملي تحریک.

## له موقعيتي قرينې سره د مانا تړاو

جانباز جرار[۱]

**لنډيز**

ژبه او مانا له موقعيتي قرينې سره ډېره نږدې اړيکه لري، څکه هره کلمه له خپل وخت او مکان سره سمه مانا ورکوي، د چاپيريال او بهرنيو چينلونو له ارتباط څخه بغير د مانا لېږدول ستونزمن کار دی، دا څکه چې په شرايطو او قراينو پوهېدل موږ ته د متن د تفسير اجازه راکوي، د موقعيتي قرينې د مانا په جوړ کې د چاپيريال ټول اړخونه شامل دي، حتی تر دې چې د ژبې او مانا پخواني يا تاريخي ماناوي هم بې له موقعيتي او فرهنگي قرينې څخه زياتره وخت د پوهيدا وړ نه وي، موقعيتي قرينه په ژبه کې د مانا ابهام له منځه وړي، په دې ليکنه کې پر موقعيتي قرينه، ځانگړنو، ډولونو او له مانا سره پر تړاو باندې يې بحث کېږي...

**کليدي وييونه:** ارتباطات، موقعيتي قرينه، د موقعيتي قرينې وېش

**سريزه**

د مانا پوهني، معاني او کارونپوهني درو واړو کار يو شی دی، چې د مانا څېړل او پر مانا باندې بحث کول دي، خو د دوی تر منځ موجوده فرقونو د مانا په دقيقوالي کې لا مرسته کوي، مانا پوهنه د لغات او مانا تر منځ رابطه څېړي، معاني د فصاحت او بلاغت اړوند د جملو د ترتيب علم دی، چې پر مجازي ماناوو بحث کوي او کارونپوهنه د مخاطب او متکليم په نظر کې نيولو سره مانا مطالعه کوي، چې کلمې يا جملې ته د چاپيريال او شرايطو په نظر کې نيولو سره مانا ورکوي، د مانا او موقعيت تر منځ نه بېليدونکی تړاو شتون

---

[۱]- د کابل پوهنتون د پښتو ژبې او ادبياتو ماسترۍ محصل

برېښناليک:

شمېره: ۰۷۰۰۵۴۰۳۹۷+۹۳

لري ځکه خو موږ وایو چې -هر نقطه مکان و هر کلمه جا دارد- موقعیتي قراین د یو بریالۍ مکالمې او قوي ارتباطاتو لپاره مرسته کوي چې د مانا ابهام له منځه وړي، د ویتګنشتاین شعار دی، چې د مانا پوښتنه مه کوی، بلکې د کلمې د کارونې پوښتنه وکړی.

د پسبرټ په وینا د کلمې مانا بدله نه وي، بلکې د شرایطو په اساس بدلیږي، د ترافیک او فوټبال د ریفري شپلکی دواړه یو شی دي، اما د موقعیت په اساس یو له بله فرق لري او هر یو د یوې بېلې مانا له پاره کارول کیږي، ځکه چاپیریال په ژبه باندې همیشه خپل اثر لري، په ژبه کې د چاپیریال یا بهرنیو چینلو له ارتباط څخه بغیر د مفهوم لیږدول ستونزمن کار وي، که څه هم ځینې مفاهیم د انسانانو د مشترکو تجربو او درک په اساس یو ډول وي او ورته والی لري لکه سلام، خندا او ژړا، اما ځیني مفاهیم یې بیا په یو انډول کې نه راځي. پر شرایطو پوهیدل موږ ته د متن د تفسیر او تعبیر اجازه راکوي هغه که د قراینو په اساس وي او که د خپل منځي اړیکو، ځکه ژبه له فرهنګي موقعیتي قرینو، خپل منځي اړیکو او ادابو بغیر د پوهاوي دنده نه شي تر سره کولای.

که څه هم د سوسور د نظریې په اساس چې ژبه پر واقعي نړۍ تکیه نه لري، بلکې واقعي نړۍ د ژبې په واسطه بیانیږي چې دا له چاپیریال سره د ژبې یو اړخیزه اړیکه ښیي، ځکه د سوسور د رغښتي نظریې په اساس مانا د ژبې داخلې مساله ده له بهره ژبې ته نه راځي، د کلمو او جملو تر منځ توپیر د مکالمې په قرینه (وینا) کې مشخصوي او ژبنی نظام په یوازې ډول د پوهاوي او را پوهاوي له پاره پر ځان بسیا ګڼي، خو وروسته ژبنیو څیړنو او پراګماټیکس علم دا و ښوده چې له بهرنیو چینلو او شرایطو پرته د یو مفهوم لیږدول ستونزمن کار دی.

## ټولنیزې قرینې

کله کله به له داسي خبرو سره مخ شوي یاست چې (دا ځای د دې خبرو نه وو، یا دا ځای د دې خبرو نه دی) او یا هم به د داسي کلمو سره مخ شوي یاست چې له خپلې لغوي اصلي او لفظي مانا بغیر یې پر یو بله مانا کاروو، دا ټول کارونه د ټولنیزو (موقعیتي او فرهنګي قرینو) پر اساس تر سره کیږي، قرینې له موږ سره د مانا په پوهیدا کې مرسته کوي، ژبه چې د انساني او ټولنیزو ارتباطاتو اساس ده د ټولنیزو قرینو پر اساس په ټولنه کې خپل مهم او هر اړخیز نقش ادا کوي.

ارتباطات عموماً پر دوو برخو باندې وېشل کیږي، کلامي او غیري کلامي، چې

کلامي ارتباطات پر ژبه او غیري کلامي ارتباطات د بدن پر نورو غړو او حرکاتو باندې تکیه لري، ټولنیز قراین نه یوازي دا چې د یوې بریالۍ مکالمې باعث کېږي، بلکې په غیري کلامي ارتباطاتو کې هم خپل بشپړه تاثیر لري، مخکې تر دې چې پر غیري کلامي ارتباطاتو او ټولنیزو قرینو بحث وکړو، لومړی به د کلامي او غیري کلامي ارتباطاتو پر توپیرونو هم لږ خبري وکړو، د کلامي ارتباطاتو پیغام مشخص او محدود وي، چې د لیدلو او اوریدلو په حس پوري مربوطېږي، کم اعتماده او ارادي وي، همیشه صادقانه نه وي، اما غیري کلامي ارتباطات نامشخص او نامحدود پیغام لېږدوي، په ټولو حواسو پوري مربوط په ارادي او غیري ارادي ډول ترسره کېږي، ډېر لږ غیر صادقانه وي، زیات وخت له زړه څخه رهبري کېږي او د اعتماد په برخه کې یې ارزښت تر کلامي ارتباطاتو زیات دی، ځکه د یو چا د احساساتو د پوهیدا لپاره تر کلامي ارتباطاتو بهتر او ریښتني معلومات په لاس راکوي، غیري کلامي ارتباطات له ټولنیزو قراینو په ځانګړي ډول له موقعیتي قرینې سره ژوره اړیکه لري او پر لاندي پنځو برخو وېشل کېږي:

۱- څهره ۲ - سترګې ۳- ټُن (د اوز فشار/ لحن) ۴ - بدني حرکات ۵ - بدني تماس

په پورته ذکر شویو برخو کې ټولنیز قراین په اوبدلې ډول خپلې اغیزې لري، موږ و تاسي په ټولنه کې د حال د قرینې په اساس له داسي زیاتو مواردو سره مخ شوي یو، چې د یو چا له حال او څهرې سره اکثره وخت خپلې خبري بدلوو، کیدای شي تاسو اکثریتو دا اوریدلي وي چې (طبیت یې سم نه وو، نو ځکه مې اوس دا خبره ورته و نکړه) او یا په فارسي ژبه کې دا یو عامه خبره ده چې (چشمش را ببین، دلش را بخوان) له دې سره د سیسرون وینا هم داسي ده چې (څهره د روح یا روان تصویر دی)

ټولنیزي قرینې بیا عموما په موقعیتي او فرهنګي باندې وېشل کېږي، زه غواړم چې لاندي له مانا سره د موقعیتي قرینې پر تړوا بحث وکړم:

**موقعیتي قرینه:**

هلیډې قرینه په دوو برخو وېشي یوه یې د ژبې دننه برخه چې د متن له داخلي انسجام سره تړاو لري (د کلمو او جملو له خپل منځي اړیکو پیدا کېږي چې سیاق ورته وایي) دلته د ځینو کلمو مانا یوازي په جمله یا د کلمو په سلسله کې معلومېږي مثلا، که زه ووایم چې میاشت اوږده وه هدف مې له هغو دیرشو ورځو څخه دی چې مجموعه یې یوه میاشت وخت تشکیلوي او که ووایم چې میاشت نرۍ وه، تاسو ټول پوهېږئ چې د سپوږمۍ

شکل هلال یادوم.

بله له ژبې بهر په فزيکي نړۍ پورې تړلې قرينه چې موقعيتي او فرهنګي قرينې يې بولي

د هليډې او حسن له نظره موقعيت ټول هغه بيروني ژبني عوامل دي، چې له متن سره تړاو لري، دا بيروني عوامل په ژبه کې خپل خاص نقش لري يا به داسې ووايو چې ژبه په قرينه او قرينه په ژبه کې خپل نقش لري، دلته دوی د نقش (Function) مفهوم په داسې موخه کار کړی، چې د ژبې د سيستم له اراېې او د موقعيتي قرينې له لغوي او ګرامري سيستم سره سم وي (د موقعيت له حال او مانا سره برابر وي) بيا يې په ټولنه او متن کې ژبه پر درو برخو وېشلې ده:

خيالي نقش (Ideational Function)، خپل منځي نقش (Interpersonal Function) او متني فعاليت (textual function)، په لومړي رول کې منځپانګه په دوهم رول کې ټولنيز مناسبات او په درېيم رول کې قرينه چې په قرينه کې د ژبې له څه ډول کاروني څخه بحث کېږي، په دې تقسيم کې هليډې د موقعيتي قرينې د مانادار برخو له ټاکلو سره د ژبې او موقعيتي قرينې د رابطې تر منځ څنګه والی هم ښوولی، څکه متن او قرينه يو د بل بشپړونکي دي، متن هم د خپلې قرينې جوړونکی دی او هم له خپلې قرينې سره مل توليدېږي، د مانا قرينه د متن ډول او منځپانګه ټاکي نو په همدې بنسټ هليډې د متن د تشخيص او معيار لپاره موقعيتي قرينه ټاکلې ده، څکه متن د ژبې يو واحد دی چې په موقعيتي قرينه کې رول لري، هغه په موقعيتي قرينه کې متن د ټولنيزې مانا يوه بېلګه ګڼي او دوې پوښتنې کوي:



LEVELS OF COMMUNICATION: DISCOURSE-SEMANTICS

موږ څنگه کولای شو، یو متن د هغې له موقعيتي قراینو سره تشريح کړو؟

څنگه له موقعيت څخه متن ته رسېږو؟ (۸، ندا امين او يحيی طالبيان)

## د موقعيتي قراينو درې څانگړني

۱ - د وينا يا خبرو ساحه: داسي مفهوم چې څه، چيري پيښيږي يا هغه ټولنيز عمل او ساحه چې گډونکونکي پکې برخه اخلي او ژبه پکې اساس شمېرل کيږي.

۲ - د وينا يا خبرو ځانگړتيا: په دا برخه کې د گډونکو يا برخه اخيستونکو ماهيت، موقعيت، موقف او نقش ته اشاره ده، چې د گډونکونکو تر منځ څه ډول اړيکې وجود لري، لنډمهاله، دايمي، موقتي، نږدې که ليري، چې په عموم کې د ټولنيزو روابطو مجموعې ته چې دوی اشتراک پکې لري اشاره کوي.

۳ - د وينا يا خبرو طرز: دا مفهوم د ژبې رول او طرز ته اشاره لري، چې يو څوک په کوم طرز او موډ کې خبري کوي او يا يو څه وايي، دالته د متن سمبوليک تنظيم او رول په قرينه کې څېړل کيږي.

موقعيتي قراين د دوو پوهانو له نومونو سره تړاو لري لومړی يې يو انتروپولوژيست برانسلاو مالينفسکي دی، دوهم ژبپوه جان روبرت فيرث دی.

Bronisław Malinowski يو پولنډي - برتانوي انتروپولوژيست او توکمپوه و چې د دوکتورا تر کچې يې زده کړې کړې وي، د دوهمې نړيوالي جگړې له پيل سره سم يې اخيري دنده د امريکا په ييل پوهنتون کی پيل کړه او هلته د ۵۸ کالو په عمر مړ سو.



برانسلا استدلال کوي چې د وينا ټوټې به يوازي هغه وخت مانا ولري، کله چې دوی په ځانگړو شرايطو (قراينو) کې مطالعه سي او زياتوي چې د نړی ژوندۍ ژبي بايد د مړو ژبو په څېر بغير د موقعيتي قراينو او شرايطو څخه و نه څېړل شي. بلکې بايد په هغو شرايطو

John Rupert Firth په انگلستان کې زیږېدلی په برتانوي ژبپوهنې کې مخکښ وو، لومړی زده کړې يې په تاريخ کې وکړې وروسته د پنجاب په پوهنتون کې د انگلسي ژبې پروفيسر وو او تر دې وروسته يې په لندن پوهنتون کې د فونتيک په برخه کې کار پيل کړ، چې همدالته د ژبپوهنی پروفيسور شو



کې مطالعه شي چې هغوی پکې کارول کېږي، که زه د درېیمي هجري پېړۍ پښتو ژبه وایم او یا یې څېړم لومړی باید د درېیمي هجري پېړۍ پر هغو موقعیتي او فرهنگي شرایطو ځان پوه کړم او بیا یې لیکل شوې ژبه و څېړم، چې د ژبې د تاریخي څېړنې له پاره هم دا اصل ضرور باید په پام کې ونیول شي، ځکه قراین او حالات موږ ته د ژبې د تحلیل زمینه برابروي، زه د لا پوهاوي لپاره د استاد غضنفر د مقالې په حواله د هغه دوه مثاله را اخلم، چې د وخت د حال او مهال قرینه پکې واضح شي:

پیاز، مولی، شلغم، زردک، سابه مابه خور

تر هر څه ورته بهتر دی دا طعام

موږ څنگه پوه شو، چې دا سپکاوی دی؟

د سکندر خټک دا بیت چې د خپل ورور بهرام په باره کې یې ویلی، د هغه وخت پر شرایطو له پوهیدا بغیر سم مفهوم نه سي افاده کولای او دا اعتراض یې بې ځایه ایسي، د مغولو د زمانې له باکلتوره اشخاصو غوښتنه کېده چې پیاز یا مولی و نه خوري، ځکه د ټیغو سبب کېږي او ذهن ورسره نا ارامه کېږي، دا چې هغه وخت ژوند طبقاتي وو، بهرام د اشرافو د خوړو پر ځای د غریبانو خواړه خوړل، نو سکندر ځکه پر دا اعتراض پر کاوه چې د سرداری وړ نه دی، بل خوا د مغولو د واکداری په وخت کې د هند مسلمانانو ته د حج سفر خورا سخت او له خطره ډک وو او په دې زمانه کې داسي هم کېدل چې حکومت د یو چا د جلا وطنه کولو لپاره هغه مکې ته استووی او ویل کېږي چې دا دود د مغولو په زمانه کې د بابر زوی همایون کېښود، خپل ورو یې کامران مکې معظمې ته واستوو، د مکې د سفر او دکن دغو حالاتو ته چې مو پام وي د خوشحال خټک دغه بیت راته واضح کېږي چې: (غضنفر، جادوگر هنر)

کار د بلې هوښیاریه پاتې نه شو

اوس یا مرگ دی، یا مکه ده، یا دکن

داخلي ژبني قراین هغه کلمې یا جملې دي چې زموږ تر مطلبي جمله مخکې یا وروسته راشي، مثلا که موږ ته یو لیک راغلی وي او د لیک لیکونکي حدثه کړې وي او بدن یې څو ځای مات وي، کله چې موږ دې جملې ته ورسېږو چې « شانه ام شکسته یا ملا مې ماته شوه » موږ فوراً پوهېږو چې اوږه یا ملا یادوي، په داسي حال کې د شانې له څوه ماناو څخه یوه مانا د ژبې د داخلي قراینو په اساس تشریح کېږي، ځکه چې شانه د

وينبتانو د شانه كولو او لمونځولو اله هم ده او ملا مې ماته شوه يوه ګړنه هم ده چې پر دوهمه مانا هم كارېږي.

اما موقعيتي قرينه له ژبې څخه د باندې وجود لري چې په ټولنپوهنيزه ژبپوهنه (Social Linguistic)[1] او د ژبې په ټولنپوهنه (Social of Language)[2] دواړو باندې اړه لري په دې قرينه كې ټول هغه شيان شامل دي چې د وينا كوونكي او اوريدونكي شا و خوا ګرځي مثلا كه لاندې مثالونه ته پام وكړو:

۱ - يو پلار موټر جوړوي او زوی يې ترخنګ لوبې كوي، پلار يې زوی ته وايي چې «له دې پيچ سره احتياط كوه»

۲ - بل پلار په موټر كې د زوی تر څنګ ناست دی او زوی يې په تېزه سره موټر چلوي، پلار يې زوی ته وايي چې « له دې پېچ سره احتياط كوه»

دا دوې مختلفې ماناوې لري چې موږ د داخلي او باندنيو قراينو په اساس كولای شو د هغوی مانا تعبير كړو

باطني ليكی: موږ هميشه ژبه په ټاكلي وخت او ځای كې كاروو، چې دا وخت او ځای موقعيتي قرينه او شرايط جوړوي، په هر موقعيت كې داسې عوامل شتون لري چې د ژبې په تفسير كې مرسته كوي (جمشيدی نژاد، ۱۳۹۸: ۲).

## د موقعيتي قرينې نورې ځانګړنې

كله كله متكليم او مخاطب د اړوند موقعيت د پوهې په اساس بې له دې چې په واضح توګه د يو شي نوم واخلي وايي چې « هغه راكه، يا دا ماته را» د دې جملې تفسير يوازې هغه موقعيت ته په اشارې سره ممكن دی چې دا جمله پكې كارول كيږي، هغه كه دوكان وي، كه كتابخانه او يا هم كوم بل موقعيت.

ځيني وختونه يو ژبنی عنصر يوه پراخه مانا په بر كې نيسي، مګر باندنی موقعيت دا مشخصوي چې د دې عنصر كومه مانا د توجه وړ ده، دا ځكه چې موقعيتي قرينه د مانا

---

۱ - Social Linguistic سن، جنس، دين، وضعيت او دې ته ورته نور ټول موارد چې په ژبه كې څنګه را څرګندېږي وړاندې كوي.

۲ - Social of Language د بحث محور يې ټولنه وي (پر ټولنه باندې د ژبې له اغيز څخه بحث كوي)

ابهام له منځه وړي، مثلاً، د تور کلمه ده چې په بېلابېلو موقعیتو کې بېلابېل مفاهیم وړاندي کوي: زړه مې تور شو - پر بريالي تور پوري شو، نصیب مې تور دی، تور غر او داسي نور...

ژبه معمولاً په هغه موقعیت کې کارول کېږي چې زماني او مکاني شرایط ولري، د مکان او زمان شرایط د جملې په مانا اغیزه کوي، نو ویلای شو چې ژبه له موقعیتي قراینو او (Pragmatics) څخه همیشه متاثره کېږي، کله کله دا اثر داسي وي چې ویونکی خپل مخاطب (اوریدونکی)د زمان او مکان په اساس په ځینو څرګندتیاو پوه ګڼي او د بشپړې جملې له ذکر کولو څخه یې ډډه کوي، د مثال په توګه په ژمي کې دوه کسان لمر ته ناست دي یو یې بې له مقدمې وایي چې « عجب ښه لګېږي، یا عجب ښه چسپېږي» بل ځواب ورکوي هو کاش چې یو شخصي ځای وای (ښکلی، ۱۴۰۱).

کله کله بیا موقعیتي قرینه د وختونو او ځینو نورو لاملونو په اساس تغیر هم کوي، چې یوه جمله دوې ماناوي یا مختلف تعبرونه ولري، لکه هوا ګرمېږي، په ژمي کې دا جمله یوه مانا او په دوبي کې بله مانا لري.

له موقعیتي قرینې څخه د یو متن موقعیت استنابطولای شو، لاندې بیلګې ته وګورئ:

که له « و نه و، یو...» سره مخ شوئ، پوه شئ چې، د ماشومانو یوه پخوانۍ کیسه اورئ، ځکه په بل هیڅ قرینه کې دا اصطلاح نه کارېږي(ښکلی، ۱۴۰۱: ۱۲۳).

د موقعیتي او فرهنګي قرینې تر منځ فرق دا دی چې موقعیتي قرینه د فرهنګي قرینې یوه برخه شمېرل کېږي، دغه قراین یو د بل لازم او ملزوم دي، اما فرهنګي قرینه د خلکو تر منځ مشترک مفاهیم، فکرونه او بالقوه یي نظام دی، چې له اډیالوژي، فرهنګ او ټولنې څخه تغذیه کېږي او په موقعیتي قرینه کې له متنه دباندې ټول اشیا داخل دي (ښکلی، ۱۴۰۱: ۱۱۴).

په موقعیتي قرینه کې کله کله سیمانټیکي مانا چې د لغاتو او ګرامر اړیکه ده، د مخاطب او متکلیم د ژبې د استعمال په موقعیت کې یوه بله مانا ورکوي او همدارنګه Body Language هم د موقعیتي او فرهنګي قرینې په اساس خپله مطلوبه او مشخصه مانا څرګندوي...

## پر ټولنيز چلند د ټولنيزو قرينو اغېزې

انسانان د خپلو متفاوتو موقعيتونو او فرهنگونو په درلودو سره متفاوت چلندونه لري او دا چلندونه يا سلوک يې له خپل چاپيريال څخه کسب کړی وي، رفتارگريان يا چلنواله اروا‌پوهنه په همدې باور ده چې د انسان سلوک او کړه وړه د چاپيريال مطابق عيارېږي د دې مکتب د بنسټگر واټسن په باور د افردو په رفتار يا سلوک کې تر ټولو مهم عامل چاپيريال دی، ده وايي چې د ځانگړو محيطي شرايطو په جوړېدو سره چاپېريال کولای شي چې په افرادو کې د ټاکل شوي رفتار وړاندوينه وکړي، په همدې اساس د رفتارگرايي مکتب معتقد دی چې فرد د خپل محيط په مقابل کې عکس العمل ښيي... - له دې ځايه ور ها خوا د چلنوالې اروا‌پوهنې هغه خبري چې د ادراکې اروا‌پوهنې سره په تقابل کې واقع شوې او د انسان ذهن و فکر يې له نظره غورځولی د دې مقالې بحث نه دی - تر دې ځايه دې مکتب او خبرو ته په کتو سره معلومېږي چې ټولنيز قراين هم د چلنوالي اروا‌پوهنې او چلنوالي ژبپوهنې لپاره اساسي ابزار دي، د هغو خلکو چلند چې په ښار کې اوسېږي له هغو خلکو سره چې په کليو او بانډو کې دي فرق لري، چاپيريال او ټولنيز قراين د انسانانو پر چلند باندې زياته اغيزه لري، مثلا پر لاره روان ياست گوری چې کوم کس بې هوښه پروت دی او تر څنگ يې د شرابو يو بوتل شته او يا هم داسي کس دی چې ډېري نوې قيمتې جامې او منظم لباس يې اغوستی او يا فرض کړی چې نظامې لباس يې اغوستي او يا هم نور حالتونه...، تاسو به په دا بېلابېلو حالتو کې څه کوی؟ دلته ده چې موقعيتي قراين تاسو سره ستاسي په تصميم او چلند کې مرسته کوي او تاسو دې قراينو ته په کتو سره خپل چلند عياروي... نو د چلند د بدلون له مهمو لاملونو سره چې چلندونو کې تغير راولي يو هم ټولنيز قراين دي، په لنډ ډول ويلی شو چې چلند د قراينو او قراين د چلندونو د تغير باعث کيدلای شي...

## د موقعيتي قرينې وېش

دا چې مانا د ټولنيزو قراينو، خپل منځي ارتباطاتو او ادابو څخه بغير د تحليل وړ نه ده، نو موقعيتي قرينه هم ټولنيزو ابعادو ته په کتو سره پر څينو برخو وېشلای شو:

۱ - د خپل منځي ارتباطاطو له مخې يې پر شخصي او غير شخصي برخو وېشلای شو (څه شی، څوک، له چا سره، چېرې) چې په دا برخه کې د مشر او کشر، لرې او نږدې، رسمي و غير رسمي، فردي او ټولنيز ارتباطات ټول شامل دي.

۲ - د ادبو په برخه کې موقعیتي قرینې: په دا برخه کې غیر لفظي قرینې ټولي شاملي دي، د حال قرینه چې ورته وایي، د مثال په ډول لکه په داستاني ادبیاتو کې موقعیتي قراین، البته په دا برخه کې د ادبي ژبې تر څنګ، عامیانه او علمي ژبه هم د یادونې وړ ده.

۳ - د وخت پر اساس موقعیتي قرینې: د تاریخي دورو په شمول پر بیلا، بیلو برخو وېشل شوې ده، چې په دا برخه کې (ځانګړې ورځ او د کال فصلونه شامل دي)

۴ - د مکان په اساس، مکان یا ځای ته په کتو سره هم موقعیتي قرینې په خپلو برخو وېشلې شوي (په دا برخه کې ژانر، ټول ټولنیز سازمانونه او مناسبات شامل دي، لکه ښوونځی، بازار، هدیره، واده، واعظ، تدریس، رسمي غونډې او داسي نور..

د پورته وېش اړوند اجزاو تر شاه د هري ټولنې خپل ارزښتونه موجود دي هغه که دیني دي که فرهنګي دي او که ټولنیز، مثلا زموږ په ټولنه کې تر لوی اختر یوه اونۍ مخکې خلک د اختر د ورځي د نېټې پاملرني ته داسي قرینه کاروي، چې:

را روانه دوشنبه به په ټول هېواد کې ډېرې وینې توی شي!

پورته جمله که د یو بل هېواد لوستونکي چې زموږ له دیني او فرهنګي مسایلو څخه ناخبره وي ولولې، څه تعجب فکر به وکړي، اما موږ و تاسې د موقعیتي قرینې له مخې پوهېږو چې د لیکونکي مراد د لوی اختر ورځ ده، چې پر دا ورځ قرباني کوو او وینه تویوو...

**پایله**

ټولنیزي قرینې او ارتباطات د مانا پر جوړښت او انتقال کې مهم رول لري، ځکه مانا یوازي د ژبې پر داخلي جوړښت پوري اړه نه لري، د یوې بریالۍ او ښې مکالمې لپاره ټولنیز قراین ډېر مهم دي، چې موقعیتي قرینه د ټولنیزو قرینو له مجموعې څخه یو مهم ډول دی او د مانا په ښه پوهیدا کې راسره مرسته کوي، د موقعیتي قرینې تر ټولو مهمه دنده دا ده چې بهترین ارتباطات برقراره کړي او د مانا ابهام له منځه یوسي، که پر موضوعي لحاظ د موقعیتي قرینې پر ټولو اړخونو باندې بحث وشي، د متونو او خبرو د تفسیر لپاره به بهترینه لاره وي.

**ماخذونه**

۱ - حمیدزی، راحله. (۱۳۹۹)، *گذار از مقوله و میزان به دستور نقش‌گرای نظام‌مند هالیدی*، کابل: نشر کابلستان

۲ - ښکلی، اجمل. (۱۴۰۱)، *د ژبپوهنې نظريې*، کابل: پکتوس خپرندويه ټولنه

۳ - پالمر، ر.فرانگ. (۱۳۹۵)، *نگاهی تازه به معنی شناسی*، (مترجم: کورش صفوی)، چاپ هفتم، تهران: کتاب ماد.

۴ - آرزمی، خلیل الرحمن. (۱۳۹۹)، *در آمدی بر مفهوم ارتباط انسانی*. کابل: نشر پرند

۵ - غضنفر، اسدالله. (۱۳۸۳)، *جادوگر هنر*، جلال اباد: مومند خپرندويه ټولنه

٦ - سالاری، محمدرضا. (۱۳۹۳)، *روانشناسی اجتماعی*. چاپ پنجم.

۷-سالمي، محمد عالم. (۱۳۹۵)، *د عمومې ارواپوهنې آرونه*. ننگرهار: گودر خپرندويه ټولنه.

۸ - جرار، جانباز، گړنې او گړنيز متلونه، رساله

۹ - ندا امين، يحيى طالبيان،. *آرتباطات بافت موقعيتي و لايه های معنايي زبان در رساله «بیان سلوک»* مقاله پژوهشی.

۱۰ -جمشيد نژادی، حبيب الله. (۱۳۹۸)،*نقش بافت در تعبير معنی*، مقاله

۱۱https://www.google.com/url?sa=i&url=http٪۳A٪۲F٪۲Fwww.uefap.com٪۲Fgrammar٪۲Fin tro٪۲Fsfl
intro.htm&psig=AOvVaw۳۱vqXo٠T٧HpUMqH٤٢Mwrg٠&ust=١٦٨٦٣٤٦٧٤١٦٧٠٠٠٠&source=images&cd=vfe&ved=٠CA٤QjRxqFwoTCLCNhqjRtP٨CFQAAAAdAAAAABAD

## ولسي شاعر سورګل خزان او د هغه شاعري

نصرت الله نصرت[۱]

### لنډیز

د غوربند سمسوره لویه دره چې ټولې څلور ولسوالۍ په خپل غېږ کې رانغاړي یوه یې د علم، ښکلا او څلا خاونده (غوربندسیاګرد) ولسوالۍ ده چې د سمسورو،ځپانده سیندونو لرونکو د علم او ښکلا په ګاڼه سمبالو درو څخه تشکیل شوې ده. یوه له هغو درو څخه د (خویشکو) لویه دره ده چې د علم او ښایست په ګاڼه یې سمبالتیا له ورایه ښکاري. نوم یې سورګل او تخلص یې خزان، د قاسم خان زوی او د رحمت خان لمسی دی د پروان ولایت د (غوربند سیاګرد) ولسوالۍ د خویشکو د لویې درې اړوند د (تی خان) په دره کې په کال(۱۳۱۰ل.ل) د تلې (میزان) په پنځه لسمه (۱۵) د قاسم خان په کورکې زېږېدلی. زده کړې یې په رسمي ډول نه دي کړې بلکې د شعري کلام او رسمي ماموریت یې په ښکاره ډول معلومېږي چې د لیکلو او لوستلو پوره استعداد یې درلوده. له علماوو او لوستو کسانو څخه یې د وخت مروجه علوم لوستي. د خزان صاحب د خپلې وینا په اساس چې وایي د شعر او شاعری سره یې زیاته مینه وه خو ده شعر دخپل عمر په وروستیو کې شروع کړی دی. د شعر ژبه یې ډېره خوږه،ساده، رنګینه او دخاصو پیغامونو درلودونکې ده. په شعر کې یې د استعارو، نادروتشبیهاتو،کنایو او نورو بدیعي صنایعو لکه: تضمین، اعنات، ذوالقافیتین، اقتفاً، طباق الاضداد، ایهام(توریه)، مراعات النظیر، براعت الاستهلال او داسې نورو څخه کار اخیستی او دا دده د کلام په پوخوالي او قوت باندې پوره دلالت کوي. دمحتوا لمخې یې په شعر کې عشقي،تصوفي او نور ټولنیز مسائل لکه: انسانیت، رښتینولي،صداقت،پند او نصیحت او داسې نور موضوعات راوړي دي. نو داچې دا یوه

---

[۱]- د پروان پوهنتون د پښتو څانګې پوهنمل استاد

برېښنالیک: nnasratullah۱۲@gmail.com

شمېره: ۹۳۷۷۴۳۶۴۹۹۱+

نوې څېړنه ده په کې له تشریحي او تحلیلي میتود څخه کار اخیستل شوی او هدف یې د سورگل خزان دشعر د بېلابېلو اړخونو سپړنه ده. خزان صاحب په کال (۱۳۹۳ل.ل) د جدي د میاشتې په اتلسمه نېټه له دې فاني دنیا څخه سترگې پټې کړې چې د کابل ولایت د تخنیکم په لویه هدیره کې خاورو ته سپارل شوی دی.

**سریزه**

شعر دی او که شاعري کول دي په حقیقت کې د زړه غوټه خلاصول دي. د خزان صاحب له شعر او شاعرۍ ښکاري چې ده په خپل سینه کې یو درد مند زړه درلود. دې دردونو مختلفې سرچینې لرلې چې شعر یې په دې باندې په ښکاره ډول دلالت کوي. د کورنې ژونده نیولي د وطن او د نړۍ ټولې خواوې یې تر نظر لاندې نیولي او خپل خیال، احساس، فکر او تجربه یې د شعر په ژبه لوستونکو او ټولنې ته وړاندې کړي.

د خزان صاحب شاعري ډېره لوړه شاعري ده، په رنگینو الفاظو کې د خیال په وزرو د نړۍ گوډ گوډ گوري او څاري یې که څه هم دی رسمي زده کړې نه لري خو هو! دومره څه لیکلی او ویلی شي چې د ده فکر او احساس یې ویل او لیکل غواړي دا هغه احساس،فکر او غوښتنه ده چې د خزان صاحب په شعرو نو کې راغلې ده او د ټولنې په اصلاح او سمون کې بې له شکه ښه اغیز ښندلی شي.

خزان صاحب پښتون دی او پښتونولي ستایي ډېر پوه،ځیرکه او د ملي احساس در لودونکی شاعر دی څه چې د خپل ځان لپاره غواړي هغه د بل لپاره هم غواړي او دا بیا د انسانانو له غوره اوصافو څخه حسابېږي.

**دڅېړنې اهمیت او مبرمیت**

د دې څېړنې اهمیت په دې کې دی چې د پښتو ادب په برخه کې یو نوی ولسي شاعر او لیکوال و پیژندل شي او د لوړ شعري پیغام ترڅنگ یې د شعر نورې ځانگړنې واضح شي. ترڅو لوستونکي او مخاطبین یې دشعر څخه زده کړه وکړي.

**دڅېړنې موخې**

د دې څېړنې موخه د سورگل خزان د شعر او شاعرۍ د بېلابېلو برخو لکه: د محتوا، فورمونو او د ده د ژوند د حالاتو ترڅنگ په شعر کې یې د لوړې موخې څرگندونه ده.

**د څېړنې پوښتنه**

سورګل خزان څوک او د څه ډول شاعر په حیث یې را پېژندلی شی او دشعر ښکلاییز او محتوایي اړخ یې په بشپړ ډول واضح کړی؟

**د څېړنې مېتود**

دا چې دا یوه نوې څېړنه ده نو په دې اساس د دې څېړنې میتود تحلیلي او تشریحي دی.

**د سورګل خزان پېژندنه**

سورګل خزان لکه د یوه ګل په شان دې فاني دنیا ته په کال (۱۳۱۰ه.ش) سترګې و غوړولې. د ده د زېږېدنې ځای پروان ولایت د (غوربند سیاګرد) ولسوالۍ د خویشکو لویه دره ده دا دره په څلورو نورو وړو ښاخونو (درو) ویشل کېږي چې سورګل خزان د (تی خان) درې پورې اړوند د (کوز تی خان) په کلي کې زېږېدلی دی.

سورګل خزان دخپل نسب او زوکړې نېټه داسې په خپله ژبه بیان کړې ده.

اصلي نوم زما سورګل دی، تخلص مې دی خزان
دپلارنوم مې قاسم خان دی،د نیکه نوم رحمت خان
او سیدونکی د غوربند یم، په غوربند کې د تی خان
یم په ختېه باندې خویشکی، په ټبر پښتو زبان
که څه هم په قام پښتون یم، په ملت یمه افغان
امتي د محمد(ص) یم، په مذهب کې د نعمان
زه چې راغلمه دنیا ته، په تخت ناست وه نادر خان
سنه دیارلس سوه لس وه، میاشت دتلې یا میزان
(۳ – ۱)

ده خپل نسب د زوکړې کال،ټبر،مذهب او امت په خپله ژبه په واضح ډول ښودلی دی. نوم یې سورګل او تخلص یې خزان دی د قاسم خان زوی او د رحمت خان لمسی دی د زوکړې ځای یې د خویشکو د درې پورې اړوند د (تی خان) په درې کې دی او په کال (۱۳۹۳ل.ل) کې یې له دې فاني دنیا څخه سترګې پټې کړي او د کابل د تخنیکم په هدیره کې خاوروته سپارل شوی دی.

**د سورګل خزان زده کړې**

سورګل خزان د لیک او لوست پوره استعداد او د شعر او شاعرۍ عالي قریحه یې درلوده

خو داچې ده څومره رسمي زده کړې کړېدي او څومره غیر رسمي لومړی به د ده دا خپله وینا واورو او بیابه د شوي څېړنې له مخې پرې رڼا واچوو.

وایم شعر په پښتو ژبه، خو شاعر نه گڼم ځان
معافي غواړم له خلکو، که مې شعر کې وي نقصان
ځکه زه یم بې تحصیله، په تصنیف کې کم توان
نه بدیع دی ماویلی، نه عروض او نه بیان
له ملانه مې ویلي، دوه کتابه یو زمان
یو قرآن د خدای (ج) کتاب دی، بل پښتو رشید بیان
هغه هم بې له معنا نه،معمولي سطحې روان
لکه څوک چې کړي خبرې، دناطق طوطي په شان
دا چې مایو څه زده کړي،دی کمال مې دخپل ځان
دملا یا معلم نه شته، له دې زیات په ما احسان
ماپر ځمکه خط زده کړی،نه په بل څه او بل شان
په قلم، کاغذ مې نه دی،مصرف کړی یو غیران
هم په شعر شاعرۍ کې،بې استاده یم روان
خپل بېړۍ له اوبو باسم، په توفیق د پاک سبحان
(۳ - ۱)

ډېر ښه او په زړه پورې عجیبه دا ده چې دی د دولت یو مامور هم پاتې شوی دی. د ده له وینا او د شویو څېړنو څخه دا معلومېږي چې ده رسمي زده کړې نه دي کړې بلکې د لیک او لوست پوره استعداد ترڅنگ د شعر او شاعرۍ ډېره عالي قریحه یې هم لرله او د وخت مروجه علوم یې د وخت له علماوو څخه په مسجد کې زده کړي وو. خو لکه چې خپل وایي چې ما دوه کتابه لوستلي یو قرآن عظیم شان او بل رشیدالبیان چې معمولاً په مساجدو کې لوستل کېږي.

**د سور گل خزان د شعر ښکلاییز اړخ**

د سورگل خزان کلام ډېر خوږ او زړه را ښکونکی کلام دی که څوک په واقعیت کې د زړه آواز د قلم په ذریعه په کرښو ترسیم کړي نو فکر کوم چې خامخا به هغه کرښې اغیز ناکې وي، سورگل خزان دا کار په ډېر عاقلانه او استادانه ډول کړی دی.

((شاعر د اولس ژبه ده. شاعر دملت سترگې دي. شعر دټولنې د ژوندانه هینداره ده رښتیا هم شاعر له خلکو پورته کېږي د اولس د زړه خبرې کوي او زړه ته یې ننوځي. د

ژوند تصوير يې وباسي. د قلم په ژبه له قام سره غږېږي له ټولنې نه اثر اخلي او پرې تاثير ښندي.)) (۱ - ۱٦۸۵)

خزان صاحب داکار کړی دا چې د ده دکلام خوږوالی په څه کې دی؟ ده قلم ژبه کړی او د ټولنې واقعي انځور يې کښلی له دې سره سره دی بې هنره هم نه دی او په خپل کلام کې يې له هنريت څخه پوره کار اخيستی دی. لفظي او معنوي ښکلاوې چې دکلام دښايست او ښکلا سبب کېږي په خپلو شعرونو کې دا ښکلاوې په ډېرې ځيرکی سره راوړې دي.

**الف: لفظي ښکلاوې**

که چېرته د کلام ښکلا په کلمو او ترکيبونو پورې اړه ولري لفظي صنعتونه (ښکلاوې) يې بولي،دلفظي ښکلاوو په راوړنه ليک په زړه پورې کېږي او لوستونکی دليکنې په لوستو اړباسي چې دا په خپل ذات کې د د غې برخې ارزښت په ګوته کوي (۸ - ۴۸).

**تضمين:** که چېرته شاعر دسند او مثال په توګه يا دخپل مطلب د تقويې لپاره د تام ارتباط په صورت کې دبل چا دنظم يوه ټوټه،نيم بيتي يا څوبيته په خپل نظم کې راوړي تضمين بلل کېږي. بايد په غبرګو ليندکيو کې ونيول شي.

يا تضمين په لغت کې ضمانت کولو ته وايي اصطلاحا که چېرې شاعر په خپل شعر کې د بل شاعر د شعر يوه مصره،يو بيت ا وياهم څو بيتونه د سند او مثال په توګه راوړي تضمين ورته ويل کېږي (۲ -۱۲۱). خزان صاحب خپل شعر داسې تضمينوي

((ټيټ مې مه بوله غورځنګ راباندې مه کړه))
((زه په دې افتادګی کې لوی ګړنګ يم))
راته ونه کړې اټکل د اوبو وړې
زه په تل دسمندر کې لوی نهنګ يم
د زمري په شان يم ناست غلی آرامه
که مې څوک شي مزاحم بيا په غورځنګ يم
(۳- ۲۵)

پورته لومړنی بيت د خوشحال خان خټک دی چې خزان صاحب مکمل يو بيت دتضمين په ډول راوړی دی نو داچې يو مکمل بيت راوړل شوی؛ دې ډول تضمين ته استعانه ويل کېږي.چې خزان صاحب په ډېر ښکلي انداز خپل شعر د هغه په اساس تضمين کړی دی.

**اعنات (الزام ما لا یلزم):** اعنات په لغت کې ځان په تکلیف کې اچولو ته وايي او د ادبي فنونو په اصطلاح کې له هغه ادبي صنعت څخه عبارت دی چې شاعر یا ناظم یو نا لازم شی په ځان لازم و ګرځوي.

دې صنعت ته په عربي کې (التزام، لزوم مالایلزم)هم وايي یعنې شاعر یا ناظم یوه قافیه یا بله کومه کلمه چې اړه ورته نه وي په ځان لازم و ګرځوي. (٦ - ۱٦۴)

اعنات په څو ډوله پيښېږي هغه ډول اعنات چې شاعر دخپل نظم په هر بیت کې دیوې کلمې راوړل په ځان لازم ګرځولي وي. لکه

ښکاري ظالمه! بلبلان په کاڼو مه وله نور
د پاکې مینې لېونیان په کاڼو مه وله نور
وزر یې مات دي د فلک دناکردو له لاسه
دا مات وزري ګوربتان په کاڼو مه وله نور
وینې ترې څاځي لا جوړشوي یې زخمونه نه دي
دا جنګ ځپلي افغانان په کاڼو مه وله نور
(۳ -۸)

د خزان صاحب په پورته بیتونو کې وینو چې شاعر د خپل شعر په هر بیت کې د یوې کلمې (کاڼي) راوړل په ځان لازم ګرځولي دي چې په هر بیت کې په تکراري ډول راغلې ده. بې له شکه دشعر په ښکلا کې یې خپل خاص ارزښت درلودلی دی.

**ذ والقافیتین:** که چېرته شاعر په خپل کلام کې دوې قافیې راوړي، ذوالقافیتین ورته وايي(۸ - ٦۹).

چې دا بیاځانته ډولونه لري. هغه ذوالقافیتین شعرونه چې شاعر دخپل کلام په هربیت کې دوې قافیې راوړې وي. لکه د خزان صاحب په دې لاندې شعر کې:

نن چې دې په زلفوکې کتار ګلونه ایښي دي
بیا دې ساده زړونو ته د ښکار دامونه ایښي دي
بېرته به روغ نه شي په دوا او په دمو باندې
تاچې په کوم زړه باندې خونبار داغونه ایښي دي
نور به پرزړو داغو تازه داغونه کېږ دې ته
ځکه دې تازه پر سپین رخسار خالونه ایښي دي
(۳ - ۱٦).

ډېر عالي او په زړه پورې خزان صاحب په خپل شعر کې په هر بيت کې دوه د قافيې کلمې راوړي چې په ترتيب سره (کتار،ګلونه،ښکار، دامونه،خونبار، داغونه، رخسار، خالونه) دقافيې کلمې راغلې دي چې شعر يې ترآخره په همدې ډول راغلی دی نو داچې شاعر په هر بيت کې دوه د قافيې کلمې راوړې دي دې ډول ادبي صنعت ته ذوالقافيتين وايي.

**اقتفأ:** په ژبه کې اقتفاْ په چاپسې کيدلو او يا له چا څخه پيروي کولو په معنا ده او په اصطلاح کې که کوم شاعر دکوم بل شاعر د نظم په وزن او د هماغه د نظم په ډول قافيه د خپل خيال لپاره غوره کړي اقتفاْ ورته وايي. سورګل خزان او دايې هم اقتفاْ

په نظر د نابيناوو جوهريانو
خرمورې، لعل او ګوهر درې واړه يو دي
د بدمستو،بد مستۍ او عياشۍ ته
عاشورا،مېلمه اختر درې واړه يو دي
په بې نظمه بې قانونه اداره کې
بې سواد، لېسانس ماستر درې واړه يو دي
(۳-۴۲)

شاعر د رحمان بابا د هغه يو شعر چې په همدې وزن،قافيې سره دی اقتباس کړی چې په وا قعيت کې دا اقتباس په ډېر ښه انداز کې را اخيستل شوی دی رحمان بابا وايي:

په سبب د ظالمانو حاکمانو
کور ګور پيښور درې واړه يو دي

دلفظي صنعتونو په برخه کې به هم دومره کفايت وکړي شاعر په خپل شعر کې په ډېر ښه انداز دغه صنايع کارولي دي چې په دې سره يې دشاعر کلام ته ښکلا ور ببښلې ده.

**ب: معنوي ښکلاوې**

که چېرته د کلام ښکلا په معنا پورې اړه ولري معنوي ښکلاوې ورته وايي. شاعر په خپل شعر کې دوه مخالفې کلمې او يا داسې صنايع راوړي چې هغه په کلام کې د معنا په لحاظ د ښکلا سبب شي او په دې سره کلام خوږ او زړه راښکونکی شي.

يا د بديع دعلم هغه ډول دی چې دکلام ښکلا په معنی پورې اړه ولري (۸-۱۱۶).

**طباق الاضداد:** طباق په لغت کې يوځای کولو ته وايي. په اصطلاح کې طباق الاضداد

هغه ادبي صنعت دی چې شاعر په خپل کلام کې دوې مخالفې معناوې راوړي چې دا بیا ځانته نور ډولونه هم لري.

دطباق بدیعي ښایست په بیلابیلو نومونو لکه: تضاد،تناقض، تقابل او مقابله یاد شوی دی. (٦-٢٦) سورگل خزان لیکي:

د زنې خال مې لټاوه چې په دامو پرېوتم
د اور بل سیوری مې غوښته په سرو لمبو پرېوتم
دا به زما د اوده بخت د مات تندي تقصیر وي
چې لاس مې گلوته کړه وړاندې په اغزو پرېوتم
(۳ – ۸۸)

شاعر په خپل شعر کې د(اوربل سیوری او سرې لمبې همدارنگه گلونه او اغزي) دمعنا په لحاظ متضادې کلمې راوړې دي چې دې ډول ادبي صنعت ته نوموال طباق ویل کېږي چې شاعر په خپل کلام کې د نوم یا د نوم له ډلې څخه دوه متضادې کلمې راوړي. مثال:

دوه سترگې مې څلور شوې د سبا په تمه، تمه
دهجر په تیارو کې رڼا ده ورکه کړې

ژاړمه،ژړېږمه،ژړامې ده په برخه
د ژوند ډېرو غموکې مې خندا ده ورکه کړې

شاعر په خپل شعر کې متضادې کلمې را وړې دي چې په ترتیب سره(د هجر تیارې او رڼا او همدارنگه ژړا اوغم د خندا) سره متضادې کلمې راوړل شوي دي چې دې ډول ادبي صنعت ته طباق الاضداد وايي.

**ایهام(توریه)**: ایهام په لغت کې وهم او گومان کې اچولوته وايي او توریه په لغت کې دحقیقت پټولو ته وايي په اصطلاح کې ایهام یا توریه دې ته وايي چې شاعر په خپل کلام کې دوې یا زیاتې معنا لرونکې کلمې راوړي چې دلوستونکي یا اوریدونکي ذهن نا مقصودې نژدې څرگندې معنا ته لاړشي مگر مقصوده معنا یې بله وي. دا هم بېلابېل ډولونه لري.

**مجرد ایهام:** که چېرته له نژدې یا لرې معنا سره مناسبې کلمې راغلې نه وي یا په یوه بیت کې د دواړو معناوو لپاره اړوندې کلمې راغلې وي په دواړو صورتونو کې مجرد ایهام ورته وايي(۸-۱۲۳). خزان لیکي:

که پيدا نه وه آدم، نه به درد و نه به غم
چې آدم راغی دنيا ته، شو پيدا ور سره غم
موږته پاتې په ميراث کې، له زړو نه دی زوړ غم
لازوړ غم خلاص شوی نه وي، چې راپيښ شي نوی غم

په پورته شعر کې له (آدم) څخه يوه نامطلوبه معنا آدم (ع) دی او بل مطلوبه معنا چې دلته دشاعر مطلب دی هغه خلک يا آدميان دي نو شاعر دلته په خپل شعرکې مجرد ايهام معنوي ادبي صنعت کارولی دی.

**مراعات النظير:** مراعات په لغت کې د ساتلو په معنا او نظير د مثل او مانند په معنا دی هغه ادبي صنعت دی چې شاعر په خپل کلام کې څو متناسبې معناوې راوړي مراعات النظير ورته وايي. دغه صنعت ته تناسب، تلفيق او تلازم هم وايي. (٦ - ٣٨)خزان صاحب د جنت تر سرليک لاندې ليکي

جنت نه غواړمه خدايه په بدل کې دطاعت
که په تمه دجنت وي دا خو نه شو عبادت
سمه بيه او شراشوه، ترېنه جوړ شو تجارت
که جنت په تجارت وي، بيانو څه شو ستارحمت
ښه به دا وي پاکه ربه، چې راضي شم په قسمت
ستارضا،زمارضا ده که دوزخ وي که جنت
بې ريا به زه کومه له اخلاصه عبادت
ته په فضل او کرم خپل ماته وکړې مغفرت
(٣ - ٧٦).

په پورته شعر کې (جنت،طاعت،عبادت،رحمت،قسمت،مغفرت) يو له بل سره متناسبې کلمې راغلې دي نو کله چې شاعر په خپل کلام کې متناسبې کلمې راوړي دې ډول ادبي صنعت ته مراعات النظير وايي چې د معنوي صنايعو له جملې څخه يو صنعت دی.

**براعت الاستهلال:** براعت په لغت کې غوره والي او لوړوالي ته وايي او استهلال د نوې مياشت ليدلو ته وايي. په اصطلاح کې د يوه کتاب،مقالې، يا نظم په سرکې داسې جمله،جملې، يا بيت راوړل چې د ورپسې موضوع نچوړپه کې په پوره ايجاز سره راغلی وي او نور کتاب دهغه تفصيل او تفسير وي او يا هغه څه چې وروسته تر هغه راوړل کېږي

ورسره تناسب او اړیکې ولري نوموړي صنعت ته براعت الاستهلال وایي د قرآن کریم په پیل کې د فاتحې سورت د براعت الاستهلال په ډول راغلی دی. (۸ - ۱۴۶)

سورګل خزان د بې اتفاقۍ تر سرلیک لاندې چې یوه لنډه نظم شوې کیسه هم ده لیکي

هسې وایي په یوځای کې وو دوه وورونه
په هر کار کې به یو لاس یو موټي وو نه

شاعر د دوه ورونو د یولاس او یو موټي کیدو(اتفاق) په اړه شپیته بیته نور لاندې تفصیل او تفسیر ور کوي داچې په لومړي بیت کې اصلي موضوع شروع شوې او وروسته یې تفسیر راغلی دی نو په همدې اساس دې ډول صنعت ته براعت الاستهلال ویل کیږي چې شاعر په خپل کلام کې ډېر په زړه پورې تشریح کړی دی. یوه لنډه نظم شوې کیسه ده چې شاعر په ډېر ښه انداز کې نظم کړې ده.

د شاعر شعر له هنر څخه خالي نه دی خوږ،سلیس روان او په هنري انداز کې یې د زړه آواز دقلم پواسطه په کرښو وړاندې کړی دی.

## د سورګل خزان د شعر محتوایي اړخ

محتوا په لیکنه هغه پروت فکر، احساس، درک،نتیجه او په اصل کې پیغام دی چې لیکوال یې د خپلو لیدنو،کتنو او څېړنو په پایله کې او یاهم د خپل لیدلوري له مخې غواړي نورو ته و رسوي الفاظ پرمحتوا ولاړ دي یا محتوا په اصل کې د الفاظو روح ده چې الفاظ پرې حرکت پیدا کوي.

علم ګل سحر چې په سوځیدلې ګلځانګې (شعري ټولګې) باندې یې سریزه لیکلې په یو ځای کې داسې لیکي: ((هغه شعرونه چې د خزان صاحب په دې ټولګه کې راغلي دي په زړه پورې او خوندور شعرونه دي شعرونه یې دپښتو شعر د کلاسیکې دورې څخه په الهام له پند او نصیحت څخه ډک شعرونه دي او په ټولنیز سمون کې ښه نقش لرلی شي. دخزان صاحب د شعرونو بله ځانګړنه داده چې ځینې له پنده ډکې کیسې یې په نظم اړولي دي او د شعر په خوږه ژبه یې تر موږ را رسولي دي د ده شعر تمثیلي ارزښت هم لري.)) (۳ – ز)

ښاغلی سید اصغر ارمل هاشمي په خپل شعر پوهنه کې دشاعرۍ دفن په اړه د ښاغلي سید رسول رسا له قوله داسې لیکي: ((دشاعرۍ د فن په اړه ځینې خلک وایي، شاعري یو بې کاره او بې مقصده کاردی خو په حقیقت کې داسې نه ده شاعري د انسان د ژوند په هر اړخ کې تاثیر لري او دشاعرۍ تاثیر په انساني جذباتو غالب وي.)) (۹ - ٦۹)

خزان صاحب د وطن او د وطن د خلکو به درد درمند او په خوشحالی يې خوشحاله دی ملي احساس لري او خپل ملي احساس پالي خزان صاحب ځينې کيسې هم په نظم اړولې دي چې دپند او نصيحت څخه مال لامال دي. شعرونوکې يې تعليمي او تربيتي موخې هم نغښتل شوې دي تعليم ته ترجيح ور کوي او بېسوادي غندي او د تاريکی سبب يې ګڼې.خزان صاحب په خپل هيواد کې يې له جاري حالاتو او تحولاتو څخه بې اغيزې نه دی پاتې شوی او په اړه يې خپل احساس اظهار کړی دی.

**عشق: د** خزان صاحب په شعر کې حقيقي او مجازي عشق شته او سوزولی يې دی. د عشق په پله يې پل ايښی د ده مينه پاکه او سپېڅلې ده که څه هم دشعر ډېره برخه يې د وطن مينه، پند او نصيحت او داسې نورو برخو ته ځانګړې شوې ده خو عشق هم لکه د يوعاشق په څېر پالي.

د عشق په اړه خواجه محمد سائل په خپل اثر د عبدالحميد بابا ژوند او شاعري کې د ښاغلي سيد انورالحق کاکاخيل له قوله داسې ليکي: ((عشق په اصطلاح کې هغه د حد نه وتلې مينې يا تقاضا ته وايي چې يو بنيادم يې د چاسره يا دچا دپاره لري.)) (۵ - ۱۲۱) خزان ليکي

نن چې دې په زلفو کې کتار ګلونه ايښي دي
بيا دې ساده زړونو ته د ښکار دامونه ايښي دي
جوړ به ورنه ډېر د لېونيانو کفنونه شي
پاس چې دې پر سربانډې ګلنار شالونه ايښي دي
(۳ – ۱٦)

**ملي وحدت او ملي احساس:** د خزان صاحب له شعرونو ښکاري چې ده پوره ملي احساس درلوده او يو ملي شاعر وه. د ده ځينې شعرونه مونږ او تاسې ته په دې برخه کې د يو قوي سند په توګه راپاتې دي چې د ده د ملي احساس ښکارندويي کوي.خزان صاحب د ملي وحدت ترعنوان لاندې داسې ليکي

زه دخلکو زړونو کې مينه انساني غواړم
خپلو وطنوالو ته وينه افغاني غواړم
نه وينم الفت په چاکې زړونه ساړه شوي
داسړه سپېره فضا ګرمه نوراني غواړم
بس ده تربګني نوره کرکه بدبيني نوره
غواړمه ملي وحدت ورکه ځانځاني غواړم(۳ -۵۲).

بل ځای بیا داسې لیکي

په سرو لمبو کې سوزي ښایسته افغانستان
کابل تورې ایرې شو دود یې جګ شو تر آسمان
ماتم دی کاپیسا کې،تورتم دی پکتیا کې
باران دی د سکر وټو چې وریږي په پروان
هلاک شول په جګړوکې. مخلوق په کنړوکې
ننګرهار تور لوغړن شو،سخته ورځ ده په لغمان کې
هرات کې جوړ ناتار دی،بد حال په کندهار دی
کندز شو دړې وړې، کنډوالې شو بغلان
په غور باندې ستم دی،غزني اخته په غم دی
لوګر زرې زرې شو، لوټې لوټې شو(میدان)
(۳ - ۱۳).

دا او دې ته ورته نور ډېر داسې بیتونه او شعرونه یې شته چې د دې ښکارندويي کوي چې سورګل خزان د يو ملي احساس در لودونکی شاعر وه او په دې وطن او د دې وطن د خلکو په درد دردمن او په خوشحالی یې خوشحاله دی.

**پند او نصیحت:** خزان صاحب د خپلو شعرونو ډېره برخه پند او نصیحت ته وقف کړې ده اګر که په شعر او شاعری کې یې نورې ډېرې برخې هم راغلې دي د دې شاعر کومه شعري ټولګه چې چاپ شوې ده یوه برخه یې نظم کړل شوې لنډې کیسې دي چې په واقعیت کې د پند او نصیحت څخه مالامال دي او ښکلي پیغامونه په کې نغښتل شوي دي.

خزان صاحب لیکي:

راوستلی چې اغیارو دی بېلتون
خود به ګرځو سرګردانه جګر خون

نوره بس ده ځانځاني څه ترې جوړ نه شول
اوس په کار دی د دوه زړونو پیوستون
(۳ - ۵۳).

د شاعر پورتنی شعر د پند او نصیحت ځانګړنې لري دی په خپل شعر کې چې مکمل راوړل یې دلته د یوې مقالې په صفت ناشوني دي نصیحت کوي او وايي چې له واقعیاتو څخه باید افغانان عبرت واخلي ځانځاني بس ده او اوس په کارده چې دوه زړونه

سره پیوند کړو ترڅو وکولی شو خپل اصلي هدف ته پرې ورسېږو.

**مذهبي اړخ:** دین او مذهب د خزان صاحب د شعرونو یوه بله لویه محتوایي برخه جوړوي. ده په خپلو شعرونو کې دخپل دین، مذهب او امت په اړه په واضح او څرګند ډول وایي چې زما دین اسلام په امت د محد رسولله (ص) او په مذهب د امام ابوحنیفه (رح) یم.

که څه هم په قام پښتون یم، په ملت یمه افغان
امتي د محمد(ص) یم،په مذهب کې دنعمان

بل ځای بیا داسې لیکي

عجیبه مې عقیده ده، عجیبه مې دی ایمان
په یو لاس کې مې پیاله ده، په بل لاس کې مې قرآن
کله ناست یم په کعبه کې، کله پروت په بتخانه کې
نه مطلق یمه بې دینه، نه کامله مسلمان
کله سم مستقیم ځمه، کله کوږ له لارې شمه
نه پوره یمه بې لارې، نه پر سمه لار روان
(۳ – ۳۳).

د خزان صاحب د شعرونو یوه برخه تصوفي شعرونه دي چې تصوفي موضوعات را نغاړي د عقیدې تر سرلیک لاندې مکمل یو شعر یې ویلی دی او دا ورځخه ښکاري چې باید د یو کامل مسلمان عقیده څنګه باید اوسي او څنګه د خپل ژوند مدار و تاکي او انسان د څه لپاره پیداشوی باید په اصلي مقصد باندې څنګه باید ځان پوه کړي.

**غم او اندوه:** که څه هم غم مختلفې خواوې لري او د خزان صاحب څه ناڅه شعرونه د غم او اندوه خوا لري چې کله په یو څه او کله په بل څه خپل غم او اندوه ښکاره کوي خو خزان صاحب د (غم د پاسه غم) تر سرلیک لاندې یو مکمل شعر لري:

ناست یم په لمبو کې سر تریایه مې اورونه دي
لار دتیښتې نه شته شا او خواته مې انګارونه دي
ورځ په ورځ زیاتیږي، لږ څه نه راځي کمی په کې
غم د پاسه غم دی، د غمونو انبارونه دي
نې چېرته درمل شته نې امید د رغیدو لرم
روغ ځای پا تې نه دی په ځیګر مې ډېر داغونه دي(۳ - ۶۵).

خزان صاحب د ژوند مختلفو برخو دردولی دی لکه چې انسان پیدادی غم او خوشحالي دواړه برخې په خپل ژوند کې لري. د یو لیکوال خبره ژوند ټول تراژیدي دی نو په دې اساس خزان صاحب هم کله د وطن مینې کله د ژوند یو اړخ او کله بل اړخ دردولی دی. د ده له شعرونو څخه له ورایه ښکاري چې دی د مسلمان،انسان،وطن، قوم قبیل په درد درد مند او په خوشحالۍ یې خوشحاله دی.

**د وطن مینه:** خزان صاحب د خپل وطن سره بې سارې مینه لري دشعرونو ډېره برخه یې هم همداسې موضوعاتو ته ځانګړې شوې ده لکه چې وایي وطن مورده خو خزان صاحب د وطن لپاره له سر او ماله تېر دی او پروطن ځان قربانوي.

باور وکړه وطنه زه قسم درته کومه
په سرو وینو ګټلی استقلال به دې ساتمه
دا ستا له خوږ نامه سره مې مینه ده تړلې
په اور سوې ایرې به دې د سترګو رانجه کړمه
بنګړې په کې ماتېږي دا قاعده دیارانې ده
پرون که جګړو وران کړې نن دې بیا ودانومه

(۳ - ٦٦)

د وطن سوز ګداز لکه چې هر څوک زوروي په همدې اساس خزان صاحب هم د وطن سوز ګداز سوزولی او دردولی دی. خزان صاحب د وطن سره بې سارې مینه لري لکه چې له پورته بیت څخه یې په ډاګه ښکاري چې د وطن د آبادی او استقلال لپاره قسم کوي او د وطن نوم چې څومره خوږ لږي لکه د مور هومره مینه او محبت یې سره تړلی دی.

د خزان صاحب شعرونه که هر بیت یې مونږ او تاسې ولولو نو وبه ګورو چې د ژوند هر اړخ ته یې په پوره ځیرکۍ سره پام کړی او د ژوند هر اړخ یې په خپله شعرونوکې راوړی دی د خزان صاحب شعرونه مونږ او تاسې ته هغه پیغام رالېږدوي چې په واقعیت کې زمونږ او ستاسې د زړه غوټه پرې خلاصېږي. هر بیت او هره مصره یې د مختلفو پیغامونو در لودونکې ده.

## د سورګل خزان د شعر فورمونه

فورم ویل کېږي شکل ته شاعر د ژوند مختلف اړخونه را سپړي او بیا همدې مختلف اړخونو ته په کتو شاعر ورته مختلف شعري فورمونه لټوي. د ژوند ټیټ او لوړ مزلونه نه کېږي چې ټول په یو قالب واچول شي نو په همدې اساس شاعر هم مختلفو موضوعاتو ته په کتو دا موضوعات په بېلابېلو شعري فورمونو کې رانغاړي او بیا یې ټولنې ته وړاندې کوي. داچې سورګل خزان په کومو شعري فورمونو کې شاعري کړې دلته به پرې څېړنه وشي.

**غزل:** غزل په لغت کې له ښځو سره خبرې کول،د ځوانی ذکر کول،د عشق او مینې خبرې اورولو ته وایي او په اصطلاح کې د یوه وزن او یوې قافیې د شعرونو هغې ټولګې ته وایي چې دښکلا،عشق، دمعشوقې ستاینه،د طالب او مطلوب خبرې اترې،اخلاق او فلسفه، تصوف او دقلبي وارداتو بیان په کې وي. (۷ - ۵۷)

خزان صاحب ښکلی غزل ویونکی شاعر تېر شوی دی د ده غزلې دعشق او د معشوقې هغه خبرې بیانوي چې کولی شي دوه په دوه یو له بل سره په آزاد ډول ویلی او دزړه خواله کولی شي.

**خزان صاحب لیکي**

راځه آشنا چې جوړ کړو محفلونه دوه په دوه
په مینه مینه وکړو دیدنونه دوه په دوه
ساقي ته حاجت نه شته دوه په دوه به سره کېنو
راپورته به یو بل ته کړو جامونه دوه په دوه
(۳ - ۴۸).

خزان صاحب یو ښکلی غزل ویونکی شاعر هم تېر شوی دی د ده پورتنی غزل که ټول ولوستل شي نوبیا هلته لوستونکي ته معلومېږي چې خزان صاحب څومره په دې قالب کې لاس بری دی. د ده غزلې ټولې د غزل ځانګړنې لري.

**څلوریزه:** په دې شعري فورم کې څلور مصرې په هر بند کې راوړل کېږي. رباعي یا څلوریزه یو ډول نظم دی چې د دوو بیتونو او څلورمصرو څخه جوړه وي خزان صاحب په دې شعري قالب کې هم خپل زور ازمویلی دی.

که سینه کې ورته بل د مینې اورکړم
دیار سوړ بې سوزه زړه به ګرم نه شي
که د اوښکو پرځای توی کړم ورته وینې
داتور کاڼی د دریاب به نرم نه شي(۳ – ٦۸)

په رباعي کې زیاتره د پند،نصیحت او لارښوونې خبرې وي د غه ډول ملي شعري فورم په اولسي شاعرۍ کې ستره برخه لري. (۴ -۱۷۲)

**مثنوي:** داهغه ډول شعري فورم دی چې هر بیت یې په خپل منځ کې سره هم قافیه وي دبیتونو شمیر یې ثابت نه دی مثنوي په نظمي فورمونو کې تر ټولو آزاد او لوی شعري فورم دی. (۷ - ۵۲)

خزان صاحب لکه څنګه چې دی هم یو ولسي شاعر تېر شوی دی د سوزیدلې ګل ځانګې دویمه برخه یې منظومې کیسې دي چې دا منظومې کیسې اکثریت یې د مثنوي (دوه ایزې) په فورم کې را وړې دي. ډېرې خوږې،زړه راښکونکې او د پیغام څخه ډکې مثنویانې لري.

د موضوع له پلوه په دې فورم کې اوږدې کیسې، تاریخي پیښې، عشقي او حماسي داستانونه په خوږو الفاظو او هنري بڼه تر سیمېږي(۴ -۱۳۷). خزان صاحب لیکي

هسې وایي په یو ځای کې وو دوه ورونه
په هر کار کې به یو لاس یو موټی وونه
دواړه ورونه په یو کورکې اوسیدل
په یو زړه وو یوله بله ځاریدل
(۳-۱۱۰).

خزان صاحب لکه دا او دې ته ورته ډېرې په زړه پورې مثنوي لري چې دخپل ځان ستر ستر پیغامونه لېږدوي او د پند او نصیحت له رموزو څخه هم خالي نه دي ډېرې لرغونې کیسې یې په نظم اړولي چې په دې سره یې خلکو او لوستونکوته رسولې دي.

خزان صاحب د پورتنیو شعري فورمونو سربېره دمربع او داسې نورو شعري فورمونوکې هم شاعري کړې ده خواړه ولسي شعري فورموفونه یې انتخاب کړي او د خپل شعر او شاعرۍ دخیال وزرې یې په کې په پرکا راوستې دي.

**پایله**

خزان صاحب یو خوږ ژبی شاعر دی شاعري یې په بېلابېلو فورمونو کې ده او د محتوا له مخې بیلا بیل موضوعات په کې وړاندې شوي دي او شعر یې د هنریت له مخې ډېر لوړ او په زړه پورې دی.

خزان صاحب د پروان ولایت او د پروان ولایت څخه بیا د سیاگرد غوربند ولسوالی د خویشکو له لویې درې څخه د (تی خان) په درې پورې اړوند د کوز تی خان په کلي کې زېږیدلی دی.

د خزان صاحب د شعر ژبه ډېره خوږه،سلیسه او روانه ده هرڅوک پرې پوهیدلی شي، بېلابېل ټولنیز مسائل یې په خپل شعر کې راوړي چې دخپل زړه آواز یې تر خلکو او لوستونکو رسولی دی. دوطن سره مینه. عشق، ټولنیز موضوعات،تصوف او د پند او نصیحت څخه ډکې کیسې هغه موضوعات دي چې د ده دشعر مانۍ پرې رغیدلې ده.

د سورگل خزان یوه شعري ټولگه په ۱۳۸۹ل.ل.کال کې د افغانستان د قلم ټولنې لخوا د (سوځیدلې گلخانگې) تر نامه لاندې چاپ شوې ده. په دې شعري ټولگه کې د بیلابېلو عنوانونو تر سرلیک لاندې بېلابېل موضوعات بیان شوي دي. د (خودرویه گل) تر عنوان لاندې څېړندوی محمد نبي صلاحي پرې یوه لیکنه کړې چې د اثر ارزښت یې بیان کړی دی او همدارنگه دوه سریزې پرې لیکل شوي دي چې یوه یې د علم گل سحر لخوا او بله په خپله د لیکوال (سورگل خزان)لخوا لیکل شوې دي.

خزان صاحب په ۱۳۹۳ل.ل.کال لکه د خزان پاڼه ورژیده او خپل ژوند یې له لاسه ورکړ او د تل لپاره یې له دې فاني دنیا څخه سترگې پټې کړې او د تخنیکم په لوپه هدیره کې خاوروته وسپارل شو.

**مأخذونه**

۱- بخنتاني،عبدالله. (۱۳۹۱)، *پښتانه شعرا*، شپږم ټوک، د افغانستان د علومو اکاډمي.

۲- حقپال،محمداجان(۱۳۹۴). *بدیع پوهنه*. کابل پوهنتون.

۳- خزان، سورگل(۱۳۸۹). *سوځیدلې گلخانگې*. کابل: دافغانستان دقلم ټولنه.

۴- رفیق، محمدرفیق. (۱۳۹۷)،*ادبپوهنې بنسټونه*، کابل: سمون خپرندویه ټولنه.

۵- سائل، خواجه محمد. (۲۰۱۹)، *دعبدالحمید بابا فن او شخصیت*. پېښور: اعراف پبلشر قصه خوانی پېښور.

٦- شیرزاد، محمدآقا. (۱۳۹۵)،*ادبي فنون* (بدیع او بیان). جلال‌آباد: میهن خپرندویه ټولنه.

۷- میاخیل، پوهنوال ببرک. (۱۳۹۸)،*لیکوالي*، ننګرهار: ختیځ خپرندویه ټولنه.

۸- همکار، محمد ابراهیم. (۱۳۹۷)، *د بدیع فن او پښتو شاعري*، جلال‌آباد: همکار خپرندویه ټولنه.

۹- هاشمي، سید اصغر ارمل. (۱۳۹۲)، *شعرپوهنه*. ننګرهار: مومند خپرندویه ټولنه.

## Poetry of Surgul Khazan

Nasratullah Nasrat[۱]

**Abstract:** Surgul Khazan is a poet of Pashto language, son of Qasam Khan grand son of Rahmat Rahmat Khan, born on Tala ۱۵th ۱۳۱۰ Hijri Shamsi in the Taykhan valley of Kheshki aria of Siagard Ghurband district of Parwan province, and passed away on Marghumi ۱۸th ۱۳۹۳ H.S, buried in Takhnikum cemetery of Kabul province. He has not completed formal education; rather, his poetry were evident in his ability to read and write. He has learnt popular science from the scholars in the Masque. According to Khazan, he was very fond of poetry but started writing poetry at the last moment of his life. His language of the poem is very sweet, simple, colorfull, carry special message to his society. He uses metaphors, rare similes, allusion and other ingenious full of literary techniques. This fully indicates the maturity of his word. His poetry includes romantic, mystical and other social issues and values in content.

**Key words**: Surgul Khazan, Poetry, Figure of Speech.

---

۱ - Assis-Professor of Pashto Language and Literature at Parwan University

## The Relation of Situational Context and Semantics

Janbaz Jarar[۱]

**Abstract:** Language and meaning has a very close relationship in situational context, because each word gives its meaning according to its time and place, and it is difficult to transfer the meaning without the connection between its environment and foreign side of languages, because we have to understand that in its context. All side of a language is included in situational context, and all this allow us to understand the meaning. Even for understanding a meaning the history and current situation of word is important. Most of the word has clear mining to us when we know the context and if we do not that will be not clear. In this article I talked about the situational context and its different types.

**Keywords**: Communication, situational context and Parts of Context.

## Linguistic Researchs in Ancient Greek

Shah Mahmood Kadwal[۲]

**Abstract:** The ancient Greek civilization is one of the great civilizations of the world, which is a great circle in the series of civil developments. There have been useful discussions on different aspects of life. Even after hundreds of years, we are still under their influence and benefit from their work. Hundreds of years later, their work is the beginning and example of our current affairs and developments. They have either laid foundations or strengthened them in ethics, politics, science, language, literature and art. Language is one aspect of their research. Language exists since the beginning of the life of people and society. If we start the history of the citizen's life from any place and any date, then the language is also alive from that time. Language is a great and effective foundation of human development. All the major civilizations of the world were created by people who had language.

**Kewords**: Grammar, Languge, linguistics.

---

[۱] - Student of Master of Pashto Language and Literature at Kabdul University
[۲]- Professor of Pashto Language and Literature at Laghman University.

## Orbəlakəi a Science-Fiction Novel

Abdulhaq Salamzoy[١]

**Abstract:** Science-fiction is compound of science and fiction, it is a content genre. Its subject is science put in the form of story. Orbəlakəi, a Pashto science-fiction, novel written by Mohammad Asif Omar – a story of representatives' council of the world, which the entire world is controlled by them who now decided to sign the law, according to what no women can birth the baby but the machine do it instead and anyone who need any child will give his sperm to the machine; however, the team of eight want to stop the council members from signing the new law. The novel observed the rules of the genre. As well as, its content is based on *Novum* follows the systematic principles of making an invisible airplane which launch the operation to hostage the councilors.

**Keywords**:Fiction, Fantasy, science, science-fiction, Orbəlakəi

## What Is Linguistics

Mohammad Mustafa Samoon[٢]

**Abstract:** The current research of linguistics uses interdisciplinary methods with other sciences. The theoretical researches discuss the system and principles. Linguistics has close relations with other sciences, for instance, philosophy, logic, history, art, literature, sociology, psychology, anthr-opology, genealogy, neurology, physics, physiology, context research and so on. It is used in language learning, translation, lexicology and lexicographic. However, practical linguistic researches in relation to linguistics emerges new branches of linguistics as for as, psychology of language, socio-linguistics, neuro-linguistics, clinical linguistics, computational linguistics, mathematical ling-uistics, AI Linguistics, Judicial linguistics and many more. Generally, the linguist collects the data from articles, papers, books, reports, newspapers, internet and telephone communications - which may be writen or spoken, the daily used language, and graphical language. In current paper introduced domains and theories of linguistics and focused on its relations to other sciences.

**Keywords**: Discourse, semantics, pragmatics, phonology, functional, cognitive, transformational, structural.

---

١ - Student of Master of Pashto Language and Literature at Kabul University. Email: Abdulhaq.salamzoy@gmail.com, Contact #: +۹۳۷۹۸۹۰۸۵۸۲

٢ - Student of Master of Pashto Language and Literature at Kabul University. Email: Mustafa.samoon٢٤@gmail.com, Contact #: +٩٣٧٨١٣٦٢٦٠٠

## Derwish and Candle

Gul Rahman Rahmani[۱]

**Abstract:** Dervish Durrani is a contemporary Pashto poet, he is an innovative poet who has made a special place among his contemporaries and poets in his sonnets and poems. The Pashtun Ghazal of the Pashtun community has different parts of depth, artistic reflection, social criticism, disaster, pain, as a conclusion Pashtun is the beauty of his poetry in terms of form which is usually covered in four or five verses. The style of his poetry is so beautiful that it has a strong social image. Horse, sword, monster, mirror, city, beauty, informant, war, star, blood, injury and candle .... are components of his poetry which are used widely in his poetry. But this article focuses on the usage of candle or light in his poetry. The light or candle has been used with different meanings. The word candle has been studied with its various meanings as well as images in this article.

**Kewords**: Style, Poetical words, thought and imagination.

## A Review of Dayαb Dectionary

Azizullah Noorzai[۲]

**Abstruct:** Many dictionaries written in Pashto, but here we are only looking at the Daryaab dictionary, which has the large Data and use by the most people. Our review will only be for correction. Pashto lexicographers blessed to collect these materials. If these materials made in the light methodology, then we will bring great good to Pashto language. The dictionary headwords are not fix theory. Some word have one meaning, after the word have different meaning some word miss some meaning. It is mean the dictionary headwords need for updates. We discuss about the contemporary lexigraphy methodology, and this discuss about Daryaab dictionary.

**Keywords**: Head-word, Dectionary, Standard, synonym

---

۱- Asis-Professor of Pashto Language and Literature at Baghlan University.
۲- Lecturer of Pashto Language and Literature at Kabul University.

## Mythological Epic Arshak and Aoshas

Mohibullah Torabi[١]
Asadullah Waheedi[٢]

**Abstract:** poem is a beautiful artistic statement of learning national unity, bravery, getting independence and so on. This book has been published by Danish Publishing press in ٢٠١١. In this research we have discussed the epic and stylistic characteristics of this epic poem. In addition, we have defined the mythical elements of this epic as well. What is? Is Arshak and Aoshas an epic poem? These are the questions that have been answered in this research. We have answered these questions by using library type and descriptive method of a research.

**Keywords**: Mythological epic, specialities of epic, methological instance.

## Language Policy

Shafiqullah Amirzay[٣]

**Abstract**: Language policy has become an important issue for nations and governments in the world today. Many countries have clear policies about their language and want to strengthen their languages by this policies. The only purpose behind this is not that they strengthen their languages, but they hope to gain an identity by that in international level. Also, the nations are trying to save their languages from disappearing, because language is not only a means of communication but it has become the identity of the nations and everyone wants to be recognized on the international stage with their identity.

Discussions about language policies in Afghanistan have so far been weak and not done as needed. In addition, the governments have not made clear and strong policies to promote languages and save languages from extinction. Language policy is a Interdisciplinary academic topic and I have briefly discussed this topic in this article, which needs more discussions to be complete.

**Kewords:** Government and Language, policies of language promoting, language, language policy.

---

[١]- Asis-Professor of Pashto Language and Literature at Kabul University
[٢]- Asis-Professor of Pashto Language and Literature at Kabul University
[٣]- Lecturer of Pashto Language and Literature at Kabul University
Email: amirzayshafiq@gmail.com, amirzayshafiq@ku.edu.af

## Futurism

Ajmal Khkalay[١]

**Abstract:** Futurism is a literary school, which means the future. This school originated in Italy; But in France in ١٩٠٩, it was recognized by the publication of the statement in Figaro newspaper. Its founder is Amello Filippo Thomas Marinetti, whose followers believe that the future art and literature of mankind is based on the principles of this school. Futurism gave priority to the new and modern life instead of emotions and excitement in poetry, which is praised by the blessing of science. This school did not live for many decades; However, it was recorded in the history of literary schools that some poets had followed it.

**Keywords**: Futurism, futurist, literature

## Equivalencyce of Words in Source and Target Languages in Translation

Asadullah Waheedi[٢], Abdul Sami Wahdat[٣]

**Abstract:** In translation, the principle of equivalence is still significant, one principle of that is, equivalence of words. Linguistic elements and especially words cannot carry the meaning, but are related to the culture, values, experiences and environment of a language. Therefore, words equivalence in translation is complicated. Words have not exact meaning, sometimes it conveys the primary meaning, sometimes its meaning implicates, and in order with other words change their meaning. Sometimes the same word has opposite meanings in two places. So, understanding of the such meanings are important for the translator to find an alternative in the target language. In word equivalence, it is not necessary to find one exact word in the target language for the word of source language, but the important point is the understanding of role and meaning values of words which in the source language, that the word of target language must have. Accordingly, sometimes a word of the source language becomes several words in the target language, sometimes a sentence or sentences and even long descriptions. Sometimes the translator needs borrowing the word of the source language and sometimes needs explaining this borrowed word. It also happens that a word of the source language is equivalent to a word of the target language, but needs to add an adverb or another word. Accordingly, the translator should understand all these nuances and use them for a better translation.

**Keywords**: equivalence, natural equivalence, mono equivalence

---

[١]- Professor of Pashto Language and Literature at Kabul University
Email: khkalay.ajmal٢@gmail.com
[٢]- Asis-Professor of Pashto Language and Literature at Kabul University
[٣]- Asis-Professor of Pashto Language and Literature at Kabul University

**Abstracts of Articles in This Issue**

Futurism/Ajmal Khkalay\۱۳٦

Equivalencyce of Words in Source and Target Languages in Translation/Asadullah Waheedi, Abdul Sami Wahdat\۱۳٦

Mythological Epic Arshak and Aoshas/ Mohebullah Torabi, Asadullah Waheedi\۱۳۵

Language Policy/ Shafiqullah Amirzay\۱۳۵

Derwish and Candle/ Gul Rahman Rahmani\۱۳۴

A Review of Dayɑb Dectionary/ Ezatullah Noorzai\۱۳۴

Orbəlakəi a Science-Fiction Novel/ Abdulhaq Salamzoy\۱۳۳

What Is Linguistics/ Mohammad Mustafa Samoon\۱۳۳

Linguistic Researchs in Ancient Greek/ Shah Mohammad Kadwal\۱۳۲

The Relation of Situational Context and Semantics/ Janbaz Jarar\۱۳۲

Poetry of Surgul Khazan/ Nasratullah Nasrat\۱۳۱